بسم الله الرحمن الرحيم

# نوي څېړنه

**د خراسان پوهنتون علمي، څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه**

**۱۴۰۱ ل کال لومړۍ ګڼه، وری- وږی، پرلهپسې (۱) ګڼه**

## الهي لارښوونې

**يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ** (المجادله: ١١)

**له تاسې نه چې کوم کسان ايمان لرونکي دي او کومو کسانو ته چې علم ور کړ شوی دی، الله جل‌جلاله به هغو ته لوړې درجې په برخه کړي.** (تفهيم القران)

## نبوي ملغلرې

**عَنْ عُثْمَانَ رَضِي اللَّه عَنْه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ** (بخاري و مسلم)

**له عثمان رضي‌الله‌عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی‌الله‌عليه‌وسلم فرمايي: په تاسو کې غوره هغه څوک، چې قرآن زده کړي او نورو ته يې وښيي.**

د امتیاز خاوند
خراسان پوهنتون

مسؤل مدیر
پوهاند جانس زړن

سردبیر
پوهنوال دکتور غلام نبي بلوخ

## کتنپلاوی


- پوهاند دکتور عبیدالله شینواری
- پوهاند دکتور نقیب الله ثاقب
- پوهاند جانس زړن
- پوهاند محمد بشیر دودیال
- پوهنوال دکتور غلام نبي بلوخ
- پوهنوال معروف شاه شینواری
- دکتور محبوب الله


پته: خراسان پوهنتون، د نوي څېړني علمي مجلې دفتر، دریيمه ناحیه، جلال آباد- افغانستان.
www.khurasan.edu.af
info@khurasan.edu.af
0093784901901-0093783707172

# لیکلړ


۱. د خراسان پوهنتون د رئیس پیغام ۱ مخ

۲. په ننگرهار ولایت کې د غیر دولتي اداراتو د کارکوونکو پر ژمنتیا د فکري ځیرکتیا اغېزه ۳ مخ

حبیب الرحمن ابراهیم خیل

۳. د پلټونکې خبریالۍ هدف او عامو خلکو، رسنۍ، خبریال او حکومت ته یې گټې ۱۴مخ

فرهاد شینواری

۴. د جنوبي اسیا په هېوادونو کې د کوید-۱۹ وبا د ټولنیزو او اقتصادي اغېزو څېړنه ۲۶ مخ

سید سجاد علي شاه

۵.د ننگرهار ولایت د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسساتو پر اجرااتو....... ۴۳مخ

نصرت الله عبید

۶. د ژوند په چارو کې د اقتصاد اهمیت ۵۷ مخ

محمد انوارالدین شرفزی

۷. د پېرېدونکو پر چلند د ټولنیزو رسنیو اغېزه ۷۹ مخ

سیدال خان

۸ . د سازمان پر پراختیا د مشرانو غړو اغېزې ۱۳۱مخ

امان الله شېرزی

## د نوې څېړنې علمي مجلې د چاپ په مناسبت د خراسان پوهنتون د رئیس پیغام!

د خوښۍ ځای دی، چې خراسان پوهنتون د خپل نشراتي ارګان (نوې څېړنه) د رسمي مجوز د اخیستلو پروسې د طی کولو وروسته دا دی د هغې لومړۍ ګڼه په خورا ښه محتوا او فورم د علم او هنر مینه والو ته وړاندې کوي. نوې څېړنه لکه چې د نوم څخه یې معلومېږي، د استادانو، متخصصینو، محققینو او محصلانو څېړنیز اثار چې د ټولنیزو علومو په مختلفو ساحو کې د هغوی له خوا سرته رسېدلي، خپروي او بېرته یې د همدوی د استفادې او ګټې اخیستنې په موخه عرضه کوي.

تحقیق او څېړنه که د یوې خوا د علم او تخنیک په انکشاف او تکامل کې خپل رول او نقش لري، د بلې خوا د ټولنې او ولسونو انکشاف او تکامل هم د تحقیق او څېړنو د پایلو او نتایجو څخه د استفادې په امکاناتو پورې مربوط او منوط دی. د شلمې پېړۍ په وروستیو او د یوویشتمې پېړۍ په لومړیو کې دا پروسه دومره سریع او چټکه شوه، چې تقریباً د ژوند ټولې خواوې یې احتواء او لا په سرعت سره پر مخ ځي. تحقیق او څېړنه ده، چې بشر یې په دې قادر کړ، تر څو ځینې طبیعي پټ اسرار کشف او د خپل کنترول لاندې راولي. خو د داسې سترې او عظیمې محرکې نیرو مرکز او هسته بیا هم هماغه پوهنتونونه او څېړنیز مراکز دي، چې علمي کادرونه په کې په تدریس او تحقیق بوخت او ورځ تر بلې په خپلو تتبعاتو او نواوریو سره ټولنه او اقتصاد د ترقۍ او تعالۍ عالي مدارجو ته رسوي او د بشري ژوند بڼې او شکل ته تغیر ورکوي.

د علمي تحقیقاتو او څېړنو د همدې اهمیت او ضرورت پر بناء و، چې خراسان پوهنتون د خپل علمي کادر د څېړنیزو اثارو د نشرولو او خپرولو په منظور د خپل نشراتي ارګان د رسمي جواز په لاس ته راوړو سره دا تشه ډکه او خپل استادان، محققین او محصلان یې د هغوی د علمي لاسته راوړنو د چاپ و نشر له نګاه څخه ډاډمن او مطمین کړل. اوس نو دا نه یوازې د خراسان پوهنتون، بلکې د هر بل دولتي او خصوصي تحصیلي او تحقیقي نهاد په استادانو، څېړونکو او متخصصینو پورې اړه لري، چې څومره د دې علمي خپرونې د کیفیت او څرنګوالي د ښه والي او غناء لپاره کار کوي او د ټولنې او د خپلو خلکو پر وړاندې خپل مسؤلیت او رسالت ترسره کوي.

نوې څېړنه، چې په هرو شپږو میاشتو یو ځل یا په کال کې دوه ځلې د خراسان پوهنتون له خوا په چاپ او نشر رسېږي، د خپل معیاري او ستندرد کتنپلاوي لرونکې ده، چې منظوري يې د لوړو زده کړو محترم وزارت له خوا ورکړل شوې ده. دا علمي مجله که څه هم په یو خصوصي تحصیلي نهاد پورې اړه لري، ولې په هغې

کې د هېواد د ټولو دولتي او خصوصي تحصیلي نهادونو استادان، محققان، متخصصین او محصلان کولای شي خپلې علمي لاسته راوړنې نشر او اهل مسلک ته يې ارایه کړي. مونږ کوښښ کوو، چې په نوې څېړنه کې د علمي معیارونو مطابق داسې علمي مسایل نشر او خپاره کړو، چې د علم او پوهې په انکشاف او توسعه کې خپل سهم او ونډه اداء او د هېواد، سیمې او نړۍ د حالاتو په پام کې نیولو سره نوي، اپډیټ او تازه موضوعات او مسایل د نتیجو او نتیجه گیریو سره یو ځای د متشبثینو، کاروباریانو او اهل مسلک لپاره وړاندې کړي.

و من الله توفیق

دوکتور احمد طارق کمال

د خراسان پوهنتون رئیس

**حبیب الرحمن ابراهیم خیل**
**اقتصاد پوهنځی- اداري او تجارت څانګه**

# په ننګرهار ولایت کې د غیر دولتي اداراتو د کارکوونکو پر ژمنتیا د فکري ځیرکتیا اغېزه

**لنډیز**

**دا چې عاطفي ځیرکتیا په اداري بخش کې یوه نوې موضوع او په اداره او مدیریت برخه کې د غوره کیفیت درلودونکې ده، نو د دې تحقیقي مقالې هدف په ننګرهار ولایت کې د غیر دولتي موسساتو د کارمندانو د ژمنتیا پر بحث راڅرخي. د مجموعي موسساتو څخه په تصادفي او سوال پاڼو د جواب په نتیجه کې د انتخاب شویو ۱۹۳ مراکزو څخه معلومات راغونډ شوي او ورڅخه ګټه پورته شوې ده.**

**د عاطفي ځیرکتیا اغېزه د کارمندانو د ژمنتیا معلومولو لپاره د احصایوي تحلیلي مټرکس او ریګریشن څخه کار اخیستل شوی او دا په ګوته کوي، چې د افغانستان ـ ننګرهار ولایت په غیر دولتي سازمانونو کې عاطفي ځیرکتیا په مستقیمه بڼه د کارمندانو پر ژمنتیا اغېزه لري. په احصایوي بڼه د کارمندانو د کاري ژمنتیا او عاطفي ځیرکتیا تر منځ قوي او مثبت (۷۳,٦٪) اړیکه په داسې حال کې شتون لري، چې پایله یې په ۰,۰۱٪ کې خورا زیاته ده. برعلاوه ریګریشن د تحلیل میتود وښودله، چې په ټولیز ډول سره د کارمندانو په ژمنتیا کې د تفاوت اندازه ۵۴,۲٪ ده، چې د عاطفي ځیرکتیا له پلوه اغېزمنه شوې ده. په داسې حال کې، چې د متحولونو او د تحقیق اندازې ته په کتو سره د کارمندانو په ژمنتیا کې د تفاوت اندازه ۵۳,۹٪ ده، چې اصلي لامل یې عاطفي ځیرکتیا ده او باقي ۴٦,۱٪ د هغه نورو عواملو پایله ده، چې په افغانستان ـ ننګرهار کې د غیر دولتي اداراتو د کارمندانو ژمنتیا د اغېزې لاندې راولي.**

**د دې تر څنګ د F د قیمت تعین شوې اندازه د ANOVA د جدول له مخې په داسې حال کې لوړه ده، چې د F تعین شوې اندازه د ښه فیټنس موډل په واسطه اندازه شوې وه او د موډل اهمیت اندازه ۰,۰۱ درجه کې قرار لري. خلاصه عاطفي ځیرکتیا د افغانستان ، ننګرهارپه غیر دولتي اداراتو کې یو د اصلي لاملونو څخه شمېرل کېږي، چې د کارمندانو ژمنتیا تر اغېزې لاندې راولي او غیر دولتي ادارات پام دې**

موضوع ته راړووو، چې د عاطفي ځیرکتیا ته باید د کارمندانو د ښه کارکرده ګۍ په برخه کې خاصه توجه وکړي.

کلیدي کلمې: عاطفي ځیرکتیا، کارمندانو ژمنتیا، غیر دولتي اداري، ننګرهار.

سریزه

عاطفي ځیرکتیا څخه هدف په خپل ځان او نورو کې د هغو ظرفیتونو پېژندل او تنظیمول دي، چې احساسات اداره کوي او ددغه معلوماتو څخه د یو کس فکر او کړنې رهبري کړو ( Mayer, Salvey, & Carus, 1998). ګولیمن (۱۹۹۸) عاطفي ځیرکتیا په اړه وایي، چې عاطفي ځیرکتیا د احساساتو داسې اداره کولو ته وایي، چې په درسته او اغېزمنه توګه اظهار کړای شي او خلکو ته ددې زمینه سازي کوي، چې د خپل هدف د ترلاسه کولو لپاره کار وکړي. د ګولمین له نظره هغه څلور اساسي مهارتونه، چې عاطفي ځیرکتیا تشکیلوي عبارت دي له ځان پېژندنه، ځان مدیریت، ټولنیزه اګاهي او د اړیکو مدیریت.

د مایور، سولوی او کارسو (۱۹۹۹) له نظره عاطفي ځیرکتیا په درسته توګه پر درک، تشویق او د احساساتو اظهار په درسته توګه ده؛ د احساساتو او احساساتو د علم په اړه د پوهې توانایي، هغه توانایي، چې په هغه کې احساساتو څخه په هغه ځای کې ګټه پورته شي، چېرته چې ورته مناسبه اړتیا ولیدل شي او هغه توانایي، چې په هغه کې د خپل ځان او نورو خلکو احساسات تنظیم کړای شو.

داسې ګومان کېږي هغه کسان، چې د عاطفي ځیرکتیا درک لر ي، د عادي افرادو څخه، چې عادي وي مختلفه رویه لري ( Palmer & Jansen, 2004).

نو د یو شخص لپاره اسانه ده، چې په داسې شکل سره خپل کاري او عادي ژوند په اغېزمنه توګه تنظیم کړي ( Jaarsveld, 2003). د عاطفي ځیرکتیا له نظره هغه منفي عادتونه، باور او خواص، چې مونږ یې لرو په هغه کارونو کې، چې باید کړي مو وای، اما نه یې کوو مداخله کوي. دا چې عاطفي ځیرکتیا مونږ د کارمندانو د ژمنتیا سره داسې وصلوو، چې د اداراتو د پرمختګ لپاره یو ښه بدیل ګڼل کېږي او د بهبود لامل یې ګرځي.

هغه اصلي هدف، چې باید ترلاسه شي، د کارمندانو عاطفي ځیرکتیا ته وده ورکول دي، چې د اداراتو کړنې ښې کوي. دا چې غیر دولتي ادارات د یو هېواد په اقتصاد او پرمختګ کې خورا مهم رول لوبوي، د عاطفي ځیرکتیا اغېزه د کارمندانو په ژمنتیا باندې سترګې نه شو پټولی.

په اخر کې د عاطفي ځیرکتیا په اړه په نړیواله کچه خورا زیات تحقیقات شوي دي. عاطفي ځیرکتیا د کارمندانو ژمنتیا په مثبته توګه په نړیواله کچه اغېزمنه کړې ده. یوه څېړنه، چې د ولمورګان او ضفر له خوا په کال ۲۰۱۰م کې عاطفي ځیرکتیا اغېزه د هوټل په منیجرانو د ټریچیسیټې په تمالندو کې ترسره شوې ده، ښایي چې عاطفي ځیرکتیا په اداري ژمنتیا باندې اغېزه لري. د یو سلسله مطالعاتو په نتیجه کې دا ثابته شوې ده، چې عاطفي ځیرکتیا د یو داسې خاص قدرت درلودونکې ده، چې کولای شي اکاډمیک فعالیت اټکل او د ټولنیزو اړیکو کیفیت سره اړیکه لري.

څېړنې ښایي، چې احساسات، هیجان او شوق کولای شي د کارمندانو کارکرده ګۍ ته بهبود ورکړي. کارمندان اړباسي، تر څو خپلې دندې په خپل وخت تکمیل او د ادارې سره مرسته وکړي. برعکس منفي احساسات لکه تشویش کولای شي د کارمندانو د کار کولو توانایۍ باندې تمرکز زیات شي ( Song, 2010). په همدې لحاظ دغه څېړنه د کارمندانو په ژمنتیا باندې د ایموشنل اینټلجن له پلوه اغېزه په غیر دولتي اداراتو کې په افغانستان ـ ننګرهار کې د ومطالعي لاندې نیسي.

موخې

ددې څېړنې د ترسراوي موخه د ننګرهار ولایت په غیر دولتي ادارو کې د فکري ځیرکتیا اغېزه د کارکوونکو په ژمنتیا باندې څېړل دي.

د څېړنې میتودولوژي

دا چې وکړای شو، د څېړنې په اخر کې د څېړنې اهداف لاسته راوړو، لاندې ټکي باید د څېړنې د میتودولوژي لپاره په پام کې ونیول شي. دغه څېړنه په افغانستان ـ ننګرهار ولایت کې د عاطفي ځیرکتیا اغېزې د کارمندانو پر ژمنتیا مطالعه کوي او په تشریحي بڼه ترسره شوې ده. په داسې حال کې، چې همدغه موضوع په مختلفوهېوادونو کې د مختلفو اړخونو څخه څېړل شوې ده. که تېرو ترسره شویو

تشریحي څېړنو ته نظر وکړو، په ډېرو څېړنو کې د سروې د څېړنیزې ستراتېژۍ څخه کار اخیستل شوی دی. په همدې منظور د څېړنې د ترسره کولو لپاره د سروې څېړنیزه ستراتېژي هدف ته د رسېدلو لپاره تعقیب شوې ده.

دا چې مخکې هم ذکر شو، دغه څېړنه په افغانستان ـ ننګرهار ولایت کې په غیر دولتي سکتور ترسره شوي، په همدې منظور غیر دولتي کارمندان د همدې څېړنې موضوع ده. د یو سلسله مطالعاتو او څېړنو په ترڅ کې، چې په تېرو وختونو کې د خراسان پوهنتون د محصلینو له لوري د افغانستان ـ ننګرهار ولایت-په غیر دولتي سکتور ترسره شوي، ښایي چې د مدیریت په سطحه د افرادو تعداد ۴۲۴ کسه دي او همدغه تعداد د دې څېړنې موضوع ده. د ریسرچ د ترسره کولو او هدف ته د رسېدلو لپاره افغانستان د ننګرهار ولایت د غیر دولتي سکتور مشران او په رائس کې خلکو څخه ۵۰٪ ، چې ۲۱۲ کسه کېږي، د اخیستل شوې نمونې اندازه ده.

د احتمالاتو د اصولو پر بنیاد ۵۰٪ د ۴۲۴ کسانو څخه، چې ۲۱۲ نفره کېږي انتخاب او اړتیا لیدل کېده، چې باید په تصادفي بڼه یې انتخاب شوی وی. د ۲۱۲ سوال پاڼو څخه، چې توزیع شوې وې، ۱۹۳ یې ډکې واپس شوي او څېړنه په همدغه ۱۹۳ کسانو د سوال پاڼو پر اساس ترسره شوې ده. دا چې مخکې ذکر شو، چې د څېړنې د ترسره کولو لپاره د سروې څېړنیز میتود څخه استفاده شوې ده، په همدې اساس سوال پاڼې د همدې څېړنې د ترسره کېدو وسیله ده. د سوال پاڼو انتخاب نظر مرکې او نظارت ته اسانه او ارزانه دي. په دې څېړنه کې اهدافو ته په کتو سره لازم تحلیل تشریحي ارقام، د کورلیشن مټریکس او ریګریشن تحلیل دی، چې باید کار ترې واخیستل شي. تشریحي ارقام د اعدادو اعظمي، اصغري، میانه او سټنډرډ ډیویشن د توزیع لپاره اړین بلل کېږي. کورلیشن میټریک د

څېړنې د متحولینو تر منځ اړیکه څېړلې ده. د ریګریشن تحلیل د خپلواکو متحولینو اغېزه په ناخپلواک متحولینو څېړلې ده. هغه معادله، چې ریګریشن لپاره استعمال شوې ده په لاندې ډول ده:

EC= a+b1 EI+ eس

EC = د کارمندانو ژمنتیا

EI = عاطفي ځیرکتیا

A = د معادلې ثابت

B = د اغېزې ضريب

د څېړنې موندنې

**Correlations**

| | | Emotional_ Intelligence | Employees_ Commitment |
|---|---|---|---|
| Emotional_Intelligence | Pearson Correlation | 1 | .736** |
| | Sig. (2-tailed) | | .000 |
| | N | 193 | 193 |
| Employees_Commitment | Pearson Correlation | .736** | 1 |
| | Sig. (2-tailed) | .000 | |
| | N | 193 | 193 |

**. Correlation is significant at the 0.01 level (2-tailed).

د کوریلیشن میټریکس وښودله، چې د کارمندانو د ژمنتیا او عاطفي ځیرکتیا تر منځ قوي ( ٪۷۳,۱) اړیکه د ۰,۰۱ اطمینان درجې په لرلو سره شتون لري. او یا د عاطفي ځیرکتیا او کارمندانو د ژمنتیا تر منځ قوي ارتباط موجود دی، چې پایلې ته یې ۹۹٪ د اطمینان درجه اهمیت وربخښي.

**Model Summary**

| Model | R | R Square | Adjusted R Square | Std. Error of the Estimate |
|---|---|---|---|---|
| 1 | .736a | .542 | .539 | .55065 |

a. Predictors: (Constant), Emotional_Intelligence

د R2 له مخې د دې ټول تشریحي ریګریشن موډل قدرت ۱/۰,۵۴۲ دی – د ۱۰۰٪ څخه ۵۴,۲٪ دی. دا په دې معنی ده، چې د عاطفي ځیرکتیا له اړخه توضیح شوي د کارمندانو ژمنتیا ۵۴,۲٪ ده. په داسې

حال کې، چې د راټول شویو معلوماتو او د څېړنې د مشخص شوي موډل څخه په کار اخیستلو د تنظیم شوي R2 قیمت اندازه ۵۳,۹٪ ده.

ANOVA[b]

| Model | | Sum of Squares | df | Mean Square | F | Sig. |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Regression | 68.405 | 1 | 68.405 | 225.601 | .000[a] |
| | Residual | 57.913 | 191 | .303 | | |
| | Total | 126.318 | 192 | | | |

a. Predictors: (Constant), Emotional_Intelligence

b. Dependent Variable: Employees_Commitment

د ANOVA په جدول کې د F قیمت ښايي، چې استفاده شوی موډل بهترین دی، ځکه چې د F قیمت د F جدولي قیمت څخه لویه ده او د موډل اهمیت ۰,۰۱ یا ۹۹٪ د اطمینان درجه کې قرار لري.

Coefficients[a]

| Model | | Unstandardized Coefficients | | Standardized Coefficients | t | Sig. |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | B | Std. Error | Beta | | |
| 1 | (Constant) | .868 | .185 | | 4.702 | .000 |
| | Emotional_Intelligence | .749 | .050 | .736 | 15.020 | .000 |

a. Dependent Variable: Employees_Commitment

د B قیمت ښايي که چېرته د یو واحد (۱٪) په اندازه په عاطفي ځیرکتیا تمرکز وشي، د کارمندانو په ژمنتیا کې ۰,۷۴۹٪ تغیر راوړي. د نول فرضیې، چې په ترسره شویو څېړنو کې وړاندې کړې وې، رد شوي. ځکه د T قیمت ۴,۷۰۲ او د ټسټ لپاره اخیستل شوي د T قیمت ۱۵,۰۲ و.

**پایله**

د تولید په برخه کې بشري منابع تر ټولو زیات ارزښت درلودونکي دي. د کارمندانو په نه شتون کې نورې ټولې منابع بې ګټې دي. د دې لپاره، چې د منابعو څخه په درسته توګه ګټه پورته شي اړینه ده، چې کارمندان تشویق او ژمن کړای شي او د دې کار لپاره د مختلفو میتودونو څخه ګټه اخیستل کېږي، چې یو د هغوی نه د عاطفي ځیرکتیا په برخه کې کیفیت دی، چې د کارمندانو او مشرانو تر منځ شتون لري. په همدې منظور دغه څېړنیزې

مقالې د عاطفي ځیرکتیا اغېزه د ننګرهار ولایت- افغانستان کې د غیر دولتي اداراتو د کارمندانو په ژمنتیا بحث کړی دی. په دغه څېړنه کې دوه ډوله معلوماتو څخه، چې اولې یې سوال پاڼې او دویم یې د موجوده څېړنو څخه کار اخیستل شامل وو. د کوریلیشن میټریکس وښودله، چې د کارمندانو د ژمنتیا او عاطفي ځیرکتیا تر منځ قوي ( ۷۳,۱٪) اړیکه د ۰,۰۱ اطمینان درجې په لرلو سره شتون لري او په همدې شکل د بیټا قیمت ښایي، که چېرته د یو واحد (۱٪) په اندازه په عاطفي ځیرکتیا تمرکز وشي، د کارمندانو په ژمنتیا کې ۰,۷۴۹٪ تغیر راوړي، چې د اطمینان درجه یې ۰,۰۰۱ ده. په اخر کې د ننګرهار ولایت- افغانستان کې د غیر دولتي اداراتو د کارمندانو په عاطفي ځیرکتیا او همدې کارمندانو د ژمنتیا تر منځ قوي ارتباط شتون لري.

**وړاندیزونه**

دا چې د څېړنې په پایله کې معلومه شوه، چې عاطفي ځیرکتیا د ننګرهار ولایت- افغانستان د غیر دولتي کارمندانو په ژمنتیا قوي مثبته اغېزه لري، د څېړنې موندنې د غیر دولتي مسؤلینو ته په داسې شکل وړاندې کېږي، چې د کارمندانو د ښې ژمنتیا د لاسته راوړلو لپاره دې ترې نه ګټه پورته کړي. هدف دا دی، چې غیر دولتي ادارات دې د خپلو کارمندانو ژمنتیا ته د عاطفي ځیرکتیا په برخه کې کار کولو سره د خپلو کارمندانو ذهني کیفیت ته وده ورکړي.

- محقیقینو ته وړاندیز کېږي، چې مذکوره موضوع دې په نورو سکتورونو، نورو ولایتونو او د هېواد په سطحه وڅېړي.
- په همدې شکل وړاندیز کېږي، چې همدا موضوع دې په ملي او بین المللي سطحه مطالعه کړي.

- همدا موضوع دې په مختلفو میتودونو او ابزارو سره وڅېړل شي.
- د عاطفي ځیرکتیا اغېزه دې په نورو شته متحولاتو مطالعه کړل شي او د عاطفي ځیرکتیا په ارزښت، چې په نورو فکتورونو یې لري، ځان پوه کړل شي.

## References


1. Allen, N.J. & Meyer, J.P. (1990). The measurement and antecedents of affective, continuance, and normative commitment in the organization. Journal of Occupational Psychology, 63: 1-18.
2. Alsughayir, A. (2021). The Effect of Emotional Intelligence on Organizational Commitment: Understanding the Mediating Role of Job Satisfaction. Management Science Letters Homepage: www.GrowingScience.com/msl
3. Baridam, D.M. & Nwibere, B.M. (2008). Managing and understanding organizational behaviour. Port Harcourt, Nigeria: Shebrooke Associates.
4. Baridam, D.M. & Nwibere, B.M. (2008). Managing and understanding organizational behaviour. Port Harcourt, Nigeria: Shebrooke Associates.
5. Carver, C. S., Scheire, M.F., & Segerstorm,S.C. (2010) Optimism. Clinical Psychology Review, 879-889
6. Chen, C.F. (2006). Job satisfaction, organizational commitment, and flight attendants' turnover intentions: A note. Journal of Air Transport Management, 2: 274-276.
7. Cohen, A. (2014). Organizational commitment research: Past, present and future. In Z. Zhao & F. Rauner (Eds). Areas of vocational education research: New frontiers of educational research (pp. 261-274). Berlin, Springer.
8. Cooper, R. K., (1997). Unique Aspects of Stress in Human Service Work. Australian Psychologist, 38(2), 84-91.

9. Don-Baridam, L. (2017). Emotional intelligence and organizational commitment in three industrial sub-sections in Rivers State, International Journal of Advanced Academic Research/Social & Management Science, 8 (9) 1-17.
10. Goleman, D. (1998) Emotional Intelligence: Working with Emotional Intelligence. London: Bloomsbury.
11. Goleman, D., (2002) Primal Leadership: Realizing the Power of Emotional Intelligence. Boston, MA: Harvard Business School Press.
12. Greenberg, J. & Baron, R. A. (1997). Behavior in organization. New Jersey: Prentice-Hall Inc.
13. Emotional Intelligence. Boston, MA: Harvard Business School Press.
14. Greenberg, J. & Baron, R. A. (1997). Behavior in organization. New Jersey: Prentice-Hall Inc.
15. Greenberg, J. & Baron, R. A. (1997). Behavior in organization. New Jersey: Prentice-Hall Inc.
16. Higgs, M. (1997). A Study of the Relationship Between Emotional Intelligence and Performance in UK Call Centers. Journal of Managerial Psychology.
17. Inanc, E.E. & Ozdilek, E. (2015). Relationship between the organizational commitment and job satisfaction of academic staff in Turkey. International Organization for Research and Development (IORD), 1-12. Available online at http://ivconferences.com.
18. Jaarsveld, VP. (2003). The Heart of a Winner. Wellington: Paarl Print. Intelligence. 27(4): 267-298.
19. Kaplan, M.P. Ogut, E., Kaplan, A. & Aksay, K. (2012). The relationship between job satisfaction and organizati9onal commitment: the case of hospital employees, World Journal of Management, 4(1), 22-29. L
20. Khan, A. Masrek, M.N., & Zadzar, F. M. (2014) The Relationship Between Emotional Intelligence and Organizational Commitment of Parkistani University Librarians. Parkistan Journal of Informational Management and Libraries, 15, (1).
21. Manyara, K. (2000) Cooperative Management in Developing Countries. Nairobi, Kenya: Mansfield Management Services Ltd.

22. Matheri, SM. Karanja, K., & Namusonge G.S (2018). Effect of Emotional Intelligence on Employee Commitment in Savings and Credit Co-Operative Societies in Nairobi and Kiambu Counties, Kenya. European Journal of Psychological Research. Vol. 5 No. 1, 2018 ISSN 2057-4794
23. Mathieu J.E & Zajac, D.M. (1990). A Review and meta-analysis of the Antecedents, correlates and consequences of organizational commitment psychological bulletin, 108, 171-194
24. Mattingly, V., & Kraiger, K. (2019). Can Emotional Intelligence Be Trained? A Meta-Analytical Investigation. Human Resource Management Review, 29(2), 140-155.

25. Mayer, J.D., Salovey, P. & Caruso, D. (1999) Emotional Intelligence Meets Traditional Standards for an Intelligence. Intelligence. 27(4): 267-
26. 298.
27. Mobolade, Gideon Olakunle, M G. (2021) The Impact of Emotional
28. Intelligence on Organizational Commitment. IIARD International Journal of Economics and Business Management E-ISSN 2489-0065 P-ISSN 2695-1878, Vol 7. No. 2 2021 www.iiardpub.org
29. Mowday, R.T., Steers, R.M & porter, L.W. (1979) the measurement of vocational Behaviour 14(224-247)
30. Mowdey, R., Porter, L. W. & Steers, R. M. (1982). Correlates of organizational comment and correlates of organizational commitment and knowledge sharing via emotional intelligence: an empirical investigation. The Business Review, Cambridge. 15 (1), 89-96.
31. Palmer, P.N. & Jansen, C.A. (2004) Emotional Intelligence as an Important Attribute of Transformational Leadership. Paper Presented at the Southern African Institute of Management Scientist Annual Conference, 17-29 September 2004, Cape Town.

32. Raza, A; Saleem, S. & Qamar, B. (2014). An investigation of the impact of emotional intelligence on job performance through the mediating effect of organizational commitment: an empirical study of banking sector of Pakistan. Information and knowledge Management, 4 (10), 19-26.
33. Schappe, S. P. and Doran, A. C. (1997). Participative decision making and organizational commitment: Comparing Nigerian and American employees cross cultural management: An International Journal. 17 (4), 368-392.
34. Song et al. (2010) The differential effects of general mental ability and emotional intelligence on academic performance and social interactions. Intelligence, 38 (1), 137–143.
35. Sparrow, P. (1999). Strategy and Cognition: Understanding the Role of Management Knowledge Structures, Organizational Memory and Information Overload. Creativity and Innovation Management, 8(2), 140-148.
36. Stazyk, E. C., Pandey, S. K., & Wright, B. E. (2011). Understanding affective organizational commitment: the importance of institutional context. The American Review of Public Administration, 41(6), 603-624.
37. Steiner, C., & Perry, P. (1997). Achieving Emotional Literacy: A Program to Increase Your Emotional Intelligence. Nueva York: Avon.
38. Ulrich, D., & Lake, D. G. (1990). Organizational Capability: Competing from the Inside Out. John Wiley & Sons.
39. Velmurugan V.& Zafar M.S. (2010) Influence of Emotional Intelligence on Organizational Commitment, International Journal of Commerce and Business Management, 2(2), 107- 109.

**فرهاد شینواري**
**بشري علومو پوهنځی- ژورنالېزم څانګه**

# د پلټونکې خبریالۍ هدف او عامو خلکو، رسنۍ، خبریال او حکومت ته یې ګټې

## لنډیز

**په پلټونکې خبریالۍ کې د راپور لیکنې لپاره د داسې موضوع انتخاب اړین دی، چې د ارزښت له مخې مهموالی ولري او د ټولنې د لوېې کچې د وګړو ژوند ورپورې تړلی وي. د پلټونکې راپور رول په ټولنه کې د اساسي ستونزو لکه ظلم، فساد، بې عدالتۍ او ... راښکاره کول دي. د پلټونکې خبریالۍ د کار په نتیجه کې د ادارې پالیسۍ بدلېدای شي. مفسد حکومتونه اړ باسي، چې په قوانینو او تړونونو کې بدلونونه رامنځته کړي او د غلطو مسؤلینو د استعفا او شړلو باعث کېدای شي، د رسنیو د باور زیاتوالي او ورځپاڼو په پېرودلو کې مرسته کوي او په ټولنه کې منفي باورونه له منځه وړي.**

**د پلټونکي راپور څخه موخه او هدف د موضوع ښخ ته ننوتل دي او د موضوع مختلفو اړخونو ته ژوره کتنه ده، چې په دې ډول راپور کې خبریال په دې هڅه کې دی، چې راټولو شویو مسنداتو، علمي پلټنو او مسلکي نظریاتو په اساس د موضوع مختلف اړخونه وپېژني. همدارنګه د پلټونکې خبریالۍ ګټې په لاندې ډول خلاصه کولای شو.**

**عامو وګړو ته یې ګټه: د ټولنیز نظام رواني چارې په مستقیم/ غیر مستقیم ډول په ټولنیز ژوند مثبتې او منفي اغېزې ښندي. د ټولنې وګړي هم په خپل ژوند پورې تړلي مسایل خوښوي؛ پلټونکي خبریالي د دوی په ژوند پورې تړلې سوژې سپړي او په هغو اړخونو یې غږېږي، چې د دودیزې خبریالۍ او عامو وګړو له سترګو پټ وي؛ لکه د خلکو تر منځ د بېلابېلو مصرف کېدونکو توکو د کیفیت ټیټوالي عوامل او عاملین په ګوته کول، د سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي، نظامي او... بحرانونو عوامل او عاملین څرګندول. ( الهام،۱۳۹٦ل).**

**خبریال ته یې ګټه: که چېرته یو خبریال په څېړنیزه برخه کې کار کوي، تر ټولو مهمه دا ده، چې د خپل شخصیت جوړونې په برخه کې به د وخت په تېرېدلو سره زړه راښکونکي او نه منونکي بدلونونه حس**

کړي. ځکه تاسو به په ځان باور پیدا کړی وي؛ په ګوښه ځان به په حقیقت موندنه پسې له وېرې پرته اوږدې سترې لارې ګز او ګام کوئ.

د خپل هر شک په لرې کولو سره له خپل زړه د وېرې خړې پردې لرې کولای شئ. نړۍ به له نورو په جلا او ژوره بڼه وپېژنئ، د مظلوم حق به له ظالمه اخلئ، د خپل ځان، ټولنې او وګړو په وړاندې به د ملامتۍ احساس نه کوئ؛ بالاخره تر ابده به د خپل ویښ ضمیر او د وجدان له عذابه خلاص وئ. ( الهام،۱۳۹۶ل).

حکومت ته یې ګټې: پلټونکي خبریالي په عامو وګړو، رسنۍ او خبریال سربېره د حکومتي چارو د چېکتیا، تصفیې، تنظیم او پایښت لپاره هم ډېره اغېزمنه تمامېږي. د حکومت درې بنسټیزې پایې ( اجرائیه، قضایه او مقننه) قوې پیاوړې کوي. تر ډېره بریده یې کارونه اسانه کوي او د یادو څانګو چارواکو ته د چټکو پرېکړو، کړنو او غبرګونونو ویاړ وربښي.( الهام،۱۳۹۶ل).

کلیدي کلمې: پلټونکي خبریالي، خبریالي، څېړنه، موضوع، راپور، ګټې.

سریزه

پلټونکي خبریالي ده، چې په نړۍ کې یې خبریالۍ ته پرمختګ وربخښلی دی. (( د اکثره مسلکونو خاوندان د خپلو کارونو د ښه والي په موخه څېړنه ترسره کوي. له څېړنې څخه نه یوازې په علمي ( ټولنیز او ساینسي علوم) ډګر کې کار اخیستل کېږي))(مصلح،۱۳۹۵ل)؛ بلکې په خبریالۍ کې هم ورڅخه کار اخیستل کېږي او په ټولنه کې لوی بدلون ته لاره هواره وي. څرنګه چې پلټونکي خبریالي د لومړي ځل لپاره په امریکا کې رامنځته شوه او د امریکا ۳۷ رئیس جمهور یې په انتخاباتو کې د درغلۍ له امله استعفا ته مجبور کړ او همدا شان په ورځني ژوند او نورو کړنو کې هم ترې ګټه اخیستل کېږي. پلټونکي خبریالي او په ځانګړې ډول د دې موضوع او دې ته ورته پلټونکو موضوعاتو ارزښت د ژورنالیزم په برخه کې ډېر زیات دی، ځکه هغو پټو او ناڅرګندو واقعیتونو او حقیقتونو څخه پرده پورته کوي، چې تل مدام د ټولنې د افرادو څخه پټ ساتل شوي وي.

موخې

- پلټونکې خبریالۍ موخې او رول مشخص کول.

- پلټونکې خبريالۍ په ګټو باندې بحث کول، چې دا ډول خبريالي ټولنې ته، رسنۍ، خبريال او حکومت ته کومې ګټې لري.

**مواد او کړنلاره**

**د کتابتوني څېړنې ډېره تکيه په کتابونو، مجلو او دايرة المعارفونو کې په موجودو موادو وي، څېړونکی کتابونو ته مراجعه کوي، د موضوع اړوند په لسګونو کتابونه راټولوي، مطالعه کوي يې او د معلوماتو په رڼا کې خپله څېړنه بشپړوي.( امينزی،۱۳۹۶)**

**دا علمي مقاله د څېړنيزې تګلارې په رڼا کې ترسره شوې ده، د ډول له مخې کتابتوني او ميتود نيمه تشريحي دی. ژبه يې ساده، روانه او عام فهمه او د ليکنې سبک يې علمي دی، د موضوع په اړه ليکل شوي او ژباړل شوي اثار مطالعه او پايله يې وړاندې شوې ده.**

**تېرو ليکنو ته کتنه**

**په دې موضوع باندې تر دې دمه نه کوم کتاب او نه کومه علمي مقاله ليکل شوې ده، خو په افغانستان کې ځينې کتابونه د څېړنيز ژورنالېزم او پلټونکې خبريالۍ په اړه ليکل شوي او ځينې ژباړل شوي دي، لکه پلټونکې خبريالۍ په نامه کتاب استا احمد ضياء الهام ليکلی دی، رسنيزه څېړنه په نوم کتاب ايس ام شاهد ليکلی دی او نذير احمد سهار پښتو ژبې ته ژباړلی دی. د څېړنيز ژورنالېزم په نامه کتاب د يوه ډله خارجي ليکوالانو له خوا په ګډه ليکل شوی دی، چې ژباړه او راټولونه يې پښتو ژبې ته محمد عاطف فقيرزداه کړې ده. په دې او ځينو فارسي ژبې کتابونو کې لکه (گزارش تحقيقي و چگونگي آن در رسانه های افغانستان) د کابل پوهنتون ژورنالېزم پوهنځي استادې فهيمه شکيب هاشمي له خوا ليکل شوی، چې د پلټونکې خبريالۍ په باب په کې ځينو دې ته ورته موضوعاتو باندې بحثونه شوي دي.**

**په دې مقاله کې د پلټونکې خبريالۍ موخو او ګټو په اړه معلومات راټول شوې دي، ځکه پلټونکي خبريالي په هغو موضوعاتو باندې کار کوي، چې د خلکو د سترګو پټ ساتل شوي وي او ځينې خلک نه غواړي، چې رسوا شي لکه ظلم، غصب، اختلاس، رشوت، هر ډول غيرې قانوني کړنې او هر ډول فساد، چې ورسره مبارزه او د هغې د له منځه وړلو لومړنۍ لار پلټونکې خبريالي ده، چې دا مسلک په ټولنه کې ستر بدلون او تغير ته لاره هواره وي. پلټونکې خبريالي هم هنر او هم ژوره علمي څانګه ده، چې بايد په افغانستان کې دې برخې ته هم په علمي او عملي ډول کار وشي.**

## پلټونکې خبريالي

کله چې د پلټونکې خبريالۍ په اړه خبرې کېږي، د خلکو ذهن ته په عمومي ډول د نورو ژورناليستيکو کارونو خلاف د موضوعاتو ژور او هر اړخيزه څېړه ور لوېږي. هغه څه، چې په دې ډول خبريالۍ کې له نورو توپير لري، دا دي چې خبريال د هرې سوژې (موضوع) تل ته ورښکته کېږي او هر اړخيزه څېړنه او پلټنه يې کوي.

په دې ډول خبريالۍ کې عموماً ورځني يا خبري توکي نه راخيستل کېږي، ځکه همغسې چې يې له نوم نه جوتېږي، ټول پام يې په داسې موضوعاتو ورټول وي، چې ډېرې څېړنې، پلټنې او کار ته اړتيا لري.

د ژورنالېزم په دې ژانر کې د خبريال يوه مهمه دنده دا ده، چې له هغه څه خلک خبر کړي، چې په ټولنه کې خلک ترې خبر نه وي او هغه حقايق خلکو ته روښانه کړي، چې په اړه يې ژور معلومات نه وي خپاره شوي. ژورناليستان دغه کار په ټولنه کې د حقيقت د څېړلو پر مټ کوي.( حبيب، ۱۳۹۷ل)

د پلټونکې خبريالۍ په اړه ډېر تعريفونه شوي دي، خو په ټوله کې ويلای شو، چې پلټونکې خبريالي هغې خبريالۍ ته وايي، چې په مرسته يې هغه حقايق را سپړل کېږي او خپرېږي، چې ځينې خلک يې د پټ ساتلو کوښښ کوي.

يا پلټونکي خبريالي د خبريالۍ هغه څانگه ده، چې د ژورناليستيکو وسايلو په وسيله د يوې پېښې يا موضوع په اړه ژوره او کره پلټنه او څېړنه کوي. په ځينو مواردو کې خلک يا اداري خوښې وي، چې خبريالانو ته معلومات ورکړي او د همدې کار لپاره په بېلابېلو بنسټونو کې ګڼ شمېر کارکوونکي گمارل شوي وي، چې څه ډول د خپلو کارونو په اړه خپل معلومات ټولنې ته د خبريالانو له لارې ورسوي. ځکه دا کار د دوی په ګټه دی او په ورين تندي او خوشحالۍ دغه کار کوي. خو له دې سره سره، چې ځينې خلک په خوښۍ او رضايت سره خبريالانو ته معلومات ورکوي، خو بيا هم ګڼ داسې کارونه په ټولنه کې پېښېږي، چې يو شمېر خلک او بنسټونه يې د پټ ساتلو هڅه کوي.

ښايي ځينې دغه معلومات، چې خلک يې پټ ساتل غواړي شخصي وي، له هغوی د کورنيو سره تړلي موضوعات وي، چې له قانوني پلوه نه بايد خبريالان د دغو شخصي معلوماتو د پلټلو او خپرولو هڅه وکړي. خو د دې ترڅنګ په ځينو حالاتو کې حکومتونه، کمپنۍ، اداري او اشخاص د داسې کارونو، پرېکړو او معلوماتو د پټ ساتلو کوښښ کوي، چې په ټولنه کې د نورو خلکو ژوند اغېزمنوي.

نو کله، چې خبریال د داسې شیانو د راسپړلو او خپرولو هڅه کوي، چې پټ ساتل یې د خلکو پر ژوند اغېز پرې باسي، همدې چارې ته پلټونکې خبریالي وايي.
پلټونکي خبریالي په حقایقو د غور کولو او پر هغې د پوهېدو یو داسې فن دی، چې له مخې یې د یوه داستان خاکه جوړېږي او بیا معیاري بڼه غوره کوي.( سهار، ۱۳۹۶).

د پلټونکې خبریالۍ مخینه

د ۱۹۶۰ مې میلادي لسیزې په وروستیو کې په امریکا او نورو لویدیځو هېوادونو کې خبریالانو ورو ورو داسې خبریالي پیل کړه، چې پر حکومتي کارونو یې نیوکې کولې. په ۱۹۷۰ لسیزه کې هغه مهال، چې په امریکا کې د ( واټرګیټ سکینډل) څېړنه خپره شوه او په پایله کې یې د امریکا د هغه مهال منلی ولسمشر ( ریچارډ نکسن) له واک ګوښه کېدو ته اړ شو، له همغه مهال راهیسې د پلټونکې خبریالۍ کارونه پیل شول.

که څه هم ځینې داسې هم وايي، چې د ( واټرګیټ سکینډل) له رسوایۍ پخوا هم د پلټونکې خبریالۍ په تړاو ځینې کارونه په امریکا کې شوي دي. هغه مهال د واشنګټن پوست دوو خبریالانو کارل برنیستین او باب ووډ وارډ Carl Bernstein and Bob Wood Ward د واټرګیټ سکنډیل په راپور کار وکړ او دغه خبریالي له هغې وروسته په امریکا کې د څېړنیزې خبریالۍ (Investigative Journalism ) په نوم یاده شوه.

دغو دوو تنو خبریالانو له دوو کلونو پلټنو او څېړنو وروسته د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د ریچارډ نیکسن (Richard Nixon) د هغو پټو او ناقانوني اقداماتو له مخې پرده پورته کړه، چې نوموړی پرې واک ته رسېدلی و. د دغو پټو اقداماتو له رسوا کېدلو وروسته نوموړی له واک څخه ګوښه شو.

ځینې مهم پلټونکي رپوټونه له دویمې نړیوالې جګړې را وروسته لیکل شوي دي، چې د یهودانو د وژنو په اړه دي. له هغې را وروسته د ویتنام د جګړې او د شرقي اروپا او پخواني شوروي اتحاد د مناسباتو په اړه هم ډېر پلټونکي او څېړنیز رپوټونه جوړ شوي دي. (فقیرزاده، ۱۳۹۶ل).

د پلټونکې خبریالۍ رول او ارزښت

پلټونکې خبریالۍ ته د داسې موضوع انتخاب اړین دی، چې د ارزښت له مخې مهموالی ولري او د ټولنې د لویې کچې د وګړو ژوند ورپورې تړلی وي. د پلټونکې خبریالۍ رول په ټولنه کې د اساسي ستونزو لکه ظلم، فساد، بې عدالتۍ او ... راښکاره کول دي.

۱ـ د پلټونکې خبریالۍ د کار په نتیجه کې د ادارې پالیسۍ بدلیدای شي.
۲ـ د مفسدو او غلطو مسؤلینو د استعفا او شړلو باعث کېدای شي.
۳ـ له پامه غورځول شویو موضوعاتو ته د خلکو توجه ګرځول کېږي.

۴ـ د عامو خلکو په معلوماتو او بحثونو کې غښتلتیا رامنځته کېږي.
۵ـ حکومتونه اړ باسي، چې په قوانینو او تړونونو کې بدلونونه رامنځته کړي.
٦ـ د رسنیو د باور زیاتوالی او ورځپاڼو په پېرودلو کې مرسته کوي.
۷ـ د بیان په ازادۍ کې رغنده رول لوبوي.
۸ـ په ټولنه منفي باورونه له منځه وړي. (شکاهپوري، ۱۳۹۲ل).

د پلټونکې خبریالۍ موخه او هدف

د مطالعې وړ موضوع په طرحه کې پلټونکی باید د انتخاب شوې موضوع له تحقق څخه خپله موخه دقیقاً روښانه کړي او هغه پایلې، چې د تحقیقاتو د فرضیو په هکله دي، په بشپړه توګه بیان کړي، په دې توګه هغه او ملګري یې له پیله پوهېږي، چې د څه په هکله ګرځي او ولې؟ دا موضوع هم یو له هغو مسئلو څخه ده، چې د محقق لپاره مخکې له تحقیق نه ډېر زیات ارزښت لري. نو ځکه خو کولی شو داسې نتیجې ته ورسېږو، چې د مطالعې وړ موضوع طرحه د تحقیقي موضوع د تعریف او د هغو د بعدونو او ځانګړتیاوو د روښانولو په نامه یادېږي.

په پلټونکو راپورونو کې د وخت په شان محدودوونکی عامل د خبري راپورونو په پرتله لږ ځان پر راپور تحمیلوي، نو په دې لحاظ اطلاعاتو راټولولو او د مطالبو د تدوین لپاره ډېر وخت لري.

په تحقیقي راپور کې د راپور هنر په دې کې دی، چې وکولی شي له هرې سرچینې نه په استفادې او د خبر سطحي اړخونه د امکان یا د نظر وړ لارو چارو سره د موضوع تل ته ځان ورسوي او له هغه څخه

پرده پورته کړي، چې د خلکو له نظره پټ شوي او نندارې ته یې وړاندې کړي او د موضوع تیاره زاویې روښانه کړي.

پلټونکی رپوټ کله د پیچلو او پر فرد پورې منحصرو موضوع ګانو کې شاملېږي او هغه څه، چې له خلکو او ټولنې پټ دي بربنډوي یې.

پلټونکي راپور کې د خبریالانو هڅه په دې کې وي، چې د یوې پېښې انګېزې، علل او عوامل کشف کړي او په دې لاره کې د کتابتونونو، د کارپوهانو نظریو او د سر شمېرنو له تحلیل څخه مرسته ترلاسه کړي. ځینې پلټونکي رپوټونه کولای شي، چې داسې حقایق او واقعیتونه منعکس کړي، چې له اطلاع څخه عامو خلکو ته په ګټه وي او ځینې تخصصي پلټونکي رپوټونه کولای شي ګټور اطلاعات د کارپوهانو په واک کې ورکړي.

راپور ورکونکی کولای شي، چې د مهمو موضوعګانو په غوره کولو او په اړه یې د جامع پلټونکو راپورونو په برابرولو سره مسئلې تازه او د عامو خلکو د پام وړ وګرځوي. په علمي او منطقي توګه د ستونزو تشریح، له مکتوبه او نه ویل شویو حقایقو نه پرده پورته کول او د مخاطراتو په هکله حساسیت رامنځته کول امکان لري، چې په ټولنه کې نوې موضوعګانې رامنځته کړي او د ټولنې د خلکو او مدیرانو پر وړاندې نوې او تازه موضوعګانې وړاندې کړي.

له پلټونکي راپور څخه موخه او هدف د موضوع بېخ ته ننوتل دي او د موضوع مختلفو اړخونو ته ژوره کتنه ده، چې په دې ډول راپور کې خبریال په دې هڅه کې وي، چې راټولو شویو مسنداتو، علمي پلټنو او مسلکي نظریاتو په اساس د موضوع مختلف اړخونه وپېژني. (رحیل، ۱۳۹۲ل).

د پلټونکې خبریالۍ ګټې

عامو وګړو ته یې ګټه: د ټولنیز نظام رواني چارې په مستقیم/ غیرمستقیم ډول په ټولنیز ژوند مثبتې او منفي اغېزې شندي. دټولنې وګړي هم په خپل ژوند پورې تړلي مسایل خوښوي؛ پلټونکې خبریالي د دوی په ژوند پورې تړلې سوژې سپړي او په هغو اړخونو یې غږېږي، چې د دودیزې خبریالۍ او عامو وګړو له سترګو پټ وي. لکه د خلکو تر منځ د بېلابېلو مصرف کېدونکو توکو د کیفیت ټیټوالي عوامل او عاملین په ګوته کول، د سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي، نظامي او... بحرانونو عوامل او عاملین څرګندول.

له هر ډول فساد، ناغېړیو، ظلم، ناروا او ....غیر قانوني کړنو پرده پورته کول، د یادو کړنو لاملونه په ګوته کول او په کې ښکېل اړخونه د عدالت مېز ته را کاږل، هغه څه دي، چې هرو مرو په یادو قضیو کې لتاړ اړخونه له قانوني جزا سره مخ کوي او د عامو وګړو په ژوند مثبت اغېز ښندي.

کله چې په ټولنېز نظام کې مفسد وګړي د خپلې هرې ناروا کړنې جزا ویني، له یادو کړنو لاس په سر کېږي او نور خلک هم د ورته کړنو جرئت نه شي کولای. له دې سره په مدار مدار ټولنیز عدالت ته لاره هوارېږي او هر چا ته خپل حق رسېږي.

په پای کې دې نتیجې ته رسېږو، چې پلټونکې خبریالي یوازې د رسنیزو توکو تولید نه، بلکې د ټولنې وګړو ته تر ټولو غوره خدمت دی. ځکه د ټولنیزې بې عدالتۍ په له منځه وړلو سره د وګړو پیاوړي او پرمختللي ژوند ته لاره هواروي. ( الهام،۱۳۹٦ل).

رسنۍ ته یې ګټه

پلټونکي ریپورټونه د څو ورځو او اوونیو خبره نه ده، اوږد بهیر لري او پایلې یې ډېرې ځنډنۍ وي. د رسنیو چارواکي ځینې وخت ښايي پلټونکو رپورټرانو ته ووايي، چې تاسو هسې وخت تېروئ، بې ځایه لګښت کوئ او د کار پایله مو ورکه ده. ځکه هغوی ستاسو د ترسره شوي کار پایلې ژر نه شي تر لاسه کولی، ورځ تر بلې مو په روانو کړنو شکمنېږي.

د دوی د دې ادعا د ردولو په موخه هېڅانه دا موقع مه ورکوئ، چې کار مو بې پایلې وبولي. په دې یې قانع کړئ، چې یو مسلکي پلټونکی رپورټ د رسنۍ باور او موقف له ځمکې نه اسمان ته پورته کولی شي.

د رسنۍ نوم د سیالو رسنیو په نوملړ کې د جدول سر ته راوړي، رسنیز فعالیتونه یې هم تر ډېره ورسره چټکېږي. که دا ډاډ ورکړل شي، ستاسو د کارونو په اړه راپورته شوي شکونه یې له زړه لیرې کېږي او ملاتړ مو کوي.

کله چې رسنۍ نوموتې شي، یوازې نوم یې هم له چارواکو سره د اړیکنیونې ستونزمن بهیر اسانه کوي. معلوماتو

ته لاسرسی ژر مومي؛ د خپل باور له مخې سوداګریز اعلانونه ډېر ورکول کېږي. د سوداګریزو اعلانونو بیه یې هم د لړ پېژندل شوو رسنیو په نسبت لوړېږي. همدارنګه رسنۍ د خپل لوړ شهرت، پراخه رسمي

او غیر رسمي اړیکو او باور له مخې د خپلو رسنیزو لوبغاړو د حقوقو د خوندیتوب او مصؤنیت لپاره هم په وخت گام پورته کولای شي او چا ته دا اجازه نه ورکوي، چې د کار په مخ کې یې خنډ شي، پورتنیو گټو ته په کتو ډېرې نورې گټې هم شته، چې رسنیزه اداره یې د پلټونکې خبریالۍ پر مټ تر لاسه کوي؛ خو د ټولو راوړل د بحث راټولونې په خاطر اړین نه دي. (الهام،۱۳۹٦ل)

خبریال ته یې گټه

د پلټونکې خبریالۍ په ستونزمن بهیر له پوهېدو وروسته ښایي ډېرې خبریالانو ته دا پوښتنه پیدا شي، چې دا نو خبریالي شوه که په زورلاسي ځانته د دښمنانو ډېرول؟
که څه هم په وروسته پاتې ټولنو کې د یادې پوښتنې ځواب سخت دی. ځکه هلته خپلسرۍ ډېرې وي، زورواکي حاکمه وي او د قانون حاکمیت ډېر کم وي، قضایي او عدلي ارگانونو خپله په سل ډوله ناغېړیو کې لتاړ وي او د نظام دننه ډېرې چارواکي له خپل وس سره سم په فساد کې ښکېل وي؛ په داسې ټولنو کې هرو مرو د پلټونکې خبریال دښمنان ډېرېږي.
ځکه دا ټول خلک د قانون ماتونې ببلابېلې دوسیې لري. د نظام د جوړښت او پایښت فکر له ډېرو کمو وگړو سره وي. په دې ډول ټولنو کې پلټونکي خبریالان د مفسدو چارواکو د سترگو اغزي وي؛ په هیڅ وجه یې نه شي زغملی او سل رنگه توطیې او بهانې ورته لټوي، څو له خپل کاره لاس په سر او یا یې له صحنې ورک کړي.

په یادو ټولنو کې که خبریال له وهلو، رټلو، وژلو او.... ستونزو سره مخ کېږي؛ بیا هم داسې کومه برلاسې اداره نه پیدا کېږي، چې د هغه د حقوقو د اعادې غوښتنه دې وکړي او د پېښې عاملین دې د عدالت مېز ته را کاږي.

په پرمختللو ټولنو کې د دوی د دې اندېښنې له منځه وړلو لپاره به ستاسو ځواب دا وي، چې که ریښتینولۍ سره په مسلکي ښه خپله دنده ترسره کړئ، په خپلو راپورونو سره به مو د ټولنیز عدالت پلې کېدو ته لاره هواره کړې وي. بیا مو که په ټولنه کې څومره دښمنان پیدا شوي وي، هرو مرو به مو له هغو زیات ملگري او ملاتړي هم موندلي وي.

د پلټونکې خبریالۍ په مرسته په خپل مسلک کې او له مسلکه دباندې ځانگړې پوهه او نوې تجربې ترلاسه کولی شئ. که په خپله دنده کې لگیا وې یا مو پرېښې وي، بیا به هم د خپلې ځانگړې مسلکي وړتیا له مخې په ټولنه کې دومره قدرمن یې، چې هیڅکله به له خپلې دندې د لرېوالي احساس نه کوئ.

د یو ژورنالیست په توګه تاسو اړ یاست، چې د څېړنې او پلټنې په برخه کې بشپړه وړتیا ولرئ. پلټونکې خبریالي

په یاده برخه کې د وړتیا موندنې تر ټولو غوره لاره ده. کوم ژورنالیست، چې د څېړنې او پلټنې هنر ونه لري، تر ډېره لنډ فکر کوي؛ ډېری خبرې یې بې بنسټه وي او بېرته ژر خپل موقف بدلوي؛ په نفس باور نه شي موندلی، چې یادې نیمګړتیاوې یې رسنيز فعالیتونه ټکني کوي او په خپل مسلک کې پرمختګ نه شي کولی.

تر ټولو مهمه دا ده، چې د خپلې شخصیت جوړونې په برخه کې به د وخت په تېرېدلو سره زړه راښکونکي او نه منونکي بدلونونه محسوس کړئ. ځکه تاسو به په ځان باور پیدا کړی وي؛ په ګوښه ځان به په حقیقت موندنه پسې له وېرې پرته اوږدې سترې لارې ګز او ګام کوئ.

د خپل هر شک په لیرې کولو سره له خپل زړه د وېرې خړې پردې لیرې کولای شئ. نړۍ به له نورو په جلا او ژوره بڼه وپېژنئ؛ د مظلوم حق به له ظالمه اخلئ. د خپل ځان، ټولنې او وګړو په وړاندې به د ملامتۍ احساس نه کوئ؛ بلاخره تر ابده به د خپل ویښ ضمیر او د وجدان له عذابه خلاص وئ.( الهام،۱۳۹۶ل).

حکومت ته یې ګټه

پلټونکې خبریالي په عامو وګړو، رسنۍ او خبریال سربېره د حکومتي چارو د څارنې، تصفیې، تنظیم او پایښت لپاره هم ډېره اغېزمنه تمامېږي. د حکومت درې بنسټیزې پایې ( اجرائیه، قضایه او مقننه قوې) پیاوړې کوي. تر ډېره بریده یې کارونه اسانه کوي او د یادو څانګو چارواکو ته د چټکو پرېکړو، کړنو او غبرګونونو ویاړ وربښي.

بېلګه: پلټونکې خبریالان جرم، فساد، ناغېړۍ او... د قانون خلاف کړنې مومي؛ عاملین یې په ګوته کوي او اجرائیه قوې ته د یادو ناروا کړنو او عاملینو د پېژندنې اوږد ستونزمن بهیر رالنډوي. هغوی ته یوازې د یادو ناروا کړنو د عاملینو نیونه او له قضایه بهیر وروسته مجازات ور په غاړه کېږي. په څېړنیزو راپورونو کې د کره اسنادو او شواهدو له مخې د یادو وګړو له ناروا کړنو پرده پورته شوې وي؛ یاد اسناد د قضایي بهیر په رالنډېدو کې اغېزمن رول لوبوي او قضایي ارګان ته د چټکې پرېکړې فرصت په لاس ورځي.

یاده خبریالي د نافذه قوانینو په رڼا کې پېښې سپړي، د شته قوانینو نیمګړي ټکي په ګوته کوي او په ټولنه کې ځینې داسې ناروا کړنې هم مومي، چې قانوني صراحت ونه لري. مقننه قوه د یادو راپورونو په مرسته د شته قوانینو بشپړونې او نویو هغو جوړونې انفاذ ته اړیستل کېږي. حکومت ته د ټولنیز نظم ساتنې لپاره د موظفو وګړو رسمي جوړښت دی.

ټولنیز عدالت ته لاره هوارول د یادې خبریالۍ بنسټیزه موخه ده. کله چې د نظام دننه په ناروا کړنو اخته چارواکي د عدالت مېز ته راکاږي، د نظام تصفیه کېږي، د ناروا کړنو مخه نیسي؛ حق حقدار ته سپاري او د نظام پایښت ته لاره پرانیزي. (الهام،۱۳۹٦ل).

پایله

د پلټونکې خبریالۍ موخو او ګټو په اړه په دې مقاله کې دې پایلې ته ورسېدو، چې پلټونکې خبریالي د هر چا د وس او توان خبره نه ده. دا د خبریالۍ داسې ډول او مسلک دی، چې په ټولنه کې لوی بدلون ته لاره هوارولای شي؛ د دولت او حکومت ناوړه پالیسي سموي، د غیر قانوني کړنو مخه نیولای شي، هر ډول فساد د منځه تللو سبب ګرځېدلی شي؛ ظلم، اختلاس، غصب ته د پای ټکی ږدي او مافیایي کړۍ له صحنې څخه ویستلای شي او رول یې په ټولنه کې دومره زیات دی، چې د هر ډول ناوړه باورونو د منځه وړلو سبب کېږي. د ټولنې وګړو ته ډېرې ګټې لري، د ټولنې د خلکو هر ډول ستونزو او مشکلاتو ته د حل لار پیدا کوي. د حکومت د کارونو د چټکتیا او تصفیې سبب کېږي او د درې ګونو قواوو پایې قوي کوي؛ همدارنګه د رسنۍ باور په ټولنه کې زیاتوي او د خبریال د عزت او شهرت سبب ګرځي.

مناقشه

د پلټونکې خبریالۍ او موخو په اړه د پلټونکې خبریالۍ په کتابونو کې ځینو موضوعاتو په اړه بحثونه شوي دي. د پلټونکې خبریالۍ په نړۍ کې په منځته راتګ په دې برخه کې د کار کولو په تګلاره کار شوی دی، خو ټولنې ته یې د ګټو او رول په اړه داسې ډېر څه د څېړنیز ژورنالېزم په کتابونو کې نه پیدا کېږي او ګټې یې داسې مشخصې شوې نه دي، چې چاته؟ کومه ډله خلکو ته؟ او څه ډول ګټې لري؟ چې په دې مقاله کې دا واضح شوي دي، چې دا ډول ژورنالېزم د ټولنې دې طبقې خلکو ته، لکه د ټولنې عامو وګړو، رسنۍ، خبریال او حکومت ته په بېلابېلو برخو کې ډېرې ګټې لري او د ژورنالیستیکو کارونو په برخه کې یې رول ډېر زیات دی.

**وړاندیزونه**

**۱ـ د پلټونکو خبریالانو سره باید په ټولنه کې حکومت او عام خلک مرسته وکړي او د دوی د کارونو د خنډ او ځنډ سبب ونه ګرځي.**

**۲ـ د افغانستان رسنۍ د نورو ژورنالیستیکي کارونو په لړ کې دې دې برخې ته ځانګړې پاملرنه وکړي، څکه د ټولنې ستونزو او مشکلاتو ته ژر د حل لاره پیدا کولای شي.**

**۳ـ پلټونکو خبریالانو ته په بېلابېلو دولتي او غیر دولتي ادارو کې معلوماتو او اطلاعاتو ته د لاسرسي اسانتیاوې برابرې شي.**

**اخځلیکونه**

**۱ـ الهام، احمد ضیاء. (۱۳۹٦ل)، پلټونکي خبریالي. علمي خپرندویه ټولنه.**

**۲ـ امینزی، معراج الدین. (۱۳۹٦ل)، د څېړنې او لیکنې تګلاره ـ ژباړه. لیکوال خپروندیه ټولنه.**

**۳ـ حبیب، خالد احمد. (۱۳۹۷ل)، د ژورنالېزم بنسټونه. مومند خپرندویه ټولنه.**

**۴ـ رحیل، محمد یحیی.(۱۳۹۲ل)، ژونالېزم تحقیقي. انتشارات رسالت.**

**۵ـ فقیرزاده، محمد عاطف.( ۱۳۹٦ل)، څېړنیز ژورنالېزم ـ ژباړه. اسد دانش مطبعه.**

**٦ـ سهار، نذیر احمد. (۱۳۹٦). رسنیزه څېړنه ـ ژباړه. مومند خپرندویه ټولنه**

**۷ـ شکاهپوري، یونس. ( ۱۳۹۲ل)، خبرنګاری تحقیقي. انتشارات رسالت.**

۸ـ مصلح، نثار احمد.(۱۳۹۵ل). د څېړنې میتودولوژي. یار خپرندویه ټولنه.

سید سجاد علي شاه

اقتصاد پوهنځی- ادارې او تجارت څانګه

# د جنوبي اسیا په هېوادونو کې د کوید-۱۹ وبا د ټولنیزو او اقتصادي اغېزو څېړنه

**لنډیز**

په دې وروستیو کې، چې د کوید-۱۹ وبا په ټوله نړۍ کې خپره شوه، د خلکو معیشت ته یې جدي ننګونې رامنځ ته کړې. نړیوال اقتصاد د یو لوی مشکل سره مخ شو او نړیوال اقتصاد د یو سخت بحران او نوې څېړنه

بې ساري ناورين په څنډه کې واقع شو. د دې څېړنې هدف د کوېډ-۱۹ وبا د اغېزو هغه لوی شاخصونو ته کتنه ده، چې په معینو ممالکو کې يې لري. نتیجې ته په کتلو سره د کوېډ-۱۹ وبا په رامنځ ته کېدو سره ګرځبندیز رامنځ ته شو، چې اقتصادي فعالیتونو او د لوی اقتصادي سایکلیک شاخصونو ته د ځنډ لامل شو. د وبا نه دمخه د نرخ د ودې سره په مقایسه کې د جنوبي اسیا د ټولو هیوادونو د ناخالصو تولیداتو د ودې کچه راټیټه شوې ده. سربېره پر دې د بېکارۍ کچه او د حساب بیلانس هم په سویلي اسیایي هیوادونو کې په بده توګه اغېزمن شوی دی. دې ټولو حالاتو ته په کتو سره توقع کېږي، چې په جنوب اسیایي هېوادونو کې د کوېډ-۱۹ وبا اقتصادي او ټولنیزې اغېزې اوږد مهاله او د پام وړ وې.

کلیدي کلمې: کوېډ- ۱۹، جنوبي اسیا، ټولنیزې اغېزې، اقتصادي اغېزې.

سریزه

د کرونا ویروس، چې په کال ۲۰۱۹ کې رامنځ ته شو او د کوېډ-۱۹ په نامه سره يادېږي، نه يوازې نړیوال اقتصاد بلکې د خلکو ژوند او معیشت ته يې يو لوی سرخوږی رامنځ ته کړ. دغه وبايي ناروغۍ، چې د يو صحي شاک په توګه منځ ته راغله او په نړیواله کچه يې ټولنيز او اقتصادي ننګونو ته وده ورکړه. په دغه نړۍ کې، چې د يو بل سره تړل شوې ده د يو بې ساري بحران د رامځ ته کېدو لامل وګرځېد. ( Ozili and Arun 2020) د کوېډ-۱۹ خپرېدل تر ټولو لوی سیستماتیک بحران د رامنځ ته کېدو لامل شو. دغه وبا ټول هیوادونه د ودې او پراختیا ته په نه کتو سره متاثره کړل. (Rasul et al. 2020 ) په لوړه کچه د نړیوال کېدو، اقتصادي ادغام او مختلفو اقتصادي

سکتورونو د يو ځايي فعالیت له امله کوم تغیر، چې په يو سکتور کې رامنځ ته کېږي، نور هم په مستقیمه توګه

اغېزمن کوي. اقلیمي تغیر په شان نور مشکلات نړیوالو ننګونو له جملې څخه دي؛ دا ځکه چې د رامنځ ته کېدو په صورت کې په ټوله نړۍ کې خپرېږي او په يو خاص مکان پورې تړاو نه لري. ( -Ibn (Mohammad et al., 2020

د کوېډ-۱۹ وبا ناوړه اقتصادي اغېزې د وروسته پاتې، مخ پر ودې او نویو اقتصادي پرمختللو ممالکو په اقتصاد باندې زيات د محسوسېدو وړ دي، چې ددې اکثریت بده اغېزه د عمومي تولید په مقدار کې

کمښت، د وظیفې د لاسه ورکول، د غربت د کچې زیاتښت، د خوړو بې نظمي او ولږه ده. په همدې توگه نړیوال ظرفیتونه او منابع، چې د همدې وبا او د دې وبا صحي، ټولنیزو او اقتصادي اغېزو پر وړاندې د ډال حیثیت درلودونکي دي، سره فرق لري.

د دوه بیلیون نفوس په درلودو سره جنوبي اسیا د نړۍ یو د پر نفوسه اماکنو له جملې څخه ده، چې سیاسي ثبات او اقتصادي پرمختگ ته یې خنډ واقع شوې ده. په دغه ساحه کې داسې یو پرمختللی صحي زیربنا سیستم شتون نه لري. بناً د کوید-۱۹ په څېر وبا د یو هر اړخیزه غربت زمینه په داسې حال کې برابروي، چې د مبارزې لپاره یې د ابزارو د کمښت سره مخامخ یو. هند او پاکستان د هغو هېوادونو له جملې څخه دي، چې د کوید-۱۹ زیات مریضان یې درلودل. بنگله دیش، افغانستان، سریلانکا او مالدیو هم په ترتیب سره ډېر شمېر د کوید-۱۹ مریضان درلودل.  د کوید-۱۹ مریضانو شمېر په نیپال او بوتان کې کم وو.

که څه هم جنوبي اسیایي ممالک د وبا په لومړیو مرحلو کې د ویروس د خپرېدو په وړاندې او د خلکو د ژوند په ژغورلو کې یوه اندازه کامیاب وو، اما دغه کامیابي د خورا لوېې اقتصادي بها په مقابل کې لاس ته راغله. گرځبندیز، چې په دوامداره توگه د اقتصادي فعالیتونو د بندېدو لامل شو؛ په اټکلي توگه یوه میاشت گرځبندیز د ۱،۵ نه تر ۲،۰ فیصد د ناخالصو کورنیو محصولاتو په تولید کې کمښت راولي. د هند اقتصاد د یو ورځ گرځبندیز په نتیجه ۴،٦۴ بیلیون ډالرو په اندازه تاوان سره مخ کېږي ( Acuite (Rating, 2020).

د جنوبي اسیایي ممالکو روغتیایي سیستم د دغه مملکتونو خلکو لپاره کافي نه دی. د ۱۰۰۰ اوسېدونکو لپاره په افغانستان کې ۲،۸، بوتان کې ۳،۸ ، بنگله دیش کې ۵،۳ او په نیپال کې ٦،۵ ډاکټران شتون لري، چې دغه اندازه د پرمختللو هیوادونو څخه ۱۰ واري کمه ده. هند چې د روغتیا پرمختللي سیستم درلودونکی دی، د ۱۰۰۰ کسانو لپاره ۷،۸ ډاکټران شتون لري ( Rasul, 2020). د روغتیایي سهولتونو او زیرمو د نشتون له امله جنوب اسیایي هیوادونو جدي پالیسۍ څخه په کار اخیستلو کوښښ وکړ، تر څو د کرونا ویروس د خپرېدو مخنیوی وکړي او د خلکو ژوند وژغوري.  په خاصه توگه په جنوب اسیایي ممالکو کې د یو کم شمېر اړینو فعالیتونو نه پرته نور اقتصادي فعالیتونه په ټپه درېدلي وو، په سفر کولو بندیز لگېدلی و، خلکو ته د خدماتو په رسولو بندیز لگېدلی و
او په همدې توگه د گاونډیو هېوادونو تر منځ په تگ راتگ باندې بندیز لگېدلی و. کارکوونکي په کور ناست وو، سرحدات بند شوي وو، محلي، ملي او بین المللي د اړیکو لارې مختل شوې وې.

په اوس وخت کې د جنوب اسيايي هېوادونو د دولتونو د فعاليتونو د کړنو نتيجه، چې هغوی په خپلو هېوادونو کې ترسره کړي، تر څو د کرونا ويروس د خپرېدا مخنيوی وشي، لا نه ده څرګنده. په همدې ليکنه کې د کرونا وايرس له امله د جنوب اسيايي هېوادونو په اقتصادي فعاليتونو باندې اغېزه څېړل شوې ده. بيا هم دا خبره بايد ذکر شي، چې دغه ليکنه په يو مقدار کمو فعاليتونو، لکه روغتيا ( Ather et al)، توررېزم ( Gossling et al., 2020)، معدن ويستنه ( Laing, 2020)، او اقتصاد ( Laing, 2020) ته کتنه شوې ده. ( Fernandes, 2020; Ozili and Arun, 2020; Farnaro and Wolf, 2020). دغه ليکنه به د موجوده معلوماتو په زياتېدو کې، چې د کويډ-۱۹ اغېزه په ټولنيز او اقتصادي فعاليتونو او د هغو پر وړاندې د عکس العمل ښودل دي، په جنوب اسيايي هيوادونو کې اضافه والی راوړي.

موخې

ددې څېړنې د ترسراوي ستره موخه د جنوبي اسيا په هېوادونو کې د کويډ- ۱۹ د ټولنيزو او اقتصادي اغېزو څېړل دي.

ادبي کتنه

اوزلي کی پي په ۲۰۲۰م کال کې د کرونا ويروس اغېزې په ټولنيزو او اقتصادي فعاليتونو باندې، چې د افريقايي هېوادونو په اقتصاد او ټولنه باندې يې لري، څېړلې دي. د هغه د تحقيق په نتيجه کې د کرونا ويروس اغېزه په افريقايي هېوادونو باندې نظر نورو هېوادونو ته زياته ده. د ټولنيز واټن ساتل اجباري کول په خلکو د هغوی نه يوازې ټولنيز، بلکې اقتصادي چارو هم اغېزه لري. که څه هم هر افريقايي هېواد د ټولنيز واټن ساتلو لپاره په مختلفې اندازې سره د جديت نه کار اخيستی دی.

د هيلمن ( ۲۰۲۰ م) له نظره دغه وبا د خلکو ورځنی ژوند اغېزمن کړی او د نړيوال اقتصاد سرعت يې ورو کړی دی. د لومړنيو توکو د توليد محدودول، د سوداګريزو توکو د رسولو د سلسلې ګډوډول، ملي او نړيوال اقتصاد ته زيان، د نغدو پيسو کمول په بازار کې او د عايداتو په وده کې کمښت له هغه اقتصادي اغېزو څخه دي، چې کرونا وايرس له امله ليدل کېږي. د ورزشي سياليو او جشنونو لغوه کول د هغو اغېزو له جملې څخه دي، چې کرونا وايرس په ټولنيزو چارو درلودلې.

د ګوډیل له نظره ( ۲۰۲۰ م) اړینه ده، چې کویډ-۱۹ د ورته تاریخي پېښو سره په مقایسه په داسې حال کې په پام کې ونیسو، چې ورته نتیجه یې درلوده. د ګوډیل او وګنار له نظره ( ۲۰۲۰م) دغه روغتیایي بحران په یو روغتیایي

ناورین په داسې حال کې بدل شوی، چې مالي اړخ غوره کړو. بارو په کال ۲۰۲۰م کې د انفلوینزا په وبا باندې داسې تحقیق ترسره کړ، چې ایا د انفلوینزا وبا ۱۹۱۸-۱۹۲۰ کې اقتصادي رکود رامنځته او مرګ ژوبله یې درلوده او که نه؟ دوی په په دې پوه شول، چې د مرګ اندازې په راکمېدو سره سټاک او لنډ مهاله دولتي بیلونه بېرته خپل اصلي حالت ته  راګرځېدلي دي. اوزلي او آرون په کال ۲۰۲۰م کې دا معلومه کړه، چې د ګرځبندیز د وخت تمدید، د مالي اصولو په برخه کې تصامیم او بین المللي محدودیتونه په پراخه اندازه په نړیوال اقتصاد باندې اغېزه درلوده او د سټاک مارکېټ په انډیک باندې د سټاک مارکېټ بندول، خلاصول او د سټاک لوړ قیمت هم په خپل وار سره اغېزه درلوده.  دوی زیاتوي، چې  داخلي خوځښتونه او د مالي لګښت په کچه کې زیادښت په اقتصادي چارو مثبته اغېزه درلوده. د زنګ له نظره ( ۲۰۲۰م) کرونا ویروس په نړیواله کچه په ټولو مالي مارکېټونو اغېزه درلوده. دا ښايي، چې په لنډ مهاله توګه به د سرمایه ګزارانو د لاسه ورکولو سره مخ شو. د یو ساده موډل څخه په استفادې، فیرنارو (۲۰۲۰م) کې وښودله، چې کرونا ویروس د منفي اکمالاتي شاک لامل کېږي. دوی داسې نظر وړاندې کوي، چې قوي مالي او پولي کړنلارو څخه په استفادې سره کولای شو، چې د دغه منفي اکمالاتي شاک څخه ځان په داسې حال کې وژغورو، چې په کار او تولید منفي اغېزه لري.

دغه وبا په تجارت باندې خورا زیاته اغېزه لري. د دغه بې ثباتۍ اوږد مهاله اغېزې به په نړیوالتوب باندې ولري، چې دا به دوام، همکار او عامه سکتور اغېزمن کړي ( ډونالډ ۲۰۲۰). پخوا به ټولو لویو تجارتي ادارو مالي اهداف درلودل. بل اړخ ته متصل تجارت هم خپل اهمیت په اوس وخت کې دلاسه ورکړی دی.

د نړیوالتوب ګټې په یو ځانګړي ډول سره ویشل شوي دي ( رومي، ۲۰۱۱) په همدې توګه د کرونا وبا د هغو خلکو، چا چې خپلې دندې دلاسه ورکړي دي، په رواني توګه متاثر کړي دي. د مسلکي او ټولنیز ژوند تر منځ فاصله کمه او د کور څخه د دندې په ترسره کولو سره د کارمندانو ارام د منځه تللی دی ( پیټ او فروسټ، ۲۰۲۰). کارمندان د موجوده حالت په اړه په تشویش کې دي، چې د دغه کارمندانو رواني حالت ته په لویه کچه زیان رسېدلی دی. د محاسبې له نظره نه، د وبا څخه د مخه او وروسته نړۍ به په هیڅ صورت سره یو شان نه وي. دا ځکه چې خلک د یو بل څخه جلا، میلیونونه انسانانو خپل

ژوند دلاسه ورکړ او نړیوال اقتصادي سرعت په چټکۍ سره کم شو. خلک مجبوره کړای شول، تر څو د بې وظیفې د تریخ حقیقت، مرض او خفگان سره مخ شي، چې نتیجه د کنټرول په پار زیاتو مبارزو ته اړتیا لیدل کېږي. د کرونا ویروس د خلکو په روان باندې داسې اغېزه درلوده، چې دغه اغېزه به د اوسنیو او راتلونکو نسلونو د ژوند دود د تغیر لامل وگرځي.

مواد او کړنلاره / Materials and Methods

د دې څېړنې هدف د کرونا ویروس د اقتصادي او ټولنیزو اغېزو څېړل په جنوبي اسیایي هېوادونو لکه افغانستان، پاکستان، هند، بنگله دیش، بوټان، مالدیو، نیپال او سریلانکا کې. دغه څېړنه به د کرونا ویروس د لومړۍ څپې د

اغېزو څېړل ترسره کړي، کومه چې د ۲۰۲۰ کار د مارچ په میاشت کې په دغه جنوبي اسیایي هېوادونو کې خپره

شوه او ځینې پېښې یې په فبروري میاشت کې ثبت شوې. د وبا د لومړۍ څپې په تعقیب سره د جنوبي اسیا هېوادونو دولتونو د ویروس د خپرېدو د مخنیوي په پار یو سلسله اقدامات ترسره کړل، چې په هغو کې کور په کور بندیز او د ۲۰۲۰ کال د مارچ د میاشتې څخه د ۲۰۲۰ کال د جون د میاشتې پورې پوره گرځبندیز عملي کړو. د دغه وخت څخه وروسته دولتونو تصمیم ونیوه، چې پورته ذکر شوي اقدامات په ورو ډول سره کم کړي او د خلکو ټولنیزو فعالیتونو او په دندو کې د خلکو د مشغولېدو لپاره یې زمینه سازي وکړه، چې په دې ټوله پروسه کې یې جدي ستندردونو ته پاملرنه درلوده. د ویروس د مخنیوي اقدامات او گرځبندیز د خلکو ټولنیز او اقتصادي ژوند په جنوبي اسیایي هېوادونو کې متاثره کړ. په همدې اساس دغه تحقیقي لیکنه به د کویډ-۱۹ اغېزه په لویو اقتصادي شاخصونو باندې د بحث مجموعه وي.

د مقالې د ترتیب لپاره معلومات د worldmeter.com، بانک جهاني ډیټابیس، د اسیایي هېوادونو پراختیایي بانک او د ذکر شویو هېوادونو د مرکزي بانکونو د ډیټابیس څخه ترلاسه شوي دي. گرافیکي او عددي میتودونو څخه په کار اخیستو سره د کویډ-۱۹ اغېزه د جنوبي اسیایي هېوادونو په اقتصاد او ټولنیز ژوند باندې د ۲۰۱۴ څخه تر ۲۰۲۰ کال پورې ترتیب شوي دي. دغه دوره د دې لپاره انتخاب

**شوې ده، تر څو وکولای شو چې د وبا د خپرېدو څخه دمخه او وروسته د جنوبي اسيايي هېوادونو کې د دغه وبا اغېزه په ټولنيز او اقتصادي حالاتو په درست ډول سره وڅېړل شي.**

**په جنوب اسيايي هېوادونو کې د کويډ-۱۹ خپرېدل**

**د دې لپاره چې وکړای شو د کويډ-۱۹ وبا اوسنۍ د شدت درجه درک کړو، وروستي ارقام چې په هغه کې په کويډ-۱۹ د اخته، مړو او ښېرته روغ شويو کسانو ارقام په جنوب اسيايي هېوادونو کې وړاندې کوو. د worldmeter.com د وخت سره سم د کرونا ويروس د خپرېدو ارقام وړاندې کوي. ۱ نمبر جدول د کويډ-۱۹ مجموعي قضيې، د مړو شمېر او ښېرته صحت ياب شوي افرادو تعداد د جنوب اسيايي هېوادونو ښايي، کوم چې د دې تحقيق موضوع ده. د دغه جدول څخه په استفادې مونږ کولای شو، چې د کويډ-۱۹ عمومي تصوير د جنوب اسيايي هېوادونو په اړه په ذهن کې جوړ کړو. هند د مجموعي ثبت شويو قضيو په کتار کې لومړی مقام**

**درلودونکی دی، چې د مړو او ښېرته صحت ياب شويو تعداد يې ريکارډ شوی دی. بنګله ديش هغه هېواد دی، چې د ثبت شويو قضيو له نظره دويم مقام لري، اما پاکستان بيا هغه هېواد دی، چې د مړو شمېر يې دويم مقام ته ډيپورته کوي. بوتان د سارک هېوادونو له جملې څخه هغه هېواد دی، چې بهترين موقف د ځان سره لري او تر ټولو د کمو ثبت شويو قضيو درلودونکی دی.**

Table 4.1. Spread of COVID-19

| Country | Population | Total cases | Total deaths | Total tests | Positive rate |
|---|---|---|---|---|---|
| Afghanistan | 38,041,754 | 51,526 | 2,191 | | |
| Bangladesh | 163,046,161 | 513,510 | 7,559 | 3,224,409 | 8.10% |
| Bhutan | 763,092 | 670 | | 281,699 | 0.30% |
| India | 1,366,417,754 | 10,266,674 | 148,738 | 172,049,274 | 1.80% |
| Maldives | 530,953 | 13,757 | 48 | 314,600 | 1.10% |
| Nepal | 28,608,710 | 260,593 | 1,856 | 1,932,477 | 11.00% |
| Pakistan | 216,565,318 | 482,178 | 10,176 | 6,696,068 | 5.60% |
| Sri Lanka | 21,803,000 | 43,299 | 204 | 1,250,417 | 4.90% |

Source: World meter of COVID-19

**پر ټولنيز ژوند د ګرځبنديز اغېزه**

**په داسې حال کې، چې ټولنيز واټن ساتل، فزيکي جدايي د خلکو تر منځ ګرځبنديز د دغه ويروس سره په مبارزه کې اساسي رول لوبوي، د يو پلوه يې د دغه ځای د ميليونونو خلکو په ژوند باندې منفي اغېزه په داسې حال کې درلوده، چې د دغه موقعيت د نړۍ د يو پر درې برخې د غريبې طبقې د اوسېدو ځای دی ( ESCAP, 2020). د دفاترو، رستورانتونو، هوټلونو، ښوونځيو، پوهنتونونو او تعليمي ځايونو، بين المللي سرحداتو، محلي سرحداتو تړل او په ټولنيزو يوځای کېدو بنديز لګول د هغو مواردو له جملې څخه دي، چې د جنوب اسيايي هېوادونو دولتونو په کار واچول ( ۲ام جدول). په داسې حال کې، چې دغه موارد د ويروس د خپرېدو د مخنيوي په برخه کې موثر او په عين حال کې دغه ټولنو ته په لوړ ټولنيز او مالي قيمت تمام شو. توريزم، صادرات،**

**تاديات او نور خارجي مالي منابع، چې جنوب اسيايي هېوادونو ته يې ګټه رسېده، په پراخه پيمانه اغېزمن شو. دا چې په اضطراري بڼه په کور د پاتې کېدو او ښوونځيو د تړلو امر وشو، کورنيو يو سلسله اقتصادي رکود تجربه کړو. په دغه کورنيو کې داسې کورنيو شتون درلود، چې په مستقيمه بڼه څکه د دغه تړلو څخه متاثره شول، چې ډېری يې د ټيټ عايد درلودونکي وو. د دندو د لاسه ورکول، د تجارت درېدل، د زراعتي فعاليتونو مختل کېدل،**

د اخیستونکو اجناسو د قیمت لوړېدل، د پلورونکو اجناسو د قیمت ټیټېدل او په همدې ترتیب د کورنۍ د حمایت کوونکي مریضي او یا مړینه د هغو مثالونو له جملې څخه دي، چې دغه رکود ښايي. برعلاوه د جنوب اسیايي هېوادونو دولتونو د ۲۰۲۰ کال د مارچ په میاشت کې د ټولو تعلیمي اماکنو د تړلو امر په موقتي بڼه صادر کړ، چې د ویروس د خپرېدو سره دغه مدت زمان زیات او د تعلیمي اماکنو د تړلو موده اوږده شوه.

Table 4.2 COVID 19 Lockdown Measure in South Asian Countries

| Country | Lockdown Measure | Education Institute | International Travel | Land Transport |
|---|---|---|---|---|
| Afghanistan | Starts from 22 March to 24 May | Closure form 14 March | Open for immigrants only | Neighbor countries imposed passive restriction at border |
| Bangladesh | Starts from 26 March and extended further to May 30. | Closure form 17 March | Closed | Cargo trains |
| Bhutan | Tourism entry closed from 6 March; lockdown from April 1 to 21 | Closure form 5 March | Closed | Open only for Basic goods |
| India | Starts from 25 March to 31 May and further extend till 30th June in containment zones. | Closure form 16 March | Closed | Neighbor countries imposed passive restriction at border |
| Maldives | On March 19 Public health emergency was declared, and from 1 April to 12th June lockdown imposed in greater Male' | Closure form 13 March | Closed | Not Applicable |
| Nepal | Starts 23 March to 2 June and extended to 14 June | Closure form 19 March | Closed | Conflicting information |
| Pakistan | 1 April to 9 May. lockdown lifted | Closure form 12 March | Closed | Banned |
| Sri Lanka | On 15 March Public holiday was declared and from 20 March to 11 May lockdown imposed | Closure form 12 March | Closed | Banned |

جدول ۴,۲: د کوید-۱۹ د ګرځبندیز اقدامات په جنوب اسیايي هېوادونو کې.

**پر اقتصادي ودې یې اغېزه**

**دغه وبا په نړیوال اقتصاد باندې بده اغېزه درلوده. په اقتصادي وده د دغه وبا اغېزه په دومره اندازه زیاته وه، چې په تېرو ۱۰۰ کلونو کې داسې هیڅ شي نه وه اغېزمنه کړې ( جیکسن، ۲۰۲۰). د ګراف له مخې د**

**بنګله دیش د ناخالصو توکو د تولید اندازه په لوړېدو ده. د بنګله دیش هېواد د ودې اندازه ۸,۲ فیصده ته په ۲۰۱۹م کال کې راټیټه او په ۲۰۲۰م کال کې ۰,۵ فیصده ته راښکته شوه او دا په داسې حال کې، چې د فیشني کالیو خریدارانو په تېزۍ سره مخ واړوو. هند هم په همدې توګه د ۲۰۱۴م کال څخه تر ۲۰۱۸م کال پورې د کورنیو ناخالصو تولیداتو په مقدار کې زیادښت درلود، چې د وبا له امله دغه مقدار د خراب او ۴۱,۸ فیصده ته راټیټ شو، چې وروسته په ۲۰۲۰م کال کې -۷,۹۷ فیصده ته راښکته شو.**

**په همدې توګه کویډ-۱۹ د پاکستان هېواد د ناخالصه تولیداتو مقدار -۰,۴ فیصده څخه په ۲,٦ فیصده کمښت سره، چې د راپوروني پر بنیاد د کویډ-۱۹ څخه د مخه ۲,۲ فیصده وو. د مالدیو هېواد د ناخالصه تولیداتو اندازه په تفاوت سره توقع کېږي، چې کمه شوي وي؛ د وبا د اغېزې څخه وروسته، چې ټول بین المللي سفرونه دغه هېواد ته د بندیز سره مخ شول. د کویډ-۱۹ منفي اغېزې د افغانستان او سریلانکا هېواد په ناخالصه تولیداتو باندې زیاته وه، چې په ترتیب سره یې د ۲,۱ او ۵,۲ فیصده کمښت په ۲۰۲۰م کال کې تجربه کړو. د نیپال هېواد د ناخالصه تولیداتو سرعت په ۲۰۱۹م کال کې ٦,۹۹ فیصده څخه -88.1 فیصده ته ځکه راټیټ شو، چې زراعتي او توریستي سیستمونه یې د کمزورتیا سره مخ شول. په ۲۰۲۰م کال کې د بوتان هېواد د ناخالصه تولیداتو اندازه په تقریبي بڼه ۰,۲ـ ته راټیټه شوه، په داسې حال کې، چې په ۲۰۱۹م کال کې ۵,۴٦ فیصده وه.**

**جدول۴,۳: د ناخالصه تولیداتو د ودې اندازه.**

Table 4.3 GDP Growth Rate

| Country | 2014 | 2015 | 2016 | 2017 | 2018 | 2019 | 2020 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Afghanistan | 2.72 | 1.45 | 2.26 | 2.65 | 1.19 | 3.91 | 1.80 |
| Bangladesh | 6.06 | 6.55 | 7.11 | 7.28 | 7.86 | 8.15 | 0.50 |
| Bhutan | 5.78 | 6.64 | 8.13 | 4.65 | 3.06 | 5.46 | -0.82 |
| India | 7.41 | 8.00 | 8.26 | 7.04 | 6.12 | 4.18 | -7.97 |
| Maldives | 7.33 | 2.88 | 6.34 | 7.21 | 8.13 | 6.99 | 0.00 |
| Nepal | 5.99 | 3.32 | 0.59 | 8.22 | 6.70 | 6.99 | -1.88 |
| Pakistan | 4.67 | 4.73 | 5.53 | 5.55 | 5.84 | 0.99 | -0.50 |
| Sri Lanka | 4.96 | 5.01 | 4.49 | 3.58 | 3.31 | 2.28 | -3.30 |

Source: World bank dataset and ADB forecast

**منبع: د بانک جهاني ډیتابیس او ای ډي بي اټکل.**



**په فعلي بانکي اکاونټ بیلنس باندې یې اغېزه**

**دا چې فعلي بانکي بیلنس اکاونټ باید په تیوریکي بڼه صفر وای، دا مونږ ته په ګوته کوي تر څو پوه شو، چې یو هېواد په وده یا کسري حالت کې قرار لري. د ودې څخه هدف دا دی، چې یو د هېواد اقتصاد ټولې نړۍ ته پور ورکوونکی دی او کسر د دې ښکارندویه دی، چې د یو هېواد اقتصاد د نړۍ پور اخیستونکی دی. تجارت د تېلو قیمت او تادیاتو ته ضربه په فعلي بانکي اکاونټ کې د خورا لوی تغیر لامل شو، چې دغه ټول د کویډ-۱۹ وبا اغېزې شمېرل کېږي.**

**دا په مناسبه وي، چې د منفي تجارت د وبا د اغېزې څخه فرض کړو، چې دغه اغېزه امکان لري په ملي سطحه لوړه شي. دغه وبا دواړه غوښتنه او رسونه متاثره کړل، چې دا خبره بالډ وین په پیل کې بیان کړې وه ( ۲۰۲۰م). د یو هېواد د وارداتو په غوښتنه باندې اغېزه څکه نامعلومه ده، چې دواړه منفي دي. د وبا اغېزه د یو هېواد په نورو تجارتي همکارانو او په خپله د یو هېواد تقاضا د صادراتو لپاره یو خاص هېواد ته نامعلومه ده، په دې مربوط کېږي، چې په کوم شکل سره د درېیم هېواد د غوښتنې او عرضې فکتورونه متاثره کېږي.**

**ډېری هېوادونو خپل سرحدات په موقتي شکل سره وتړل، خپل غیر ضروري صادرات یې تعویق او ودرول، د صادراتو فرمایشات یې کنسل کړل. د وارداتو پرمختګ په وروستیو لسیزو کې د جنوبي اسیایي هېوادونو مصرف زیات کړ. د جنوبي اسیایي هېوادونو کلیدي تجارتي همکاران عبارت دي له ایالات متحده امریکا، اروپا او چین څخه، چې د کویډ-۱۹ ټول په شدیده توګه متاثره کړل او اقتصاد ته یې ضربه ورسوله. تجارت او صادرات د خرابېدو سره څکه مخ شول، چې په خارجي تقاضا کې کمښت رامنځ ته شو. بناً کویډ-۱۹ د جنوب اسیایي**

**هېوادونو په صادراتو او وارداتو باندې منفي اغېزه درلوده. ګراف دا په ګوته کوي، چې د مالدیو، افغانستان او بوتان هېوادونو فعلي بیلنس اکاونټ د کویډ-۱۹ له امله زیات اغېزمن شو، په داسې حال کې، چې نور جنوب اسیایي هېوادونه په کمه اندازه په دې برخه کې اغېزمن شول.**

**جدول۴،۴: فعلي بانکي بیلنس ( د ناخالصه تولیداتو فیصدي)**

Table 4.4 Current Account Balance (% of GDP)

| Country | 2014 | 2015 | 2016 | 2017 | 2018 | 2019 | 2020 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Afghanistan | -15.8 | -21.1 | -15.0 | -18.8 | -21.2 | -19.7 | -19.5 |
| Bangladesh | 0.4 | 1.3 | 0.4 | -2.4 | -2.6 | -1.0 | -1.5 |
| Bhutan | -25.7 | -27.4 | -28.8 | -22.1 | -19.5 | -19.8 | -21.6 |
| India | -1.3 | -1.1 | -0.5 | -1.4 | -2.4 | -1.0 | -0.3 |
| Maldives | -3.2 | -7.3 | -23.6 | -21.6 | -28.4 | -26.8 | -31.8 |
| Nepal | 2.5 | 11.4 | -0.8 | -4.1 | -9.5 | -5.6 | -2.5 |
| Pakistan | -1.5 | -1.0 | -2.6 | -5.3 | -6.0 | -2.6 | -1.1 |
| Sri Lanka | -2.5 | -2.3 | -2.1 | -2.6 | -3.2 | -2.2 | -3.6 |

Source: World bank dataset and ADB forecast




**په کارموندنه یې اغېزه**

**سلګونه میلیونه هغه خلک، چې د تیټ عاید درلودونکي وو، خپلې دندې یې په داسې حال کې دلاسه ورکړې، چې مسؤلینو وخیم حالت اعلان او خلکو ته امر وشو، تر څو په کور پاتې شي او په ټولنیزو غونډو کې د راجمع کېدو څخه مخنیوی وکړي. په نتیجه کې د کورنیو عاید د مختلفو منابعو څخه راکم او اصغري حالت یې غوره کړ.**

**د ۸ بیلیون نفوس په درلودو سره، چې د ټولې نړۍ تقریباً ۲۵٪ تشکیلوي، د جنوب اسیایي هېوادونو ساحه د زیاتو اوسېدونکو ځای دی. په دغه ځای کې د نړۍ تر ټولو زیات مقدار خلک په کار بوخت دي، چې د تقریباً ۱,۷ بیلیون سره برابر دي؛ بیا هم د بېکارۍ فیصدي ۴٪ ده ( بلوم & مک کینه، ۲۰۱۵). ګرافیکي ښودنه، چې په هغې کې د بېکارۍ سلنه د ۲۰۱۴ نه ۲۰۲۰م کال پورې ښودل شوې ده، ښایي چې د بېکارۍ اندازه په دغو ټولو جنوب اسیایي هېوادونو کې زیاته شوې ده. کویډ-۱۹ په اقتصادي فعالیتونو کې د خنډ د رامنځته کېدو لامل شوې ده، چې نتیجه یې په کال ۲۰۲۰م کې د دندو دلاسه ورکول او د ګټې مقدار راټیټېدل دي. په دغه ساحه کې د بېکارۍ موضوع تقریباً یوشان لیدل کېږي.**

Table 4.4 Unemployment Rate

| Country | 2014 | 2015 | 2016 | 2017 | 2018 | 2019 | 2020 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Afghanistan | 11.448 | 11.387 | 11.313 | 11.184 | 11.057 | 11.118 | 11.16 |
| Bangladesh | 4.395 | 4.378 | 4.35 | 4.372 | 4.281 | 4.19 | 4.15 |
| Bhutan | 2.63 | 2.45 | 2.416 | 2.358 | 2.303 | 2.342 | 2.39 |
| India | 5.608 | 5.565 | 5.511 | 5.419 | 5.33 | 5.355 | 7.11 |
| Maldives | 5.21 | 5.667 | 6.12 | 5.981 | 5.849 | 6.138 | 6.43 |
| Nepal | 1.499 | 1.475 | 1.446 | 1.396 | 1.35 | 1.407 | 1.47 |
| Pakistan | 1.827 | 3.566 | 3.789 | 3.945 | 4.083 | 4.453 | 4.45 |
| Sri Lanka | 4.194 | 4.519 | 4.242 | 4.18 | 4.119 | 4.198 | 4.18 |




**پایله**

**په دې څېړنيزه مقاله کې د کوېډ-۱۹ ټولنيزه او اقتصادي اغېزه په هغو هېوادونو کې مطالعه شوه، چې د سارک (SAARK) جوړوونکي دي. هند او پاکستان د هغه هېوادونو له جملې څخه دي، چې د کوېډ-۱۹ زيات مقدار ثبت شوي قضيې يې درلودې. په تعقيب سره يې بنګله ديش، افغانستان، سريلانکا او مالديو قرار لري. په نيپال او بوتان کې د کوېډ-۱۹ يو څو منفي قضيې ثبت شوي دي.**

**ارقام ښايي، چې د کرونا ويروس وبا د جنوبي اسيايي هېوادونو د اوسېدونکو په اقتصاد او ټولنيز ژوند باندې اغېزه درلوده، که څه هم ټولنيز واټن ساتل او داسې نور د مخنيوي اقدامات موقتي وو. په دغه وخت کې د ټولنيز واټن ساتل قوانين جبراً عملي کول، اوسېدونکو ته اجازه نه وه، چې په لويو ګروپونو کې دخيل وي او په همدې ترتيب اجازه يې نه درلوده، چې په مارکېټ کې په تجارتي فعاليتونو کې دخيل واوسي. د نړۍ د يو پر درېيمې برخې د نفوس په درلودو سره کوېډ-۱۹ د جنوب اسيايي هېوادونو په اقتصاد باندې تر ټولو ناوړه اغېزه درلوده او د رکود لامل يې وګرځېد. د اساسي توکو د توليد کمښت، د عرضې د وړاندې کولو د ځنځير مختل کول، په ملي او نړيوال تجارت کې تاوان، په بازار کې د نغدې پيسو د جريان کمزوري کېدل، د عايد په پراخه پيمانه کمېدل، د ونډو دلاسه ورکول په کوچنۍ، متوسط**

او لویه سطحه، د دندو د مارکېټ راکمېدل او داسې نور هغه اقتصادي اغېزې دي، چې د کوید-۱۹ وبا په جنوب اسیایي هېوادونو کې درلودې.

## References


1. Acuité Ratings (2020). Covid-19 lockdown estimated to cost India $4.5 billion a day: acuité Ratings. The HINDU Business Line. April, 2
2. Ather, A., Patel, B., Ruparel, N.B., Diogenes, A. and Hargreaves, K.M. (2020). Coronavirus Disease 19 (COVID19): implications for clinical dental care. Journal of Endodontics, 46 (5), 584-595
3. Baldwin, R (2020). The Greater Trade Collapse of 2020: Learnings from the 2008-09 Great Trade Collapse. VoxEU.org, 7 April
4. Barro, R.J., Ursua, J.F. and Weng, J. (2020). The Coronavirus and the Great Influenza Pandemic: Lessons from the 'Spanish Flu' for the Coronavirus's Potential Effects on Mortality and Economic Activity (No. W26866), National Bureau of Economic Research, Cambridge, MA, available at: https://www.nber.org/papers/w26866
5. Beltekian, Diana, Daniel Gavrilov, Charlie Giattino, Joe Hasell, Bobbie Macdonald, Edouard Mathieu, Esteban OrtizOspina, Hannah Ritchie, and Max Roser. 2020. "Data on COVID-19 (Coronavirus) by Our World in Data." GitHub website, 30 July, 2020https://github.com/owid/covid-19-data>. Accessed 11 January 2020
6. Donald, M. (2020). How leaders can manage the disruption caused by the pandemic. [version 1; peer review: awaiting peer review]. Emerald Open Res. 2:30. doi: 10.35241/emeraldopenres.13713.1

7. Fernandes, N. (2020). Economic effects of coronavirus outbreak (COVID-19) on the world economy. Available at SSRN 3557504
8. Fornaro, L. and Wolf, M. (2020), Covid-19 Coronavirus and Macroeconomic Policy, Working Paper, available at: SSRN: https://ssrn.com/abstract=3560337
9. Goodell, J.W. (2020). COVID-19 and finance: agendas for future research. Finance Research Letters, p. 101512
10. Gossling, S., Scott, D. and Hall, C.M. (2020). Pandemics, tourism and global change: a rapid assessment of COVID-19. Journal of Sustainable Tourism, pp. 1-20
11. Haleem, A., Javaid, M. and Vaishya, R. (2020). Effects of COVID 19 pandemic in daily life. Current Medicine Research and Practice, pp. 1-2
12. Ibn-Mohammed, T., Mustapha, K. B., Godsell, J. M., Adamu, Z., Babatunde, K. A., Akintade, D. D., et al. (2020). A critical analysis of the impacts of COVID-19 on the global economy and ecosystems and opportunities for circular economy strategies. Resour. Conserv. Recycl. 105169. doi:10.1016/j.resconrec.2020.105169
13. Jackson, J. K., and others (2020). Global Economic Effects of COVID-19. Congressional Research Service
14. Laing, T. (2020). The economic impact of the Coronavirus 2019 (Covid-2019): implications for the mining industry. The Extractive Industries and Society, in press

15. Mahase, E. (2020). Coronavirus: Covid-19 has killed more people than SARS and MERS combined, despite lower case fatality rate. BMJ 368:m641. doi: 10.1136/bmj.m641

16. Ozili, P.K. and Arun, T. (2020). Spillover of COVID-19: impact on the global economy. Available at SSRN 3562570

17. Ozili, P.K. (2020). Covid-19 pandemic and economic crisis: the Nigerian experience and structural causes. Available at SSRN 3567419

18. Pratt, B. A., and Frost, L. (2020). COVID-19 and the Status of Women's, Children's, and Adolescents' Health and Rights: A Targeted Literature Review of Current Evidence for Action on Universal Health Care (UHC) and Accountability. Availble at: https://iapewec.org/wp-content/uploads/2020/05/Final_TargetedReview_Covid-and-Accountability-for-WomensChildrens-and-Adolescents Health_GLOHI-1.pdf

19. Ramelli, S. and Wagner, A.F. (2020). Feverish stock price reactions to covid-19. CEPR Discussion Paper No. DP14511. Available at SSRN, Available at: https://ssrn.com/abstract53560319

20. Rasul, G. (2020). A framework for improving policy priorities in managing COVID-19 challenges in developing countries. Front. Public Health. 8, 589681. doi:10.3389/fpubh.2020.589681

21. Roome, N. (2011). A retrospective on globalization and sustainable development. Bus. Prof. Ethics J. 30, 195– 230. doi: 10.5840/bpej2011303/410

22. UNICEF ROSA. (2020). Emergency Universal Child Benefits: Addressing the Social and Economic Consequences of the COVID-19 Crisis in South Asia

23. World Bank (2020). Global Economic Prospects, June 2020. <https://doi.org/10.1596/978-1-4648-1553 9

24. Worldometer. (2021). Covid-19 Coronavirus Pandemic. <https://www.worldometers.info/coronavirus

25. Zhang, D., Hu, M. and Ji, Q. (2020). Financial markets under the global pandemic of COVID-19. Finance Research Letters, in press

**نصرت الله عبید**

**اقتصاد پوهنځی- د منجمنټ ساینس څانګه**

# د ننګرهار ولایت د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسساتو پر اجرااتو د ستراتیژیک پلان اغېزه

## لنډیز

عالمان او په بزنس کې ښکېل خلک دواړه په دې نظر دي، چې اداراتو سره تغیرات تړلي دي او ځانونه باید د دغو تغیراتو سره عیار کړي، له هغې پرته نه شي کولای، چې په مارکېټ کې پاتې او پرمختګ وکړي. د دې لپاره چې تغیراتو سره ځان عیار کړي اداري باید ستراتیژیک پلان ولري. تغیراتو سره تړلې نړۍ ته ستراتیژیک پلان د ملا تیر حیثیت لري او د تغیراتو په قبلولو کې همکاري کوي. د تحقیق اساسي هدف د ننګرهار ولایت د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسساتو پر اجرااتو د ستراتیژیک پلان اغېزه معلومول دي. ډېټا یا معلومات د پوهنتونونو او پوهنځیو د رئیسانو او د څانګو له آمرینو او استادانو څخه راټول شوي دي. په ټوله کې ۱۷۲ پوښتنپاڼې ځواب ورکوونکو ته توزیع او د نمونې د ټاکلو لپاره د Z – SCORE فورمول نه استفاده شوې ده. د اولیه معلوماتو تحلیل په SPSS سافټویر باندې ترسره او تر څنګ یې د OLS میتود مربوطه فرضیې چک شوې دي. د ستراتیژیک پلان بعدونه له

لرلید او ماموریت بیانیو، SWOT تحلیل، د همغږۍ قراردادونه، د تحقیق او پرمختګ د دیپارتمنت او د data base له موجودیت څخه عبارت دي. له بل پلوه د اداري اجرااتو بعدونه مجموعي کارونو ته له تمایل، د تجاربو شریکولو، د ښه کار په بدل کې له انعام ورکولو، په مارکېټ کې د ډېرې برخې نیولو، پرمختګ، ګټې، ابتکاراتو او د رسمي او غیر رسمي زده کړو له موجودیت څخه عبارت دي. په تحقیق کې د adopted سوالونو څخه استفاده شوې ده او د څېړنې پایله څرګندوي، چې ستراتیژیک پلان د اداراتو پر اجرااتو قوي اغېزه لري.

کلیدي کلمې: ستراتیژیک پلان، خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې، اداري اجراات، ننګرهار، افغانستان.

## سریزه

ستراتیژیک پلان د کمپنیو او کارمندانو لپاره، چې په اداراتو کې کار کوي د لېوالتیا او تر څنګ یې په اوسني مغلق مارکېټ کې د پاتې کېدو او د تغیراتو د قبلولو باعث ګرځي. فرېډ ډیوېډ په خپل کتاب Strategic planning 13th edition کې لیکي، چې ستراتیژیک مدیریت دواړه هم علم او هم هنر دی، چې په کې formulating یعنې معلومات راټولېږي، پرمختګ ورکول کېږي او بیا تصمیم نیول کېږي. په دویمه مرحله کې هغه څه مو، چې په لومړۍ مرحله کې پلان کړي، تر اجراء لاندې نیول کېږي.

د ستراتیژک پلان درېیمه مرحله د ارزیابۍ مرحله ده، په کوم کې چې لیدل کېږي چې ایا کارونه د پلان مطابق روان دي او یا بر عکس. نوموړی اضافه کوي، چې د ستراتیژیک پلان جوړولو کې باید د اداري ټول دیپارتمنتونه برخه واخلي، یعنې د ټولو دیپارتمنتونو ګډه دنده ده. دغه فعالیتونه اداراتو سره د هغوی د اهدافو په لاسته راوړلو کې مرسته کوي. همدارنګه د ستراتیژیک منجمنټ او ستراتیژیک پلان په هکله وایي، چې دواړه مترادف کلیمات دي. الواني (۲۰۰۷) ستراتیژیک پلان اداراتو ته معلومات ورکوي، چې د موجوده حالاتو څخه اینده حالاتو ته تغیر وکړي او د اداري په جوړښت کې اساسي آله ده. اډیلیکي (۲۰۰۷) ستراتیژیک پلان ترتیب شوی میتود دی، چې په مرسته یې د نامعلومو حالاتو پیشبیني کولای شو. جانسن(۲۰۱۱) ستراتیژیک پلان د اداراتو لپاره د اوږدې مودې رهنمود دی. لنډه دا

چې ستراتیژیک پلان له خطرونو څخه په اګاهی، د رقیبانو د ستراتیژیو په پېژندلو، د کارمندانو ګټورتوب په زیاتېدو، د تغیر د ثابتوالي په کمېدو، د اجرااتو په مقابل کې د انعاماتو اړیکه او همدارنګه د مشکلاتو په ممانعت کې مرسته کوي ( فریډ ار ډیویډ).

**موخې**

د تحقیق اساسي هدف د ننګرهار ولایت په خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو کې د اداراتو پر اجرااتو د ستراتیژیک پلان تاثیر معلومول دي.

**تېرو لیکنو ته کتنه**

وکولوچا (۲۰۲۰) د نایجیریایي بانکونو په کړنو باندې د ستراتیژیک پلان اغېزه څېړلې؛ د تحقیق پایله ښايي، چې د اداري جوړښت او د کارمندانو سره ښېګڼه د بانکونو کړنې متاثره کوي. اکېنیلي (۲۰۰۷) د case study s په پنه په (FBN) کې د اداراتو په کړنو او ژوندي پاتې کېدو باندې د ستراتیژیک پلان تاثیر څېړلی؛ د تحقیق نتایج ښايي، چې ستراتیژیک پلان د اداراتو په اجرااتو او د اوږدې مودې لپاره د هغوی په ژوندي پاتې کېدو کې هم

مرستندوی دی. ډونکر (۲۰۱۸) په ګانا هیواد کې د کوچنیو او متوسطو کمپنیو په مالي اجرااتو باندې د ستراتیژیک هدف رول څېړلی، پایله څرګندوي چې ستراتیژیک هدف د کوچنیو او متوسطو کمپنیو په مالي اجرااتو باندې مثبته قوي اغېزه او اړیکه لري. ګلیستر (۲۰۰۸) چې د ترکیې هیواد کمپنۍ یې د نمونې په ډول اخیستي، د کمپنیو په اجرااتو یې د رسمي ستراتیژیک پلان تاثیر څېړلی. د څېړنې نتایج واضح کوي، چې د

متحولینو تر منځ مثبته اړیکه موجوده ده. سیم (۲۰۲۰) هم په عینې متحولینو باندې څېړنه ترسره کړې او د ۱۲۰ عامه اداراتو د کارمندانو څخه یې، چې په اجرائیه موقفونو کار کوي، معلومات راټول کړي. د تحقیق نتایج یې څرګندوي، چې د ستراتیژیک پلان او د عامه اداراتو د کړنو تر منځ مثبته اړیکه موجوده ده.

ماهرمي ( ۲۰۲۰) په قطر کې د عامه اداراتو څخه د Case study په بڼه معلومات راټول کړي، چې په کې یې د اداراتو په اجرااتو باندې ستراتیژیک پلان تاثیر څېړلی؛ د تحقیق نتایج یې واضح کوي، چې د

ستراتیژیک پلان او د اداراتو د کړنو تر منځ قوي او مثبته اړیکه موجوده ده. ولوډیلي (۲۰۲۱) په نایجیریا کې د صحي خدماتي اداراتو په اجرااتو باندې د ستراتیژیک پلان تاثیر څېړلی، د تحقیق پایله یې څرګندوي، چې د صحت د اداراتو په موثریت او مثمریت باندې د ستراتیژیک پلان عملي کول مستقیمه اړیکه لري. یفین ډیو کلو ( ۲۰۱۰) د ترکیې هیواد د کمپنیو په مالي اجرااتو باندې د ستراتیژیک پلان تاثیر څېړلی، د څېړنې نتایج یې واضح کوي، چې د تحقیق ازاد متحول د کمپنیو مالي اجرااتو سره مثبته او مهمه اړیکه لري.

باتړا (۲۰۱۷) ایا ستراتیژیک پلان په اداره کې ابتکارات واضح کوي؟ تر عنوان لاندې تحقیق کې، چې چې د هند هیواد په کوچنیو او متوسطو کمپنیو کې یې تر سره کړی، ښکاره کوي چې د ابتکاراتو او ستراتیژیک پلان تر منځ مثبته اړیکه موجوده ده.

**څېړنیزه ستونزه**

د ستراتیژیک پلان ګټو ته په کتو کم empirical evidence موجود دی، بناءً د دې لپاره، چې په کوچنیو او متوسطو کمپنیو کې د دواړو متحولینو تر منځ اړیکه ولیدل شي، نورو تحقیقونو ته ضرورت دی (فرینچ او ملګري یې). د دې تر څنګ چون زمونږ په هیواد افغانستان کې د تحقیق رویداد نوی دی او تر اوسه پورې په دغه موضوع زمونږ په هیواد کې څېړنه نه وه تر سره شوې، نو بهتره مې وګڼله، چې د افغانستان په ننګرهار ولایت کې په دې موضوع تحقیق وکړم.

**د څېړنې فرضیه**

**HO**: ستراتیژیک پلان د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو د اداراتو پر اجرااتو تاثیر نه لري.

**H1**: ستراتیژیک پلان د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو د اداراتو پر اجرااتو تاثیر لري.

**د څېړنې پوښتنه**

د اداراتو پر اجرااتو د ستراتیژیک پلان اغېز څه دی ؟

**د څېړنې میتود او کړنلاره**

د دې لپاره چې د تحقیق اولیه ډېټا ترلاسه کړو، نو د سروې میتود نه په استفادې په سوالپاڼې کې adopted سوالونه ځای پر ځای شوي وو. ځینو ځواب ورکوونکو ته مستقیماً په فزیکي ډول سوالپاڼې توزیع، د ځینو پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو د research and development دیپارټمنتونو ته او د ځینو ځواب ورکوونکو څخه بیا ډېټا په انلاین شکل تر لاسه شوې ده؛ یعنې د هغوی فیسبوک، واټساپ او ایمیلونو ته سوالپاڼې لیږل شوې وې. د لیږل شوو سوالپاڼو څخه ۱۵۰ سوالپاڼې حصول، چې response rate یې ۸۸ فیصده ؤ، کوم چې statistically significant دی. د تحقیق سوالپاڼې په مقداري بڼه وې او items یې په مسلسل ډول عبارت ؤ له ډېر موافق، موافق، بې طرف، عدم موافق او ډېر عدم موافق.

سوالپاڼې درې برخې درلودې، چې لومړۍ برخه یې د ځواب ورکوونکي demographic معلومات لکه جنسیت، عمر، تجربه، د تعلیم کچه او وظیفوي موقف. دویمه برخه کې د سوالپاڼې ۱۲ سوالونه د تحقیق د ازاد متحول ( ستراتیژیک پلان) په هکله او په درېیمه برخه کې هم ۱۲ سوالونه د تابع متحول په هکله یعنې د اداراتو د اجرااتو اړوند وو.

د څېړنې د معلوماتو تحلیل

اولیه ډېټا چې د پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو څخه په مقداري بڼه لاسته راغلې وه، د تحلیل لپاره یې د SPSS د پروګرام څخه استفاده شوې وه او مختلف ټېستونه ورباندې سرته رسیدلي، چې راتلونکو برخو کې به پرې په تفصیل بحث وشي.

$$n = p * q \left[\frac{z}{\varepsilon}\right]^2 \quad n = 75 * 25 \left[\frac{1.96}{5}\right]^2 = 1875\ (0.153664) = 288$$

$$n' = \frac{n}{1+\frac{n}{N}} = \frac{288}{1+\frac{288}{420}} = \frac{288}{\frac{420+288}{420}} = \frac{288}{1.685} = 170.91 \cong 171$$

د څېړنې د سوالپاڼې مطمینتیا

په تحقیق کې reliability په دې معنی، چې ایا دغه Likert scale سوالونه یو بل سره تړاو لري او که نه او کولای شو، چې د Cronbach's Alpha value په مرسته یې چیک کړو. لکه څرنګه چې

اندازه د Cronbach's Alpha لپاره (۰-۱) پورې ده او قابل قبول اندازه يې (۰,۷۵) ده، نو دې لپاره چې reliability وليدل شي، بنده pilot study په ۲۵ ځواب ورکوونکو ترسره کړې او نتيجه يې ( ۰,۹۶) وه. چون دا مقدار قابل قبول اندازه کې راځي، نو د تحقيق د سوالپاڼې د سوالونو تر منځ ارتباط موجود دی.

**د څېړنې ماډل**

$$Op=Bo+B1\ (SP)+\varepsilon$$

**Op**: د اداراتو اجراات

**B0**: intercept

**B1**: slope

**SP**: ستراتيژيک پلان

**ε**: error terms

**د څېړنې د معلوماتو تحليل او تفسير**

لاندې جدول واضح کوي، چې د ۱۵۲ اشخاصو څخه معلومات لاسته راغلي، ۱۵۰ ځواب ورکونکو لومړۍ برخه د سوال پاڼې ډکه کړې او دوه يې missing دي، چې په کې د ځواب ورکوونکو جنسيت، عمر، د تعليم کچه، وظيفې موقف او د ځواب ورکوونکو تجربه شامل دي.

Statistics

| | | Gender of the respondent | Age of the respondent | Education level of the respondent | Positioin level of the respondent | work experience of respondent |
|---|---|---|---|---|---|---|
| N | Valid | 150 | 150 | 150 | 150 | 150 |
| | Missing | 2 | 2 | 2 | 2 | 2 |















**لاندې جدول د ازاد او تابع متحول تر منځ اړیکه ښکاره کوي. د جدول مطابق ګورو، چې د pearson correlation اندازه (.۷۷۲) ده. معنی دا چې د ستراتیژیک پلان او د اداراتو د اجرااتو تر منځ قوي مستقیمه اړیکه موجوده ده. همدارنګه د تحقیق ماډل statistically significant دی په (۰,۰۱) الفاء لیول او ۹۹ فیصده د اعتماد لیول سره .**

**Correlations**

| | | Strategic_ planning | Organizational_ performance |
|---|---|---|---|
| Strategic_ planning | Pearson rrelation | 1 | .772** |
| | Sig. (2-tailed) | | .000 |
| | N | 150 | 150 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| Organizational_ performance | Pearson rrelation | .772** | 1 |
| | Sig. (2-tailed) | .000 | |
| | N | 150 | 150 |

**. Correlation is significant at the 0.01 level (2-tailed).

د Model Summary جـــدول مطـــابق گـــورو، چـــې (۷۷,۲) فیصـــده اړیکـــه موجـــوده ده، دواړو متحولینـــو تـــر مـــنځ لـــه بلـــه پلـــوه گـــورو، چـــې R Square لپـــاره مقـــدار یـــا انـــدازه (۰,۵۹٦ ) ده، معنـــی د اداراتـــو اجـــراات (۵۹,٦) فیصـــده د ســـتراتیژیک پـــلان پـــورې تـــړلي او پـــاتې نـــور (۴۰,۴ ) فیصـــده د نـــورو متحولینـــو تـــاثیر دی، د پوهنتونونـــو او لوړو زده کړو موسسو د اداراتو په اجرااتو باندې.

**Model Summary**

| Model | R | R Square | Adjusted R Square | Std. Error of the Estimate |
|---|---|---|---|---|
| 1 | .772[a] | .596 | .594 | 6.503 |

a. Predictors: (Constant), Strategic_planning

لاندې جدول کې گورو، چې د sig value کمه ده، د Alpha value څخه کوم چې(۰,۰۱) ده د الفاء اندازه همدارنګه د F Value هم په قابل قبول اندازه کې ده. نتیجه کې وایو چې with 99% all estimated b's are statistically significant confidence level نو Null فرضیه یعنې h0 ردوو او h1 یعنې alternative فرضیه قبلوو.

ANOVA[b]

| Model | | Sum of Squares | Df | Mean Square | F | Sig. |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Regression | 9244.590 | 1 | 9244.590 | 218.601 | .000[a] |
| | Residual | 6258.903 | 148 | 42.290 | | |
| | Total | 15503.493 | 149 | | | |

a. Predictors: Constant, Strategic __planning

b. Dependent Variable: Organizational __performance

په لاندې جدول کې گورو، چې د T value مساوي ده د (۵,۳۴۸) سره او دغه اندازه (-۲ او +۲ ) څخه لرې ده، نو دې ځای څخه هم ho ردوو او h1 قبلوو. همدارنګه د bo یا constant لپاره اندازه (۷,۴۵۴) معنی که مربوطه پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې ستراتیژیک پلان ونه لري، نو د دوی د اداراتو اجراات به (۷,۴۵۴) فیصده وي. تر څنګ یې b1 یعنې slope لپاره اندازه (۰,۷٦۲)

معنی که مربوطه ادارات ۱ فیصد تغیر په ستراتیژیک پلان کې راولي، نو په نتیجه کې به یې (۷۶۲.) فیصده تغیر د اداراتو په اجراأتو کې راشي.

**Coefficients[a]**

| Model | | Unstandardized Coefficients B | Unstandardized Coefficients Std. Error | Standardized Coefficients Beta | T | Sig. |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | (Constant) | 7.454 | 1.394 | | 5.348 | .000 |
| | Strategic_planning | .762 | .052 | .772 | 14.785 | .000 |

a. Dependent Variable: Organizational__performance

د OLS د میتود لومړی فرضیه Linearity




د OLS میتود مطابق داسې فرض کوو، چې تابع او ازاد متحول باید خطي اړیکه ولري او ګراف نه یې معلوموو، نو چون مونږ Estimated دیاګرام اخلو، نو باید پاشلې ( شیندل) شوې بڼه ولري. ګورو چې په ګراف کې نقاط شیندلي دي، یعنې په یو خاص نمونه کې نه دي، نو وایو چې د متحولینو تر منځ اړیکه خطي ده.

د OLS د میتود څلورمه فرضیه

**Dependent Variable: Organizational_ performance**



د OLS میتود مطابق داسې فرض کوو، چې تغیر د Residual باید ثابت وي، یعنې homo scadasticity وي. د دیاګرام په واسطه کولای شو، چې وګورو چې ایا تغیر د Residual term ثابت یعنې یو شان دی او که نه.

که چېرته ګراف په funnel بڼه کې ؤ، معنی دا چې Hetro scadasticity موجوده ده، یعنې Residual term

ثابت تغیر نه کوي او بر عکس که چېرته ګراف په شیندلي بڼه یعنې Scatter بڼه کې و، معنی چې تغیر د Residual term ثابت دی. په پورته ګراف کې ګورو چې ګراف په Funnel بڼه کې نه، بلکې نقاط یې Scatter دي، نو دا فرضیه هم صدق کوي.

د OLS د میتود شپږمه فرضیه

There is no influential cases biasing your model

| COO_1 | COO_1 | COO_1 | COO_1 | COO_1 | COO_1 |
|---|---|---|---|---|---|
| 0.00000 | 0.00063 | 0.00224 | 0.00738 | 0.00832 | 0.00384 |
| 0.00002 | 0.00033 | 0.00168 | 0.00651 | 0.00000 | 0.00000 |
| 0.00002 | 0.00040 | 0.07897 | 0.00921 | 0.00001 | 0.00078 |
| 0.00000 | 0.00074 | 0.02365 | 0.00535 | 0.00036 | 0.00054 |
| 0.00002 | 0.00314 | 0.05757 | 0.00078 | 0.00107 | 0.00107 |
| 0.00008 | 0.00237 | 0.06342 | 0.00448 | 0.00000 | 0.00832 |
| 0.00013 | 0.00088 | 0.02249 | 0.00169 | 0.00054 | 0.00008 |
| 0.00019 | 0.00046 | 0.02988 | 0.00217 | 0.00039 | 0.00107 |
| 0.00000 | 0.00088 | 0.02992 | 0.00107 | 0.00003 | 0.01858 |
| 0.00002 | 0.00266 | 0.01501 | 0.00078 | 0.00198 | 0.00067 |
| 0.00060 | 0.00107 | 0.00376 | 0.00078 | 0.00033 | 0.00588 |
| 0.00132 | 0.00746 | 0.00770 | 0.00042 | 0.00046 | 0.00042 |
| 0.00098 | 0.00155 | 0.00338 | 0.00012 | 0.00074 | 0.01058 |
| 0.00314 | 0.00040 | 0.00405 | 0.00042 | 0.00215 | 0.02051 |
| 0.00314 | 0.01827 | 0.00386 | 0.00821 | 0.00832 | 0.02251 |
| 0.00262 | 0.00088 | 0.00405 | 0.00012 | 0.01984 | 0.00617 |
| 0.00068 | 0.00168 | 0.01762 | 0.00576 | 0.00078 | 0.01306 |
| 0.00262 | 0.00386 | 0.00886 | 0.01454 | 0.00016 | 0.01316 |
| 0.00027 | 0.00338 | 0.00738 | 0.00691 | 0.00012 | 0.01008 |
| 0.00033 | 0.00507 | 0.00821 | 0.00528 | 0.00576 | 0.00880 |
| 0.00074 | 0.00351 | 0.01493 | 0.00000 | 0.00054 | 0.00669 |
| 0.00098 | 0.00317 | 0.00056 | 0.00005 | 0.00020 | 0.01689 |
| 0.00921 | 0.00002 | 0.00143 | 0.00169 | 0.00054 | 0.01647 |
| 0.00042 | 0.00397 | 0.01738 | 0.00000 | 0.00107 | 0.01395 |

د OLS میتود مطابق فرضیه ده، چې باید په Data کې Outlier موجود نه وي. نو پورته جدولونو کې ګورو، چې د cook's distance values ټول د یو څخه کم دي. نتیجه کې وایو چې Data کې Outlier هم موجود نه دی، نو د OLS میتود شپږمه فرضیه هم صدق کوي.

**محدودیتونه**

که څه هم چې تحقیق محصلینو او د مربوطه اداراتو خاوندانو ته د ستراتیژیک پلان په هکله موثر معلومات وړاندې کوي، خو د دې با وجود ځینې نیمګړتیاوې هم لري او هغه دا چې Data د کمو خلکو څخه راټوله شوې ده او نتایج یې د هیواد په نورو پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو باندې عملي کولای نه شو، بناءً نورو تحقیقونو ته هم ضرورت دی.

د دې تر څنګ بنده د معلوماتو په راټولولو کې د ځینو مشکلاتو له وجې ونه توانید، چې ځینو ځواب ورکوونکو سره شخصاً وګوري، نو ممکن ځینې سوالونه په سوالپاڼه کې دوی ته ګونګ پاتې شوي وي. نور څېړونکي باید عین تحقیق د افغانستان په نورو برخو کې هم ترسره کړي، تر څو په موضوع باندې Empirical Literature ډېر شي.

**پایله**

د تحقیق نتایج واضح کوي، چې ستراتیژیک پلان د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو پر اجرااتو قوي او مثبت اغېز لري، لکه څرنګه چې د نورو علماوو د څېړنو نتایج هم عین موضوع تائیدوي، یعنې هغوی هم په دې نظر دي، چې ستراتیژیک پلان د اداراتو اجراات متاثره کوي. د تحقیق نتیجې د لاس ته راوړلو په منظور بنده د مختلفو احصائیوي تحلیلونو څخه استفاده کړې ده. همدارنګه د تحقیق لپاره Data د ۱۵۲ ځواب ورکوونکو څخه راټوله شوې ده، په تحلیل کې یې د SPSS سافټویر څخه کار اخیستل شوی، مختلف ټیسټونه لکه ANOVA، Reliability، Pearson Correlation ورباندې سرته رسیدلي او د OLS میتود مربوط فرضیې چک شوي دي. لنډه دا چې د تحقیق نتایج واضح کوي، چې (۷۷,۲ ) فیصده د دواړو متحولینو تر منځ قوي مثبته اړیکه موجوده ده او دغه اړیکه Statistically Significant ده، یعنې ستراتیژیک پلان د اداراتو اجراات متاثره کوي.

**وړاندیزونه**

انساني منابع د اهدافو په لاسته راوړلو کې اساسي رول لري، نو ذکر شوي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې باید د دوی ښېګڼو ته خاصه توجه وکړي، ځکه د همدوی په واسطه کولای شي، چې اهداف تر لاسه کړي. همدارنګه ادارات باید د داخلي او خارجي ماحول تحلیل وکړي، چې SWOT تحلیل یې ښه

بېلګه ده او اداراتو لپاره موثرې ستراتيژيانې جوړې کړي، تر څو په مارکېټ کې تر ډېره پاتې او خپل اهداف لاسته راوړي.

References


1. Aderibigbe Elkanah Oludele. (2021). Impact of strategic planning o organizational performance of health care services in Nigeria. Journal of business and management. Vol. 9, No.3.
2. Akinyele Sammuel Taiwo and Fasogbon Olufurke Idunnu (2007). Department of Business studies, vovenant University, Ota, Nigeria
3. Akinyele Samuel Taiwo and Fasogbon Olufunke Idunnu. (2010). impact of strategic planning on organizational performance and Survival. Research Journal of Business Management, Covenant University, Nigeria
4. Alev M. Efendioglu and A. tugba Karabulut (2010). International journal of Business and Management ( " impact of strategic planning on financial performance of companies in Turkey)
5. Bert George, Richard M. Walker and Joost Monster (2019). Does strategic planning improve organizational performance? A Meta-Analysis. Public administration review, DOI:10.1111/Puar.13104.
6. Brendan, K. (2006). HR Strategic planning in Kenya. A case study of parastatals, survey Report, special Report number 7, an unpublished masters project of Nairobi University, Nairobi Kenya.
7. Donkor, Kwarteng and Aidoo (2018). The moderating role of innovation capability and strategic goals in the financial performance of small and medium scale enterprises in Ghana.
8. Emereole Ibemelam Daniel Okafor, chinyere Stella and Emerole Godepm A. (2021). Effect of Strategic Thinking on Organizational performance ISSN: 2682-6224

9. Johnson G, Whittington R, Scholes K. Exploring corporate strategy: text and cases, 9th ed. Pearson Education Ltd: Harlow: 2011.
10. Johnson G, Whittington R, Scholes K. Exploring corporate strategy: text and cases,8th ed. Pearson Education Ltd: Harlow: 2008
11. Majed Rashaed Mohamed Ozair Almansoori (2020) The impact of strategic planning on the performance of Public Organizations: The mediating role of Entrepreneurship. ISSN: 2773-5036
12. Monye and Ibegbulem (2018). Effect of Strategic Planning on Organizational performce and profitability, international journal of Business and Law research. ISSN:2360-8986
13. Muriithi,S.M., Louw, L.& Radioff,S.E., 2018, The relationship between strategic thinking and leadership effectiveness in Kenyan indigenous banks; South African Journal of Economic and Management Sciences 21(1) , a1741.https://doi.org/10.4102/sajems.v21i.1741
14. Okolocha (2020). A key Organizational performance of selected Nigerian Banks, International Journal of research publications, volume-52.
15. Shaker Al- Qudah,Abdullah Mishael Obeidat, Hosam Shrouf, Mohammed A. Abusweilem, 2020, The impact of strategic human resources planning on the performance of public shareholding companies in Jordan; problems and perspectives in Management
16. Tornike, K. (2018). The impact of strategic planning on organizational performance through strategy implementation. Globalization and Business, International Scientific –Practical Magizine.

**محمد انوارالدين شرفزی**
**اسلامي ثقافت څانګه**

# د ژوند په چارو کې د اقتصاد اهميت

## لنډيز

د نړۍ د انساني ټولنيز ژوند د جوړښت له پيل څخه تر اوسه په ټولو اجتماعي غوښتنو کې يوه لويه اغېزمنه برخه د بشري اړتياوو د لرې کولو اصل دی، په همدې موخه اسلام خپل اقتصادي نظام داسې ترتيب او تنظم کړی، چې ټولنيز عدالت په کې حاکم وي او د ټولنيز عدالت د ټينګولو لپاره هر وګړي ته دا حق ورکوي، چې په ټولنه کې د هوسا او سوکاله ژوند تېرولو لپاره هغه وسايل تر لاسه کړي، چې اسلامي شريعت يې اجازه او لارښوونه کړې ده. هر څوک دا حق لري، چې د شرعي پولو په حدودو کې خپل شته، چې څرنګه وغواړي مصرف کړي او هيڅوک هم له هغه څخه د دغه حق د سلبولو حق نه لري، چې په اخلاقي او شرعي توګه فرد او يا ټولنې ته يې زيان رسول متصور او متوجه نه وي. په اسلامي اقتصادي نظام کې په بشپړه توګه د مصرف کولو واکمني ورکړل شوې ده او هر څوک حق لري، چې په مشروع توګه مال ولري او هيڅوک هم د بل د دولت ګټلو په لاره کې خنډ نه شي، ځکه الله تعالی په دنيا کې، چې څومره ګټور شيان پيدا کړي دا د ټولو انسانانو لپاره دي.

د هغه مهمو او غټو کارونو نه، چې اسلام په هغې ډېر اهتمام کړی دی او خپل پيراون يې ورته هڅولي دي هغه اقتصاد دی، دغه اهتمام په ډېرو طريقو سره دی، کله يې سوداګرۍ ، کله زراعت او کله يې صنعت ته هڅوي. دارنګه په ټولو اقتصادي معاملاتو کې اسلام خپل اتباع ښو اخلاقو ته رابلي او ريښتينولي، امانتداري، وعدې او په تړونونو کې وفا کولو ته يې هڅوي. د اسلام دا ټوله هڅونه د دې لپاره ده، چې اقتصاد د ټولنې په تکامل کې مهم رول لوبوي او د ټولنې اقتصادي جوړښت د ټولنې د ژوندانه بنسټ او بنياد تشکيلوي.

**کليدي کلمې: اقتصاد، اسلام، ژوند، دولت، زراعت، سوداگري.**

**سريزه**

**د اسلام اقتصادي نظام د بشريت د اقتصادي ستونزو د هوارولو لپاره يو منظم او غښتلی قانون لري، چې پر متې يې د يو ملت او دولت اقتصاد پياوړی کېږي او اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی ږدي. د اسلام اقتصادي نظام د حلال او حرام د اصولو په نظر کې نيولو سره په هغو لارو چارو بنديز لګوي، چې د جواری**

**او سود په وسيله پر مخ ځي او د هغو شتو څخه جداً خپل اتباع منعه کوي، چې پر دغه لارو لاسته راځي. د اسلام اقتصادي نظام تل خپل اتباع په مختلفو طريقو سره اقتصادي لارو چارو ته هڅوي او په اقتصادي ډګر کې يې خپلو اهدافو ته متوجه کوي، تر څو پر متې يې د ملت او دولت اقتصاد پياوړی شي. د هغه مهمو او غټو کارونو نه، چې اسلام په هغې ډېر اهتمام کړی دی او خپل پيراون يې ورته هڅولي دي هغه اقتصاد دی، دغه اهتمام په ډېرو طريقو سره دی، چې مونږ ورته د مثال په توګه اشاره کوو.**

**موخې**

**ددې مقالې موخې په لاندې ډول دي:**

- **په دې پوهه تر لاسه کړو، چې اقتصاد د ژوند په چارو کې څومره مهم رول لري.**
- **په دې پوه شو، چې اقتصاد د ملت د ملاتير حيثيت لري او د ملتونو په ابادولو کې مهمه ونډه لري.**
- **آيا اسلام اقتصاد ته پاملرنه کړې ده؟**
- **هغه مهمې لارې کومې دي، چې اسلام د اقتصاد د پياوړتيا لپاره خپل اتباع ورته هڅوي؟**
- **د دولتونو په ابادولو کې د اقتصاد اهميت څه دی؟**

**مواد او کړنلاره**

**د موضوعاتو په راغونډولو کې مې تر ممکنه حده کوښښ کړی، چې له اصلي او اساسي سرچينو څخه استفاده وکړم، خو که احياناً اصلي او اساسي سرچينې لاسته نه دي راغلي، نو بيا مې له فرعي او غير اساسي سرچينو (انټرنيټ) څخه کار اخيستی دی. که چېرې په موضوع کې کوم قرآني ايت کريمه راغلی، نو پوره ايت شريف مې ليکلی او ژباړه يې ترې لاندې ليکل شوې ده او د صفحې لاندې په لمن ليک کې مرجع په داسې ترتيب ذکر ده، لکه: (د النساء سورت، ايت ۳۰)**

که چېرې په موضوع کې کوم نبوي حدیث راغلی وي، نو د حدیث شریف عربي متن او لاندې مې ترې ترجمه لیکلې او د متن سره سم د صفحې په لمنه کې مې د حدیث حکم بیان کړی دی. که چېرې د موضوع لیکنې په وخت کې د کوم مشهور شخص یا د ځای نوم او یا هم کومه بله نا اشنا کلمه ذکر شوې، د صفحې په پای لمن کې د سرچینې او مصدر په ذکر کولو سره مې تفسیر کړي دي. کله چې د کوم مصدر څخه مې استفاده کړې، د متن سره سم د صفحې په لمنه کې مې یاد کړی دی. د لیکنې په اخره کې د عام اعتراف په شکل د سرچینو او مصادرو څخه مې یادونه کړې ده. د آیتونو تفسیر او ژباړه مې د کابلي تفسیر پښتو ترجمې څخه اخیستې ده او د احادیثو استخراج مې د اصلي مصادرو او سرچینو څخه کړی دی.

د هغه مهمو او غټو کارونو نه، چې اسلام په هغې ډېر اهتمام کړی دی او خپل پیراون یې ورته هڅولي دي هغه اقتصاد دی، دغه اهتمام په ډېرو طریقو سره دی، چې مونږ ورته د مثال په توګه اشاره کوو.

سوداګرۍ ته د اسلام هڅونه

سوداګري په اسلام کې لوړ مقام او ارزښت لري، خو که چېرې د اسلامي حدودو په چوکاټ کې ترسره شي، نو په دنیا کې د رزق د زیاتوالي او په اخرت کې د الله(ج) په نزد د درجو د لوړېدو باعث  ګرځي. تجارت د عزت هغه دنده ده، چې د قران کریم ګڼ شمېر آیتونه په دې باره کې نازل شوي او الله(ج) په مختلفو طریقو خپلو بندګانو ته هڅونه ورکړې. کله وایي تجارت د الله(ج) فضل دی، کله ورته له خپل طرفه د رزق خطاب کوي، کله په معین وخت کې د تجارت حکم کوي او کله په عامو حالاتو کې او کله د تجارت اصول په نا اشنا انداز سره بیانوي، تر څو بندګان یې په خپل همت سره روزي او رزق ځان ته وګټي او د ناروا لارو او طریقو څخه د مال ګټلو نه ځان وساتي.
الله(ج)  تجارت خپل فضل بللی، لکه چې فرمایي: ﴿فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ﴾(1)
ژباړه: بیا کله چې تر سره شي لمونځ (جمعې)، نو په ځمکه کې خواره شئ او د الله فضل ولټوئ.
دارنګه الله تعالی خپل بنده ګان تجارت ته هڅوي او فرمایي: ﴿هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ۝﴾(2)
ژباړه: هغه ذات چې ستاسو لپاره یې ځمکه پسته هواره او تابع کړې ده، د هغې پر سینه ګرځئ او د خدای روزي خورئ، د هماغه حضور ته ستاسې په دویم ځل ژوندي کېدو سره ورتګ دی.

۱- د الجمعة سورت، ایت ۱۰
۲- د الملک سورت، ایت ۱۵

**څرنګه چې الله تعالی خپل بندګان تجارت ته هڅولي، دارنګه په ناروا لارو او طریقو د مال او رزق ګټلو نه یې منعه کړي، چې فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ﴾(3)**

**ژباړه: ای مؤمنانو! په خپلو منځو کې او د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، مګر(خورئ يې) که راکړه ورکړه د دواړو خواو په خوښې سره(په روا توګه) وي.**

**دارنګه حج د مالي او بدني عبادتونو له جملې څخه دی او د اسلام د ارکانو څخه پنځم رکن دی، سره د دومره عظمت بیا هم اسلام خپل پیروان د حج د مراسمو پر مهال له تجارت څخه نه منع کوي، لکه چې الله تعالی فرمايي: ﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ ﴾(4)**

**ژباړه: او که د حج کولو سره سره تاسې د خپل رب د فضل(مال ګټلو) په لټه کې هم شئ، نو څه باک نه لري.**

**څرنګه چې اسلامي شريعت خپل اتباع تجارت ته هڅولي، اصول يې هم بيان کړي، لکه چې الله(ج) فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ وَلْيَكْتُبْ بَيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَنْ يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللَّهُ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا فَإِنْ كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ بِالْعَدْلِ وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَاءُ إِذَا مَا دُعُوا وَلَا تَسْأَمُوا أَنْ تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَى أَجَلِهِ ذَلِكُمْ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَى أَلَّا تَرْتَابُوا إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ وَإِنْ تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۝ ﴾(5)**

**ژباړه: ای مؤمنانو! کله چې د يوې ټاکلې نېټې لپاره تاسې په خپلو منځو کې د پور د راکړې ورکړې معامله کوئ، نو هغه وليکئ د دواړو خواوو تر منځ دې يو څوک، چې هغه ته الله د ليکلو اهليت ورکړی وي، په انصاف سره سند وليکي، هغه دې له ليکلو څخه انکار نه کوي، ليکنه او املاء دې هغه څوک وکړي، چې حق ورباندې دی، يعنې پور اخيستونکی او هغه د خپل رب الله څخه ووېرېږي، چې څه**

---

۳- د النساء سورت، ايت ۲۹

۵- د البقرة سورت، ايت ۱۹۸

**معامله شوې وي په هغه کې کمی او زیاتی نه کوي. خو که پور اخیستونکی خپله ناپوه او کمزوری وي، یا املاء نه شي کولای، نو د هغه دوست دې په انصاف سره املاء وکړي. بیا له خپلو نارینه ؤ دوه تنه پرې شاهدان ونیسئ، که دوه سړي نه وي، نو یو سړی او دوه ښځې دې وي، که یوه یې هیره کړي، نو هغه بله به یې ور په زړه کړي؛ دا شاهدان د داسې خلکو څخه وي، چې شاهدي یې ستاسو په منځ کې قبلېدونکې وي، شاهدانو ته چې کله د شاهدۍ ویلو وویل شي، نو انکار دې نه کوي، که معامله وړه وي یا غټه، د هغې نېټې ټاکل او سند لیکل بې اهمیته مه گڼئ، د الله په وړاندې ستاسې دا چلند ښه د انصاف کار دی، په دې سره شاهدي ورکولو کې ښه اسانتیا راځي او په شکونو او شبهو کې ستاسې د اخته کېدو امکان کمېږي، هو که چېرې تاسې په خپلو منځو کې لاس په لاس تجارتي راکړه ورکړه کوئ، نو د هغه د نه لیکلو هیڅ پروا نشته، خو د سوداګرۍ د راکړې ورکړې په وخت کې شاهدان ونیسئ، لیکونکی او شاهد دې نه ځورول کېږي، که داسې وکړئ، نو گناه کوئ. د الله له قهره ووېرېږئ، الله تاسې ته د عمل سمه لاره درښیي او الله پر هر څه پوه دی.**

**همدارنگه د رسول الله(ص) په مبارکو احادیثو کې هم د تجارت اصول بیان شوي دي، لکه چې رسول الله(ص) فرمایي: ﴿عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ (ص) أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ﴾(6)**

**ژباړه: له ابن عمر(7)(ﷺ) نه روایت دی، چې رسول الله(ص) له دې نه منع کړې، چې ښار مېشت خلک دې کلیوالو ته سودا خرڅه کړي.**

**همدارنگه بل حدیث کې فرمایي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ﴿لَا يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ دَعُوا النَّاسَ يَرْزُقُ اللَّهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ﴾(8)**

**ژباړه: له جابر(9)(ﷺ) نه روایت دی، چې نبي(ﷺ) فرمایلي دي، ښاریان دې کلیوالو ته سودا نه اخلي، پرېږدئ چې الله تعالی خپلو بنده گانو ته یو د بل په واسطه رزق ورکړي.**

---

۶- د البقرة سورت، ایت۲۸۲

۷- البخاري، محمد بن اسماعیل، صحیح البخاري (بَابُ مَنْ كَرِهَ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ بِأَجْرٍ (ح ۲۱۵۹)، مکتبة الشاملة، (جـ ۱،صــ ۱۵۸)

۸- عبد الله بن عمر، کنیه یې ابو عبدالرحمن قریشي او عدوي دی، خپل پلار سره یې هجرت کړی، په خندق او وروسته ترې په ټولو غزاگانو کې یې برخه اخیستې، په اخر د عمر کې یې د سترګو نظر ختم شوی او په مکه کې د صحابه وو اخري کس و، چې وفات شوی دی. [الزرکلي، خیر الدین بن محمود، الاعلام، پنځلسم چاپ(۲۰۰۲م)،دار العلم للملایین، (جـ ۴،صــ ۱۰۸)].

۹- ابوالحسین، مسلم بن حجاج، صحیح مسلم ( باب تحریم بیع الحاضر للبادي (ح ۱۵۲۲)، مکتبة الشاملة(جـ۳،صــ ۱۱۵۷)، أبو عیسی، محمد بن عیسی الترمذي السلمي، سنن الترمذي (ح ۱۲۲۳)، دار إحیاء التراث العربي، بیروت، پنځه ټوکه (جـ ۳،صــ ۵۲۶).

**زراعت ته د اسلام هڅونه**

**د الله(ج) د لويو نعمتونو څخه يو هم ځمکه ده، چې الله(ج) انسان ته د هستوګنې لپاره فرش ګرځولې ده، چينې، سيندونه، دريابونه او نهرونه يې پکې بهېدو ته چمتو کړي دي، د باران ورېدو سره کروندې او باغونه زرغونوي.**

**دا معلومه خبره ده، چې انسان عبث نه دی پيدا شوی، الله(ج) په خپل کامله قدرت سره انسان پيدا کړ او بيا يې په ټولو مخلوقاتو کې غوره وګرځولو، د ځمکې خلافت يې ورته وسپاره او د عقل پېرزوينه يې ورباندې وکړه، تر څو د ځمکې د آبادولو مسؤليتونه په غاړه واخلي، د ځمکې سرچينې وساتي او حاصلات ترې پورته کړي، د الله(ج) د حکمت تقاضا دا وه، چې انسان په دې ځمکه کې د يو څه وخت لپاره هستوګنه وکړي، لکه چې فرمايي: ﴿وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ﴾(10)**

**ژباړه: او تاسو لره تر يوې خاصې مودې پورې په ځمکه کې هستوګنه او ژوند تېرول دي.**

**نو انسان ته، چې الله(ج) د ځمکې خلافت وسپاره او د آبادولو مسؤليت يې ورکړ، بايد خپل مسوليت اداء کړي، ګټه ترې واخلي، کرنه په کې وکړي، غله- دانه مېوې لاسته راوړي او خپل ژوند پرې پر مخ بوځي؛ الله(ج) قرآن کريم کې فرمايي: ﴿فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ إِلَى طَعَامِهِ ۞ أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاءَ صَبًّا ۞ ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا ۞فَأَنْبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ۞ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ۞ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ۞ وَحَدَائِقَ غُلْبًا ۞ وَفَاكِهَةً وَأَبًّا ۞ مَتَاعًا لَكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ۞ ﴾(11)**

**ژباړه: بيا دې انسان خپلو خوړو ته وګوري۞موږ ښې اوبه راتويې کړي دي۞ بيا ځمکه مو په عجيبه شان شلولې(څيرلې) ده۞ بيا په هغې کې مو غلې دانې را زرغونې کړي دي۞ او انګور او سابه۞ او ښوون(زيتون) او خرما ۞او ګڼ باغونه ۞او ډول ډول ميوې او واښه۞  د ژوند د وسايلو په توګه ستاسې او ستاسې د څارويو لپاره دي۞**

**رسول الله(ص) هم خپل امت د کرنې لپاره زيات هڅولی او دغه عمل يې د دوی لپاره ثواب او لوی اجر ګڼلی دی، لکه چې فرمايي: عَنْ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: ﴿لَا يَغْرِسُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ غَرْسًا، وَلَا زَرْعًا، فَيَأْكُلَ مِنْهُ سَبُعٌ أَوْ طَائِرٌ أَوْ شَيْءٌ، إِلَّا كَانَ لَهُ فِيهِ أَجْرٌ﴾(12)**

---

۱۰- جابر بن عبد الله بن رئاب الأنصاري السلمي يو د هغه شپږو کسانو څخه و، چې په اوله عقبه کې يې رسول الله(ص) باندې ايمان راوړ او د نبي(ص) سره په ټولو غزاګانو کې شريک شوی دی [ابن عبد البر، الإستيعاب في معرفة الأصحاب، موقع الوراق www.alwarraq.com،،،http، مکتبة الشاملة(جـ١،صـ ٦٥)].

١١ - د البقرة سورت، ايت ٣۶

١٢- د عبس سورت، ايت ٢۴، ٣٢

ژباړه: له جابر بن عبدالله(رض) څخه روايت دی، چې ويې ويل، ما له رسول الله(ص) څخه واورېدل، چې ويې فرمايل: مسلمان چې د مېوې هره ونه نياله يا کښت کړي، بيا هغه څاروي، مارغان يا بل شی(خځنده لکه مېږتون) وخوري د ده لپاره په کې اجر دی.

دې کې شک نشته، چې کرنه او باغداري په اوسني عصر کې د اقتصاد د ستنو او ريښو او د هرې ټولنې د اقتصادي کاميابۍ راز او هيله ده او د ملک د ملي عوايدو څخه شمېرل کېږي.

لنډه دا چې زراعت په حقيقت کې د اقتصاد بنسټ او اساس دی، چې د هر چا لپاره د شتمنۍ او دولتمندۍ لويه سرچينه ده.

**صنعت ته د اسلام هڅونه**

د اسلام سپېڅلي دين خلک صنعت ته هڅولي او تشويق کړي دي، ځکه چې صنعت او کسب د ملکيت د روا سببونو څخه دي، چې د ښه ژوند کولو لپاره ډېر اړين بلل کېږي. رسول الله(ص) د لاس کار ډېر ستايلی، لکه چې فرمايي: ﴿ مَا أَكَلَ أَحَدٌ مِنْ بَنِى آدَمَ طَعَامًا خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ إِنَّ نَبِىَّ اللَّهِ دَاوُدَ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ كَسْبِ يَدَيْهِ﴾(13)

ژباړه: په بني آدمو کې هيچا د لاس د کار څخه پرته ښه خوراک نه دی خوړلی، بيشکه د الله نبي داؤد(ع)(14) به د خپل لاس د کار له محصول څخه خواړه تر لاسه کول.

دارنګه بل ځای کې يې داسې فرمايلي دي: ﴿خَيْرُ الْكَسْبِ، كَسْبُ يَدِ الْعَامِلِ إِذَا نَصَحَ﴾(15)

ژباړه: غوره کسب د کاريګر د لاس کار دی، هر کله چې د خلکو خير غوښتونکی وي.

قران عظيم الشان د ځينو صنايعو ذکر کړی، چې صنعت ته په ترغيب ورکولو دلالت کوي، لکه د اوسپنې صنعت: ﴿وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ﴾(16)

ژباړه: او موږ اوسپنه راکوزه کړې ده، چې په دې کې سخت جنګ او خلکو ته ګټې دي.

دارنګه په بل ځای کې داسې فرمايي: ﴿وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ ۞ أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ﴾(17)

---

۱۳- ابو الحسين، مسلم بن الحجاج، صحيح مسلم (باب فضل الغرس و الزرع (ح ۱۵۵۲)، موافق لترقيم عبدالباقي، مکتبة الشاملة (جـ ۳،صـ ۱۱۸۸).

۱۴- البخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخارى (باب كسب الرجل و عمله بيده (ح ۲۰۷۲)، عن المقدام، مکتبة الشاملة(جـ ۱،صـ ۱۲۴).

۱۵- داود بن ايشا بن عويد بن عابر بن سلمون بن نحشون بن عويناداب بن ارم بن حصرون بن فارص بن يهوذا بن يعقوب بن اسحق بن ابراهيم خليل الله، وهب بن منبه وايي، داود عليه السلام لنډ قد کم ويښتان لرل، کله چې جالوت يې مړ کړ، نو خلک پرې راټول شول او دا يې خپل مشر وټاکه، چې الله ورته نبوت هم ورکړ ، دا د سليمان عليه السلام پلار و. [أبو الفداء، إسماعيل بن كثير، قصص الأنبياء، لومړی چاپ(۱۳۸۸هـ ق)، مکتبة الشاملة(جـ ۲، صـ ۲۶۵)].

۱۶- أبو عبد الله، أحمد بن محمد بن حنبل، مسند أحمد بن حنبل، لومړی چاپ (۱۴۱۹ هـ ق)، عن ابو هريرة، عالم الكتب، بيروت، شپږ ټوکه، (جـ ۲، صـ۳۳۴)، هيثمي، او منذري وايي: راويان يې ثقه کسان دي.

۱۷- د الحديد سورت، ايت ۲۵

**ژباړه: او مونږه اوسپنه د هغه(داوود ع) لپاره پسته کړه، له دې لارښوونې سره چې زغرې جوړې کړه او کړۍ په سمه اندازه(ورکړه).**

**د اهنګرۍ صنعت په هکله فرمايي: ﴿آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ حَتَّى إِذَا سَاوَى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انفُخُوا حَتَّى إِذَا جَعَلَهُ نَارًا قَالَ آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا﴾(18)**

**ژباړه: ما ته اوسپنيزې تختې راوړئ! په پای کې چې کله هغه د دواړو غرونو تر منځ کنډو ډک کړ، نو خلکو ته يې وويل، اوس اور په پو کولو بل کړئ، تر داسې اندازې پورې چې کله (دغه د اوسپنې ديوال) بېخي لکه د اور په شان سور شو، نو هغه وويل، راوړئ چې اوس په دې باندې ويلې کړې مس وشڅوم.**

**د زغرو جوړولو صنعت په هکله فرمايي: ﴿وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنْ بَأْسِكُمْ﴾(19)**

**ژباړه: او مونږ هغه ته ستاسې د ګټې لپاره د زغرې جوړولو صنعت وربښودلی ؤ، تر څو چې تاسې يو د بل د ګوزار څخه وژغورې.**

**دارنګه فرمايي: ﴿وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ﴾(20)**

**ژباړه: او تاسې ته يې پوښاکونه در په برخه کړي دي، چې د ګرمۍ څخه مو ساتي او ځينې نور پوښاکونه، چې په خپل منځي جګړو کې ستاسې ساتنه کوي.**

**د معدنونو ايستلو صنعت په هکله فرمايي: ﴿وَأَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ﴾(21)**

**ژباړه: مونږ د هغه لپاره د ويلې شويو مسو چينه وبهوله.**

**همدارنګه د جامو جوړولو صنعت په هکله فرمايي: ﴿يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْءَاتِكُمْ وَرِيشًا﴾(22)**

**ژباړه: ای د ادم(ع)(23) اولاده مونږ تاسې ته جامې نازلې کړي دي، چې ستاسې د بدن شرم ځايونه پټ کړي او ستاسې د بدن د ساتنې او ښکلا وسيله هم ده.**

**دارنګه فرمايي :﴿وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَى حِينٍ﴾(24)**

---

۱۸- د سباء سورت، ايت ۱۰، ۱۱

۱۹- د الکهف سورت، ايت ۹۶

۲۰- د الانبياء سورت، ايت ۸۰

۲۱- د النحل سورت، ايت ۸۱

۲۲- د سباء سورت، ايت ۱۲

۲۳- د الاعراف سورت، ايت ۲۶

۲۴- ادم (ع) د ټولو انسانانو پلار، چې الله(ج) بې پلاره او بې موره د خاورې نه پيدا کړ او بيا د دې د چپې پښتۍ نه يې بي بي حوا عليها السلام پيدا کړه او بيا نور ټول انسانان د همدوی اولاده دي. [أبو الفداء، إسماعيل بن کثير، قصص الأنبياء، لومړی چاپ(۱۳۸۸هـ ق)، مکتبة الشاملة(جـ ۱ نوې خپرونه].

**ژباړه: هغه د څارویو د وړیو، اون او وژغنو څخه ستاسې د اغوستلو او غوړولو د استفادې لپاره ډېر شیان پیدا کړل، چې د ژوند تر ټاکلې مودې پورې ستاسې په کار راځي.**

**د معمارۍ صنعت په اړه فرمايي: ﴿وَبَوَّأَكُمْ فِي الْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ الْجِبَالَ بُيُوتًا﴾(25)**

**ژباړه: او تاسې ته يې په ځمکه کې دا مقام در په برخه کړ، چې نن تاسې د هغې په هوارو میدانونو کې لوړې ماڼۍ جوړوئ او د هغې غرونه د کورونو په شکل توروئ.**

**دارنګه فرمايي:﴿وَتَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا فَارِهِينَ﴾(26)**

**ژباړه: تاسې غرونه توروئ په وياړ سره په کې ودانۍ جوړوئ.**

**د نجارۍ صنعت په هکله فرمايي :﴿وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا﴾(27)**

**ژباړه: او زمونږ تر څارنې لاندې زمونږ له ښوونې سره سم د یوې بېړۍ په جوړولو لاس پورې کړه.**

**دارنګه فرمايي :﴿وَحَمَلْنَاهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ﴾(28)**

**ژباړه: او مونږ نوح(ع)(29) د پلنو تختو او د پېرو میخونو لرونکې په یوې (بېړۍ) باندې سپور کړ.**

**حقیقت دادی، چې د صنعت چارې نبیانو علیهم السلام هم سرته رسولي دي، چې د ځینو نه قرآن خبرداری کړی او ځینې په احادیثو کې راغلي، چې دلته به یې د ځینو کسبونه ذکر وکړو:**

**نوح(ع) نجار ؤ او کشتۍ به يې جوړولې؛ الله(ج) فرمايي:﴿وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا﴾(30)**

**ژباړه: او زمونږ تر څارنې لاندې زمونږ له ښوونې سره سم د یوې بېړۍ په جوړولو لاس پورې کړه.**

**داود(عليه السلام) اهنګر ؤ، د اوسپنې نه يې تورې او زغرې جوړولې. الله(جل جلاله) فرمايي: ﴿وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّن بَأْسِكُمْ﴾(31)**

---

۲۵- د النحل سورت، ایت ۸۰

۲۶- د الاعراف سورت، ایت ۷۴

۲۷- د الشعراء سورت، ایت ۱۴۹

۲۸- د هود سورت، ایت ۳۷

۲۹- د القمر سورت، ایت ۱۳

۳۰- نوح بن لامك بن متوشلخ بن خنوخ، د ادم(عليه السلام) او د ده تر منځ تقریباً شل پېړۍ تیرې شوې وې او ټول خلک مسلمانان وو، بیا بت پرستي شروع شوه. الله نوح(عليه السلام) دې خلکو ته ولیږه، نوح(عليه السلام) د ځمکې پر مخ اولنی رسول و. نوح(عليه السلام) تقریباً نهه نیم سوه کاله دعوت وکړ او بیا الله د ده پر قوم باندې طوفان راوست د اسمان او ځمکې نه اوبه رواني شوې او بالاخره ټول قوم غیر له څو مسلمانانو نه هلاک شول، چې د دې نه وروسته نسل بیا د نوح(عليه السلام) څخه شمېرل کیږي، نو ځکه نوح(عليه السلام) ته ادم ثاني وايي. قران کې يې نوم تقریباً درې دېرش ځلې ذکر شوی دی. [أبو الفداء، إسماعيل بن كثير، قصص الأنبياء، لوموړی چاپ(۱۳۸۸هـ ق)، مكتبة الشاملة(جـ ۱،صـ ۴۷)].

۳۱- د هود سورت، ایت ۳۷

۳۲- د الانبیاء سورت، ایت ۸۰

**ژباړه: او مونږ هغه (داود ؑ) ته ستاسې د گټې لپاره د زغرې جوړولو صنعت وربښودلی ؤ، تر څو چې تاسې ځانونه یو د بل له گوزار څخه وژغورئ.**

**موسی(ؑ)(32) د شیخ مدین(33) سره د اجیر په صفت مېږې به یې پوولې؛ الله (جل جلاله)فرمايي :﴿قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ﴾(34)**

**ژباړه: له هغو دوو ښځو یوې خپل پلار ته وویل، پلار جانه! دغه سړی نوکر ونیسه، دی تر ټولو یو غوره سړی دی، چې نوکر یې نیسې، ځکه چې قوي او امانتدار دی۞.**

**زکریا(ؑ)(35) نجار و، د ده په اړه رسول الله (ﷺ) فرمایي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿كَانَ زَكَرِيَّا نَجَّارًا﴾(36)**

**ژباړه: له ابو هریرة(رضي الله عنه) څخه روایت دی، چې وایي، رسول الله(ﷺ) ویلي دي: زکریا(ؑ)نجار و.**

**مومن مسلمان ته لازمه ده، چې کار وکړي او د حلالې روزۍ په لاسته راوړلو د ځمکې په تل او یا تر اسمان لاندې هر رنگه کار، چې وي په خپلو هلو ځلو لاس پورې کړي، تر څو د خپل ځان او خپلې کورنۍ ضرورتونه او اړتیاوې پوره کړي.**

**صنعت په دغو ورځو کې د څواکمن اقتصاد له مهمو بنسټونو څخه شمېرل کېږي، چې د یو هیواد ډېره گټه ور پورې تړلې ده، داسې یو مبارک کار دی، چې انبیاوو، اصحابو او اسلامي قانون پوهانو سرته رسولی دی.**

---

۳۳- موسی علیه السلام بن عمران بن قاهث د هارون علیه السلام ورور و، کله چې فرعون د خدایی دعوه وکړه او د بني اسرائیلو ماشومان به یې قتلول الله(جل جلاله) موسی پیدا کړ او بني اسرائیلو ته یې د فرعون له ظلم څخه نجات ورکړ او د فرعون په کور کې یې پالنه ورکړه او بیا د فرعون په ضد پورته شو او بالاخره د الله تعالی د توحید دعوت یې ورکړ، چې د فرعون د انکار په صورت کې الله تعالی په دریاب کې غرق کړ. [أبو الفداء إسماعیل بن کثیر، قصص الأنبیاء، لومړی چاپ(۱۳۸۸هـ ق)، مکتبة الشاملة(جـ۲، صـ ۳)].

۳۴- شیخ مدین د شعیب په نوم یو سړی و، چې مشهور دا دی چې دا نبي د وخت و الله تعالی مدین خلکو ته لیږلی و. [أبو الفداء إسماعیل بن کثیر، قصص الأنبیاء، لومړی چاپ(۱۳۸۸هـ ق)، مکتبة الشاملة(جـ ۲،صـ ۱۸)].

۳۵- د القصص سورت، ایت ۲۶

۳۶- زکریا بن برخیا او چا زکریا بن دان، او چا زکریا بن لدن ښودلی، د یحیی علیه السلام پلار او د بنی اسرائیلو نبي و. [أبو الفداء، إسماعیل بن کثیر، قصص الأنبیاء، لومړی چاپ(۱۳۸۸هـ ق)، مکتبة الشاملة(جـ ۲،صـ ۳۴۸)].ظ

**په اقتصادي معاملاتو کې اخلاقو ته د اسلام هڅونه**

**اخلاق په لغت کې دین، طبیعت، خوی او عادت ته وايي[37] او د اندازه کولو په معنی سره هم راغلی؛ یعنې اخلاق هغه خوی او عادت څخه عبارت دی، چې انسان پرې اندازه کېږي[38]. یا دا چې اخلاق هغه قوه ده، چې په بصیرت سره پېژندل کېږي. که داسې ووایو، چې خَلْق او خُلُق دواړه یو شی دي، خو فرق دومره دی چې خَلْق هیئت شکل او صورت پورې خاص شوی، چې په سترګو ښکاري او خُلُق دا هغه خوی، عادت او قوه ده، چې په بصیرت سره پېژندل کېږي[39] لکه الله تعالی د رسول الله(ﷺ) په باره کې فرمایي: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾[40]**

**ژباړه: او یقیناً ته خامخا د اوچتو اخلاقو خاوند یې. په اصطلاح کې اخلاق هغه سلوک ته وايي، چې د انسان ژوند ورسره ښایسته کېږي یا د انساني ژوند د تعامل د طریقو ښکارندوی دی او اسلامي اخلاق د انساني سلوک هغه منظم قواعد دي، چې د انسان د ژوند د تنظیم او ښایسته کېدلو لپاره د وحې په ذریعه بیان شوي وي[41].**

**اخلاق د انسان په سلوک او دغه راز په ټولو اعمالو کې پوره ارزښت لري، دا ځکه چې د انسان رویه او سلوک د هغه د باطني صفاتو معانیو څرګندونه کوي او د انسان قیمت او ارزښت د هغه د اخلاقو او سلوک له مخې پېژندل کېږي، چې دغه قیمت او ارزښت په جسماني قوت یا ډېرې پوهې سره نه حاصلیږي، رسول الله(ﷺ)په دې اړه داسې فرمایلي دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قال: قَالَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ﴿إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَلَا أَمْوَالِكُمْ، وَلَكِنْ إِنَّمَا يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ﴾[42]**

**ژباړه: له ابو هریرة(ﷺ) څخه روایت دی، چې وايي، رسول الله(ﷺ) ویلي دي: الله پاک ستاسې ظاهري بڼې او مالونو ته نه ګوري، بلکې ستاسو زړونو (نیتونو) او اعمالو ته ګوري.**

---

۳۷- ابو الحسین، مسلم بن حجاج، صحیح مسلم (باب من فضائل زکریا علیه السلام) (ح ۲۳۷۹)، مکتبة الشاملة موافق لترقیم عبدالباقي، (جـ۴،صـ۱۸۴۷) .

۳۸- ابن منظور، محمد بن مکرم، لسان العرب، لومړی چاپ، دار صادر، بیروت، پنځلس ټوکه، (جـ۱۰،صـ ۸۵).

۳۹- ابن فارس، ابو الحسین احمد بن فارس، معجم المقاییس اللغة چاپ کال (۱۳۹۹ هـ ق)، دار الفکر، شپږ ټوکه(جـ ۲،صـ ۲۱۴).

۴۰- الراغب، ابو القاسم الحسین بن محمد، المفردات في غریب القرآن، کتاب الخاء، خ ل ق)، چاپ کال (۱۴۲۸ هـ ق)، دار احیاء التراث العربي، بیروت، لبنان، یو ټوکه (صـ ۱۶۴).

۴۱- د القلم سورت، ایت۴

۴۲- صالح بن عبدالله بن حمید په لارښوونې او اشراف سره ګڼ شمېر علماء، نضرة النعیم في مکارم اخلاق الرسول الکریم، دار الوسیلة، جدة، څلورم چاپ، دولس ټوکه(جـ۱، صـ۶۶) .

**د اسلام مقدس دين خپل پيروان همېش ښو اخلاقو ته رابولي او اخلاقو ته اسلام اوچت مقام او منزلت ورکړی او د اخلاقو په اړه ګڼ شمېر احاديث راغلي، چې د يو څو يې دلته يادونه کوو.**

**۱، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ[43] قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:﴿مَا مِنْ شَيْءٍ يُوضَعُ فِي الْمِيزَانِ أَثْقَلُ مِنْ حُسْنِ الْخُلُقِ، وَإِنَّ صَاحِبَ حُسْنِ الْخُلُقِ لَيَبْلُغُ بِهِ دَرَجَةَ صَاحِبِ الصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ﴾[44]**

**ژباړه: د ابو درداء(ﷺ) څخه روايت دی، چې وايي ما د رسول الله( ﷺ) څخه اورېدلي دي: د نېکو اخلاقو څخه هيڅ يو شی دروند نه شته، چې د انسان د نېکيو په تله کې کېښودل شي، يقيناً چې د نېکو اخلاقو څښتن د روژه نيوونکو او لمونځ کوونکو غونډې درجه مومي.**

**۲، عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ:﴿اتَّقِ اللَّهَ حَيْثُمَا كُنْتَ وَأَتْبِعْ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقْ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ﴾[45]**

**ژباړه: د ابوذر(ﷺ)[46] څخه روايت دی وايي، چې رسول الله(ﷺ) ما ته وويل: په هر حالت کې له الله پاک څخه ووېرېږه، د بدی پسې جوخت نېکي کوه، چې بدي له منځه يوسي او د خلکو سره په غوره اخلاقو چلند کوه.**

**۳، عَنِ معاوية رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صَلى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ :﴿إِنَّ خِيَارَكُمْ أَحَاسِنُكُمْ أَخْلَاقًا﴾[47]**

---

۴۳- المنذري، زکي الدين، مختصر صحيح مسلم (باب، المسلم أخو المسلم لا يظلمه ولا يخذله، ۲، ۴۷۳)(۱۷۷۶)، المکتب الإسلامي، بيروت، لبنان، شپږم چاپ (۱۴۰۷ هـ ق)، دوه ټوکه، ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، سنن ابن ماجة (کتاب الزهد، ح ۴۱۴۳)، مکتبة أبي المعاطي، پنځه ټوکه(جـ ۵،صــ ۲۵۴).

۴۴- ابو درداء نوم يې عويمر بن عامر او چا يې نوم عامر بن مالک او لقب يې عويمر ښودلی، د خپل د کلي وروستی کس و، چې ايمان يې راوړ. ډېر هوښيار فقيه او حکمت خاوند و. نبي صلی الله عليه وسلم د ده او د سلمان فارسي رضی الله عنه تر منځ ورورولي تعين کړه، نبي صلی الله عليه وسلم ده ته د امت حکيم ويلی، د احد نه وروسته ټولو غزاګانو کې شريک شوی دی، ابو درداء رضی الله عنه د عثمان رضی الله عنه په خلافت کې د دمشق قاضي پاتې شوی و او بيا هماغلته د عثمان رضي الله عنه د شهادت نه دوه کاله مخکې وفات شو.[ابن عبد البر، الإستيعاب في معرفة الأصحاب، موقع الوراق، www.alwarraq.com،،،http، مکتبة الشاملة، (جـ ۲، صـ ۲۵)].

۴۵- الترمذي، محمد بن عيسی، سنن ترمذي (باب حسن الخلق، ح ۲۰۰۳)، دار إحياء التراث العربي، بيروت، پنځه ټوکه ( جـ۴، صــ۳۶۳)، (امام الباني رحمه الله وايي حديث صحيح دی).

۴۶- الترمذي، محمد بن عيسی، سنن ترمذي (باب معاشرة الناس، ح ۱۹۸۷)، دار إحياء التراث العربي، بيروت، پنځه ټوکه( جـ۴،صــ ۳۵۵)، (امام ترمذی رحمه الله وايي حديث حسن صحيح دی، امام الباني رحمه الله وايي، حديث حسن دی)

۴۷- ابو ذر الغفاري ﷺ د نوم باره کې يې ډېر اختلاف دی، خو صحيح قول دا دی چې نوم يې جندب بن جنادة او مور يې رمله بنت الوقيعة د بني غفار د قبيلې وه. ابو ذر د لويو صحابه کرامو له ډلې او د اولني اسلام راوړونکو څخه و، ويل کېږي، چې پنځم کس و، چې اسلام يې راوړو او بيا خپل قوم ته لاړ او هماغلته پاتې و، تر څو چې نبي ﷺمدينې ته هجرت وکړ. ابو ذر ﷺ د هجرت په يو دېرشم يا دوه دېرشم کال د ربذة مقام کې وفات شوی. [ابن الاثير، اسد الغابة، مکتبة الشاملة(جـ۱،صــ ۱۱۶۹)].

**ژباړه: د معاویه[48] (ﷺ) نه روایت دی، چې وایي رسول الله(ﷺ)ویلي: په تاسو کې غوره د ښو اخلاقو خاوند دی.**

**د پورته احادیثو نه دا څرګندیږي، چې د اسلام مقدس دین خپل اتباع بل ته له ضرر رسولو څخه منع کوي او هغوی ته په ټولو کارونو او معاملاتو کې د ښو اخلاقو توصیه کوي او دا ځکه چې اخلاق د انسان د ایماني مبداء سره یو غښتلی تړاو لري، چې د انسان قدر او قیمت د هغه د اخلاقي معیارونو له مخې ټاکل کېږي، تر څو انسان دغه اخلاقي معیارونه او مفاهیم د خپل ژوند په ټولو پړاوو کې په پام کې ولري او په هغې باندې ځان تحلیه او ښکلی کړي، تر څو رسول الله(ﷺ) ته د قیامت په ورځ نژدې واوسي او د هغه د محبوبو خلکو څخه وګڼل شي، چې نبي(ﷺ) فرمایي :﴿اِنَّ مِنْ أَحَبُّكُمْ إِلِيَّ وَأَقْرَبُكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَاسِنُكُمْ أَخْلَاقًا﴾[49]**

**ژباړه: ستاسې له جملې څخه ما ته محبوب او د قیامت په ورځ ما ته نږدې خلک هغه دي، چې د هغوی اخلاق غوره (نېک) وي.**

---

۴۸- ابو الحسین، مسلم بن حجاج، صحیح مسلم (باب كثرة حیائه صلی الله علیه وسلم، ح ۶۰۲۳)، مکتبه رحمانیه، لاهور، دوه ټوکه(جـ ۲، صـ۲۶۱).

۴۹- معاویه بن ابو سفیان په کال (۲۰ هـ ق) کې پیدا شوی. نوموړی د اموي دولت مؤسس و، چې تاداب یې په شام کې کېښود. ډېر زیات فصیح او حلیم شخص و، د مکې په ښار کې پیدا او د فتحې په ورځ مسلمان شو. نبي صلی الله علیه وسلم د خپلو کاتبانو څخه مقرر کړ، کله چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه خلیفه شو د لښکر مشر یې وټاکه، د عمر بن خطاب رضی الله عنه د خلافت په دوره کې یې د اردن والي مقرر کړ، د عثمان بن عفان رضي الله عنه په دور خلافت کې د ټول شام والي مقرر شو، تر دې چې ټول خلک ورته تابع وو. کله چې علي رضی الله عنه خلیفه شو، د معاویه په لرې کېدو یې فرمان صادر کړ، خو د فرمان رسېدو یې خلکو ته اعلان وکړ، چې عثمان رضی الله عنه د علي رضي الله عنه په واسطه په شهادت رسېدلی او د انتقام اخیستلو لپاره یې خلک راټول کړل. د ده او د علي رضي الله عنه په منځ کې ډېرې جګړې منځته راغلې، تر دې چې شام کې د معاویه رضي الله عنه مشري او عراق کې د علي رضی الله عنه مشري قایمه شوه، بیا کله چې علي رضي الله عنه شهید شو. نو معاویه سره وروسته د حسن رضی الله عنه نه بیعت وشو، چې دغه وخت کال (۴۱هـ ق) وو، تر اخر د عمره چې د یزید لپاره یې خلکو نه بیعت واخیست بیا وفات شوی. تقریباً (۱۳۰) احادیث ترې روایت شوي، په څلورو احادیثو کې بخاري او مسلم متفق دي او څلور احادیث یوازې ترې بخاري او پنځه یوازې ترې مسلم رحمهما الله روایت کړي. [الزرکلي، خیر الدین بن محمود، الاعلام، پنځلسم چاپ(۲۰۰۲م)، دار العلم للملایین، (جـ ۷،صـ ۲۶۱)].

**۱- په رېښتینولۍ ټینګار: رښتیا ویل او په ټولو ویناوو او افعالو کې رېښتیني اوسېدل د مسلمان د ایمان بنسټ تشکیلوي، ځکه چې رښتیا ویل د نېکۍ طرف ته هڅونه کوي او نېکي د جنت د حصول ذریعه ده او همدا جنت د مؤمن د لوړو امیدونو څخه ځانګړی امید او هیله ده. له بله پلوه دروغ ویل، چې د صدق ضد دي، د بدۍ لور ته هڅونه کوي او د بدۍ پایله دوزخ یا د الله عذاب دی.**

**رښتیا ویل یوازې دا نه، چې د نېکو اخلاقو څخه ګڼل کېږي، بلکې د انسان د ایمان د بشپړوونکو اجزاوو څخه شمېرل کېږي، لکه چې الله(جل جلاله) فرمایي: ﴿ یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَکُونُوا مَعَ الصَّادِقِینَ ﴾[50]**

**ژباړه: ای مؤمنانو! له الله څخه ووېرېږئ او د رښتیا ویونکو ملګرتیا وکړئ.**

**دارنګه الله (جل جلاله) د مؤمنانو نارینه او ښځو صفاتو کې د تابعداري کوونکو صفت نه وروسته رښتیا ویونکي یادوي او داسې وایي، چې:﴿إِنَّ الْمُسْلِمِینَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِینَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِینَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِینَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِینَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِینَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِینَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِینَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِینَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاکِرِینَ اللَّهَ کَثِیرًا وَالذَّاکِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِیمًا ﴾[51]**

**ژباړه: یقیناً مسلمان سړي او مسلمانې ښځې، مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې، تابعداري کوونکي سړي اوتابعداري کوونکې ښځې، رښتیا ویونکي سړي او رښتیا ویونکې ښځې، صبر کوونکي سړي او صبر کوونکې ښځې، عاجزي کوونکي سړي او عاجزي کوونکې ښځې، صدقه کوونکي سړي او صدقه کوونکې ښځې، روژه نیوونکي سړي او روژه نیوونکي ښځې، د پټ ساتونکو عورتونو سړي او ښځې او د الله تعالی ډېر یادوونکي سړیو او ښځو ته الله تعالی ډېر بخشش او لوی ثواب تیار کړی.**

**۲- په امانتدارۍ ټینګار: دا هغه غوره خصلت او صفت دی، چې د هرې ټولنې بنسټ تشکیلوي او له دې پرته د ټولنې بنیاد نه غښتلی کېږي او د ټولنې هر غړی ور څخه برخمن دی.**

**امانتداري هغه غوره خوی او صفت دی، چې انسان د هغې په ذریعه د ټولنې د افرادو تر منځ د اعتماد وړ ګرځي او د افرادو د زړونو په تل کې ځای نیسي. دا جوته ده، چې انسان له ټولنې پرته ژوند نه شي کولای**

۵۰- الترمذي، محمد بن عیسی، سنن ترمذي ( باب معالي الاخلاق، عن جابر، ح ۲۰۱۸)، دار إحیاء التراث العربي، بیروت، پنځه ټوکه(جــ ۴، صــ۳۷۰). (امام ترمذي رحمه الله وایي حدیث حسن غریب دې، او امام الباني رحمه الله وایي حدیث صحیح دې).

۵۱- د التوبة سورت، ایت۱۱۹

**او ټولنه هرو مرو دولت دارۍ ته اړتیا لري، چې د هغې د رهبرۍ لاندې ژوند وکړي؛ دغه دولت اسلامي دی او که غیر اسلامي، خو هرو مرو افرادو ته اړتیا لري، تر څو دولتي چارې سمې کړي.**

**یوه ډله خلک باید داسې وي، چې د دولت د حدودو او پولو ساتنه وکړي، تر څو بل څوک ور باندې یرغل ونه کړي، بله ډله خلک باید داسې وي، چې په ښارونو، کلیو او دفترونو کې دننه چارې سمبال کړي، تر څو د ښارونو، کلیو او دفترونو چارې د ګډوډۍ، فساد، چور او چپاول څخه خوندي کړي.**

**بله ډله باید د مالي چارو سمبالښت په غاړه واخلي او د دولت مالیات[52] او عایدات[53] راجمع کړي او هغه تنظیم کړي. بله ډله خلک باید د دولت په قوانینو پوه وي، تر څو د دولت د افرادو تر منځ په شخړو کې پریکړې وکړي. یو شمېر خلک باید د دې لپاره وګمارل شي، چې د عامه ګټو په خاطر د دولت له خوا ټاکل شوې بودیجه د سړکونو، ښوونځیو، پلونو، روغتونونو او نورو چارو په رغونه او جوړونه کې مصرف کړي.**

**پورتنۍ برخې او ډلې ټول د دولت کارکوونکي دي، چې په بېلابېلو چارو کې ګمارل شوي دي او باید په خپلو ټولو ورسپارل شویو دندو کې د پوره امانتدارۍ او ځیرکۍ څخه برخمن وي. که دغه طبقات او ډلې په خپلو دندو او مسولیتونو کې په ایماندارۍ او امانتدارۍ سره خپلې چارې پر مخ بوځي، نو دولت به د پرمختګ او ترقۍ په لور ګامونه پورته کړي او که الله ناخواسته د امانتدارۍ غوره خصلت په دوی کې موجود نه وي، نو هرو مرو به د دولت د تباهۍ او زوال سبب کېږي، ځکه چې د دولت د چارو واک د همدوی په لاس کې دی او د دولت ستنې بلل کېږي؛ که نه نو بیا په ملک کې امن او ارامي نشي راتلی، د ولس حقوق به د پښو لاندې کېږي، وژنه او لوټماري به رواج کېږي، تر دې چې دولت د نیستۍ، غربت او فقر سره لاس او ګریوان کېږي، چې په پایله کې په اقتصادي لحاظ د خپلو سیالانو څخه وروسته پاتې کېږي، د دښمنانو په وړاندې خپل مقاومت له لاسه ورکوي، د خلاصون او پرمختګ ټولې لارې چارې ورباندې تړل کېږي او په دې کې شک نشته، چې هغه ولسونه او ملتونه د دغه راز خیانت کوونکو چارواکو او خاین دولت تر سیورې لاندې ژوند کوي، هیڅکله هم د پرمختګ او بریالیتوب پړاوونه نه شي وهلی.**

**د دغه ناخوالو او بدبختیو څخه د خلاصون ځانګړې لار په مسولیتونو کې امانتداري ده، چې د دولت لپاره د بنیاد بنه لري او د امن، سکون او عدالت حقیقي روح دی، ځکه الله (ﷻ) فرمایلي دي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ﴾[54]**

---

۵۲- د الاحزاب سورت، ایت ۳۵

۵۳ - مالیات هغه مقدار د مال ته وایي، چې وګړي او مؤسسات یې د خپل ځان امن کولو لپاره او د دولت د اهدافو لاسته راوړلو لپاره ورکوي . www.google.com/search?q=

۵۴- د سرمایه ګذارۍ لپاره د کسب او کار څخه لاسته راغلي حاصل ته عاید وایي WWW.VAJEHYAB.COM

**ژباړه: یقیناً الله(جل جلاله) تاسې ته حکم کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چې د خلکو تر منځه فیصله کوئ، نو په عدل او انصاف سره یې وکړئ.**

**په بل ځای کې د مؤمنانو د غوره صفاتو له جملې څخه یو هم امانتداري په نښه کوي:﴿ وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ ﴾[55]**

**ژباړه: مؤمنان هغه دي، چې د خپلو امانتونو او ژمنو خیال ساتي.**

**رسول الله(ﷺ) د امانتدارۍ نه درلودل یا د دغه خصلت نشتوالی د منافقت خصلت شمېرلی دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ﴿آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثَةٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ﴾[56]**

**ژباړه: د ابو هريرة (رضي الله عنه) څخه روایت دی، چې رسول الله(ﷺ) فرمایلي دي، د منافق نښې درې دي، کله چې خبرې کوي دروغ وايي، کله چې وعده وکړي په وعده وفا نه کوي، کله چې امانت ورته وسپارل شي خیانت په کې کوي.**

**له دې نه به غټ خیانت کوم وي، چې د مسلمانانو د چارو واګې نااهله خلکو ته وسپارل شي. رسول الله(ﷺ) په دې اړه داسې ویلي دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ: ﴿إِذَا ضُيِّعَتِ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ قَالَ كَيْفَ إِضَاعَتُهَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ إِذَا أُسْنِدَ الأمر إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ﴾[57]**

**ژباړه: د ابوهريرة(رضي الله عنه) نه روایت دی، چې وايي رسول الله(ﷺ)ویلي دي: کله چې امانت ضایع شي، نو د قیامت انتظار وباسه، وویل شو چې د امانت ضایع کېدل څنګه وي ای د الله رسوله(ﷺ)! ویې ویل کله چې چارې نا اهله خلکو ته وسپارل شي، نو د قیامت انتظار کوه.**

**د امانتدارۍ برخه ډېره پراخه ده، یوازې د مالونو او امانتونو په ساتنه کې نه رالنډېږي، بلکې په ایمان باندې ثبات امانت دی، په عبادت کې اخلاص امانت دی، د خلکو سره احسان کول امانت دی، هر چا ته خپل حق سپارل امانت دی، هره چاره خپل اهل ته سپارل امانت دی، د رازونو ساتل امانت دی.**

---

۵۵- د النساء سورت، ایت ۵۸

۵۷- د المؤمنون سورت، ایت ۸

۵۸- البخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح بخارى (باب علامة المنافق ح ۳۳)، نسخة طوق النجاة، مكتبة الشاملة(جـ ۱،صــ ۲۲).

۵۹- مخکنې مرجع (باب رفع الامانة، ح ۶۴۹۶)( جـ۱، صــ۴۰۲)

قرانکریم کې الله(ﷻ) د خیانت نه کولو په اړه فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾[58]

ژباړه: ای مؤمنانو! د الله(ﷻ) او رسول(ﷺ) سره او په خپلو امانتونو کې خیانت مه کوئ.

دغه راز د مالونو او امانتونو د واپس کولو په هکله فرمايي :﴿فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهُ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ﴾[59]

ژباړه: نو هر څوک باید د هغه امانت واپس کړي، چې هغه بل وربانديې سپارلی دی او له الله(ﷻ) څخه دې ووېرېږي.

۳- په وعدې او تړون وفا کول: په وعده وفا کول د مسلمان ستر صفت دی، اسلام همېشه خپل اتباع د تړون او وعدې پوره کولو لپاره رابولي، حتی چې قرآن په وعدې وفا کول د کامیابۍ له رازونو څخه شمېرلي دي، لکه چې فرمايي :﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ﴾(60)

ژباړه: او هغه کسان (کامیاب شول) چې دوی د امانتونو او وعدو رعایت کوونکي دي.

په وعده وفا نه کول اسلامي شریعت د منافق د صفاتو څخه شمېرلی دی، لکه چې رسول الله(ﷺ) فرمايي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ:﴿آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ﴾ [61]

ژباړه: ابوهریرة(رضي الله عنه) د رسول الله(ﷺ) نه روایت کوي، چې فرمايي، د منافق درې نښې دي، چې کله خبرې کوي دروغ وايي، کله چې وعده وکړي په هغې وفا نه کوي او که امانت ورته وسپارل شي، په هغې کې خیانت کوي.

---

۵۹- د الانفال سورت، ایت ۲۷

۶۱- د البقرة سورت،ایت ۲۸۳

۶۰- د المؤمنون سورت، ایت ۸

۶۱- البخاري، محمد بن اسماعیل، صحیح البخارى (باب علامة المنافق، ح ۳۳)، مکتبة الشاملة(جـ۱، صـ۲۲).

**د دولتونو په ابادولو کې د اقتصاد اهمیت**

**د نړۍ د انساني ټولنیز ژوند د جوړښت له پیل څخه تر اوسه په ټولو اجتماعي غوښتنو کې یوه لویه اغېزمنه برخه د بشري اړتیاوو د لرې کولو اصل دی، د دې اصل د اثبات او اجراء لپاره ډېر دلیلونه په الهي لارښوونو او موضوعه بشري حقوقو، قوانینو او د پوهانو په نظریو کې موندلای شو. د قران عظیم الشان په ځینو آیتونو او د محمد(ﷺ) په مبارکو حدیثونو کې د اقتصاد په اړه لارښوونې شته مونږ د بشري تاریخ په اوږدو کې اقتصادي لزوم او د هغه اغېزه پر نورو ټولنیزو موضوعاتو باندې په څرګند ډول لیدلای شو، چې دا ډول لزوم په ځینو مکتبو او اصولو کې ضمني او پټ وي.**

**د حقوقو او قوانینو کار د انسانانو سره وي او انسانان د ویاړنې د عادي ژوند د پایښت لپاره خپلواکي، تعلیم، تربیې، خوړو، کالو، ټاټوبي او سولې ته اړتیا لري، چې د حقوقو او قوانینو حاکمیت یې چمتو او تنظیموي. د نړۍ په اوسنیو هېوادونو کې د خلکو د اقتصادي ژوند او پرمختګ لپاره بېلابېلې نظریې او لارې شته، چې د تشبهاتو سره سره اختلافات هم لري. د هیوادو د جغرافیایي موقعیت د طبیعي ثروتونو د کمیت او کېفیت، د بین المللي ارزښتونو سره تولید (پیداوار) او عرضه (وړاندې کول) د ټولنې د افرادو د کار وېش، مهارتونه او تعلیم، د کارګرو او بزګرو د کار کولو د ساعتونو محدودیت او د کوچنیانو د کارکولو لغوه کول، متناسبې اجورې، د ټولنې د افرادو د ښه ژوند او د اقتصادي ودې سره نه پرېکېدونکې اړیکې لري. د زمان او مکان په ارتباط د داخلي او نړیوالو مسایلو د اوښتونو سره سم اقتصادي او تجارتي فعالیتونه تنظیموي، تلپاتې والی یې شرط نه دی، بلکې د افرادو او ټولنې د اړتیاوو د لیرې کولو او هوساینې لپاره په مؤقتي یا تلپاتې ډول ترتیبېږي. له بل لوري په ټولنه کې د افرادو د شخصي اقتصادي ابتکاراتو د خپلواکۍ لزوم تحقق پیدا کوي؛ کرنه، صنعت، تجارتي شرکتونه، اتحادیې، داخلي، بهرني او نړیوال بانکونه او اعتبارات، سهمونه، مضاربت، د پور اخیستلو او ورکولو ډولونه، واردات، صادرات، او انډول یې، حمل و نقل د ډول ډول مالونو د تولیداتو موجودیت، بازارونه او اعلانونه، د بېکارانو لړول، کارونه موندل، د کارګرو، بزګرو، بېکارانو، نادارو، سپین ږیرو او سپین سرو، ناروغو، معیوبینو، بې وسه مسافرانو او اسیرانو سره ټولنیزې مرستې، د نجونو او هلکانو د تعلیم او تربیې موضوعات او په ټولنه کې د رېړونو د لیرې کولو تأمینات او بیمې، د ځمکو خاوندان او پانګوال، کارخانې او فابریکې، د هغو اړیکې د بزګرو او کارګرو او اهل حرفه وو سره سیاسي او اقتصادي عدالت او د بشر د حقوقو(بشپړ) مسایل ګمرکي او پر عایداتو محصولات، د هیواد اقتصادي اتحادیې، تجارتي او تعاوني پرېکړې او مختلف قراردادونه،**

**تړونونه او په عين وخت کې سيالۍ، د ازادو تجارتي او اقتصادي بندرونو او بازارونو تأسيسول لکه ( په ځينو بندرونو او ښارونو کې د داخلي او**

**نړيوالو سوداګريزو هلو ځلو د اسانتياوو او ګټو لپاره ګمرکي محصولات له منځه وړل) منطقوي او نړيوال تجارتي او اقتصادي قراردادونه ( چې عموماً د هر ډول حمل او نقل ځمکني، هوايي او بحري فعاليتونه اسانه کوي او ماليات له منځه وړي يا يې د پرېکړو له مخې تأسيسوي، چې د ګازو او نفتو نلونه هم په کې داخل دي) د مالونو د خرڅلاو لپاره په دننه هېواد يا بهرنيو هېوادونو کې د بازارونو موندل، له يوه ځايه بل ځای ته د سوداګرو او اقتصادي متشبثينو د سفر کولو اسانتياوې، اجارې مزايدې، مناقصې، د لارو، پلونو، کورونو، کليو، ښارونو، د فردي يا دولتي عمارتونو د جوړولو قردادونه، د توليد او عرضې د ارزښتونو او خرڅلاو د ښه کېدو ابتکاري فعاليتونه، د معدنو او کانو څخه د ښو ګټو حاصلول، د تجارتي او اقتصادي تشبثاتو د کارونو تنظيم، د پيسو جريان او چلند او په نړيواله کچه د هغو د ارزښت ساتنه، د کرنې او صنايعو د توليداتو ښه کول د اقتصادي نظرياتو او پلانونو موضوعات جوړوي[62].**

**طبيعي پېښې لکه زلزلې، سيلابونه، وچکالۍ، اورلګېدنې، د هوا تغيرات او خرابوالی، ناجوړې، حيواني او نباتي ناروغۍ، يا په بشر پورې تړلي تېرى کوونکي نړيوال سياستونه، استبدادي ديکتاتورۍ، او ميراثي حکومتونه، بين المللي اختلافونه، جنګونه، بې امنۍ، چور، وژنې، د کورونو، کليو، ښارونو، ابادو ځمکو تباهۍ په اوبو سيندونو او ځنګلونو کې د ژونديو موجوداتو، نباتي او حيواني نسل لړېدل او ورکېدل، د هوا کثافت، په هېوادونو کې اغتشاشونه او انقلابونه، د جعلي پيسو خپرېدل، د تاوان لرونکو موادو قاچاق او تجارت او داسې نور عوامل چې د اقتصادي بحرانونو سبب ګرځي[63].**

**اقتصاد د ټولنې په تکامل کې مهم رول لوبوي، چې د ټولنې اقتصادي جوړښت د ټولنې د ژوندانه بنسټ او بنياد تشکيلوي يا په بل عبارت هره ټولنه بنسټ لري او دغه بنسټ د توليدي قوتونو او مناسباتو مجموعي ځرنګوالي پورې اړه لري، بنسټ په ټولنيز ژوند کې ستر او لوی رول لري او انسانانو ته دا امکان برابروي، چې د مادي نعمتونو څخه ګټوره لاسته راوړنه ولري[64].**

---

۶۲- ايوبي، محمد نادر،اقتصادي نظريات دريم چاپ (۱۳۸۹هـ ش)، صحاف نشراتي کميټه، کوټه لاهور (صــ ۲۹، ۳۱).

۶۳- مخکنی مرجع (صــ ۳۱).

۶۴- ايوبي، محمد نادر، اقتصادي نظريات دريم چاپ (۱۳۸۹ه ش)، صحاف نشراتي کميټه، کوټه لاهور (صــ ۲۹، ۳۱).

**پایله**

**څرنګه چې اقتصاد په فردي ژوند کې تاثیر لري، دارنګه د ټولنې په تکامل کې مهم رول لوبوي، چې د ټولنې اقتصادي جوړښت د ټولنې د ژوندانه بنسټ او بنیاد تشکېلوي، همدغه وجه ده، چې د اسلام مقدس دین خپل اتباع په مختلفو طریقو اقتصادي پیاوړتیا ته هڅوي.**

**اقتصادي پیاوړتیا په ټولنیز ژوند کې ستر رول لري او انسانانو ته دا امکان برابروي، چې د مادي نعمتونو ښخه ګټوره لاسته راوړنه ولري، تر څو خپل فردي او ټولنیز ژوند جوړ کړي؛ ځکه چې کمزوری اقتصاد د ملتونو د ثبات او ژوند لپاره سخت ګواښ دی، همدارنګه پرمختللی اقتصاد د ملتونو د پرمختګ لپاره ستر ځواک دی.**

**وړاندیزونه**

**د مقالې په پای کې د یو لیکوونکي په حیث خلکو، ټولنې او په ټوله کې دولت ته څو وړاندیزونه کوم:**

**۱ – د سوداګرۍ لمنه پراخه کړئ او نورو دولتونو ته یې وغځوئ، ځکه په منظمو صادراتو او وارداتو سره کولای شو خپل دولت له اقتصادي رکود څخه وژغورو.**

**۲ – تجاران تشویق کړل شي او سرمایه ګذارۍ ته وهڅول شي، د هغو د امنیت ضمانت وکړل شي، تر څو سوداګري مو له نړۍ سره وصل کړي.**

**۳ – زراعت ته دولت باید پوره پاملرنه وکړي، زراعتي لابراتوارونه دې فعال کړي، زمینداړانو ته د ښه کښت لپاره اصلاح شوي تخمونه توزیع کړي او د هر فصل په پیل کې او له کښت تر مخه تربیوي سیمینارونه دې له مجربو علمي کادرونو له خوا وړاندې کړل شي.**

**۴ – صنعت ته دې وده ورکړل شي، مختلف صنایعو لپاره دې فابریکې جوړې شي او خلک دې په کار وګمارل شي.**

**۵ – تجارانو او سوداګرو ته دې اخلاقي لارښوونې وشي او د بیع او شراء په اړه ورته منظم سیمینارونه وړاندې شي، دوی ته دې اسلامي اقتصادي اخلاق په ګوته شي، تر څو په خپلو چارو کې یې عملي کړي.**

## اخځليکونه


1. http،،،www.alwarraq.com،
2. www.google.com/search?q
3. WWW.VAJEHYAB.COM
4. ابن الاثير، اسد الغابة، مكتبة الشاملة
5. ابن عبد البر، الإستيعاب في معرفة الأصحاب، موقع الوراق http،،،www.alwarraq.com، مكتبة الشاملة.
6. ابن فارس، ابو الحسين احمد بن فارس، معجم المقاييس اللغة چاپ کال (۱۳۹۹ هـ ق)، دار الفكر، شپږ ټوکه.
7. ابن منظور، محمد بن مكرم، لسان العرب، لومړی چاپ، دار صادر، بيروت، پنځلس ټوکه.
8. ابو الحسين، مسلم بن الحجاج، صحيح مسلم ، موافق لترقيم عبدالباقي، مكتبة الشاملة .
9. ابو الحسين، مسلم بن حجاج، صحيح مسلم، مكتبه رحمانيه، لاهور، دوه ټوکه.
10. أبو الفداء إسماعيل بن كثير، قصص الأنبياء، لومړی چاپ(۱۳۸۸هـ ق)، مكتبة الشاملة
11. أبو عبد الله، أحمد بن محمد بن حنبل، مسند أحمد بن حنبل، لومړی چاپ (۱۴۱۹ هـ ق)، عالم الكتب، بيروت، شپږ ټوکه.
12. أبو عيسى، محمد بن عيسى الترمذي السلمي، سنن الترمذي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، پنځه ټوکه.
13. ايوبي، محمد نادر، اقتصادي نظريات دريم چاپ (۱۳۸۹ه ش)، صحاف نشراتي كميټه، كوټه لاهور.
14. البخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري، مكتبة الشاملة.
15. البخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح بخاری، نسخة طوق النجاة، مكتبة الشاملة.

16. الراغب، ابو القاسم الحسين بن محمد، المفردات في غريب القرآن، چاپ کال (۱۴۲۸ هـ ق)، دار احياء التراث العربي، بيروت، لبنان، يو ټوکه.
17. الزرکلي، خير الدين بن محمود، الاعلام، پنځلسم چاپ(۲۰۰۲م)،دار العلم للملايين.
18. صالح بن عبدالله بن حميد په لارښوونې او اشراف سره ګڼ شمير علماء، نضرة النعيم في مکارم اخلاق الرسول الکريم، دار الوسيلة، جدة، څلورم چاپ، دولس ټوکه.
19. المنذري، زکي الدين، مختصر صحيح مسلم، المکتب الإسلامي، بيروت، لبنان، شپږم چاپ (۱۴۰۷ هـ ق)، دوه ټوکه.
20. ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، سنن ابن ماجة، مکتبة أبي المعاطي، پنځه ټوکه.

**سیدال خان**

**اقتصاد پوهنځی- اداري او تجارت څانګه**

## د پېرېدونکو پر چلند د ټولنیزو رسنیو اغېزه

**لنډیز**

په دې څېړنه کې د ٦٠ تجربوي مقالو، چې د ۲۰۱۰- ۲۰۲۱ م کال پورې د پېرېدونکو د پېرېدلو د چلند په اړه لیکل شوي، تحلیل او ارزیابي یې شوې ده. دا څېړنه به د هغو څېړنو د جملې څخه وي، چې د پېرېدونکو د پېر هدف څېړي. دغه څېړنې هغه مختلف فکتورونه، چې د پېرېدونکو د پېر په برخه کې د ټولنیزو رسنیو اغېزه ښایي، مطالعه کوي. ټولې برخې یې بې ساري او د حالت مطابق دي، چې د پېرېدونکو د پېر په برخه کې د خورا زیات اهمیت لرونکې دي. دغه څېړنه به د پالیسي جوړوونکو لپاره د یو داسې وسیلې په توګه کار وکړي، چې د ټولنیزو رسنیو اغېزه د پېرېدونکو د پېر په برخه کې خپل دریځ محکم او ورڅخه ګټه پورته کړي.

**کلیدي کلمې: ټولنیزي رسنۍ، د پېرېدونکو د پېرېدلو چلند، د خریدار د اخیستنې سلوک.**

**سریزه**

ټولنیزې رسنۍ په انټرنېټ تکیه دي، چې دا خورا زړه راښکونکو، متحرکو او ارزښتناکو رسنیو ته اړتیا لري. یو شخص کولای شي، چې د یو شمېر خلکو سره په کې اړیکه ونیالي او دوه طرفه تبادله په کې وکړي؛ همدارنګه په اوسني وخت کې د هغې مدرنې ټکنالوجۍ له جملې څخه ده، چې خورا زیاته ګټوره ثابته شي. د براین ( ۲۰۱۱م) له نظره ټولنیزې رسنۍ هغه قدرتمند ټکنالوجیکي پروګرام دی، چې د ګډونوالو منځپانګه په نړېواله ټولنه کې په سرعت سره نشروي او د ګډونوالو اواز تر نورو رسوي. په همدې شکل کولای شو، چې ټولنیزي رسنۍ د انټرنیټي رسنیو په توګه په داسې شکل وپېژنو، چې د web 2.0 کې د تخنیکي او علمي بنیاد په درلودو سره منځ ته راغله او د ګډونوالو منځپانګه یو تر بل رسوي ( Kaplan & Haenlien, 2010).

د یو اړخه ټولنیزې رسنۍ د پېرېدونکو د عادتونو د پېژندو یو علمي وسیله ده. په همدې ترتیب د ګډونوالو تر منځ د ټولنیزو اړیکو د رامنځ ته کېدو وسیله ده، چې مقابل لوری د زیاتې اغېزې لاندې راولي او د هغوی د پیرو په چلند اغېزه کوي ( Haji, 2014).

د ټولنیزو رسنیو د نیټورک د ظرفیت څخه په استفادې کولای شو، چې خلک په ګروهي بڼه رهبري او انځور نمایي کړو، چې د مارکېټ خاوندانو ته دا اجازه ورکوي، چې یو داسې برنډ منځ ته راوړي، چې مخکې یې ساری نه وي لیدل شوی ( Okazaki and Taylor, 2013).

د پېرېدونکو سره د کامیابې اړیکې د جوړولو لپاره د مارکېټ خاوندان باید د پېرېدونکو ورځني ژوند ته په کتلو سره خپل کار مخ په داسې شکل مخ پر وړاندې بوځي، چې د وفادارۍ د اثبات وسیله وګرځي. په نن صبا وختونو کې پېرېدونکي د محصولاتو په اړه د هر ډول اړینو معلوماتو لپاره د انټرنیټ څخه ګټه اخلي. دغه انټرنیټي پروګرامونه پېرېدونکو ته د خپلو احساساتو، تجاربو او معلوماتو د شریکولو لپاره زمینه سازي کوي ( Caputo et al., 2108; Heinonen, 2011; Ramadani et al., 2013).

خلک دا توانایي هم لري، چې د خپلو تجاربو په شریکولو سره د یو محصول په اړه د خلکو په تصمیم نیونه اغېزه پیدا کړي. د ټولنیزو رسنیو څخه په مننې خلک کولای شي د خپلو تجاربو په نشرولو سره د نورو خلکو په تصمیم نیولو کې ونډه واخلي ( Evans, 2008). دغه انلاین ګټه اخیستونکي او څېړونکي د یو داسې وړتیا خاوندان دي، چې د یو بل سره په اړیکه کې دي او د یو محصول په اړه خپل معلومات شریکوي، چې د نورو پېرېدونکو په تصمیم نیولو باندې اغېزه لري، چې د یو محصول په رانیولو کې یې نیسي. ټولنیزي رسنۍ د خلکو په ژوند، کمپنۍ، تعلیمي ادارې، مارکېټینګ او اعلاناتو کې مهم رول لري ( Henning-Thurau et al., 2010).

دغه ټولنیزې رسنۍ د تجارانو سره د پېرېدونکو څخه په ګټه اخیستلو او جذبولو کې مرسته کوي. د خلکو سره د پېرېدلو په برخه کې د اړینو نظریاتو په رسولو سره مرسته کوي ( Parson, 2013).

تېرو لیکنو ته کتنه

دا چې ټولنیزې رسنۍ د تغیر په حال کې دي او په یو نوي میډیایي انقلابي حرکت بدل شوي دي. ټولنیزو رسنیو ته د نړیوال تعریف د پیداکولو لپاره په نړیواله سطحه څېړنې ترسره شوې دي ( Solis,

2010). ټولنیزې رسنۍ هغه اپلیکیشن دی، چې په انټرنیټ ولاړ او ګډونوال یې خپل تجارب، علم، نظریات او خپل لرلید د نورو سره شریکوي. دا هغه تعریف دی، چې کپلین او هینلین (۲۰۰۹) کړی دی.

ټولنیزې رسنۍ هغه مجموعه اپلیکیشنونو څخه عبارت دي، چې په انټرنیټ متکي او ۲,۰ ویب په ایډیالوجۍ او ټکنالوجۍ پر اساس منځ ته راغلي دي. د ګډونوالو سره د منځپانګې په جوړولو او شریکولو کې مرسته کوي (Kaplan & Haenlein, 2010). د کپلن او هینلین د کشفیاتو څخه یو دا هم دي، چې ټولنیزي رسنۍ د بیزنس او مشتریانو د نښلولو او د هغوی تر منځ د اړیکو جوړولو لپاره دي، چې د ټولنیزو رسنیو د ګټو څخه حسابېږي.

د مصرف کوونکو د چلند مطالعه ده، چې د افرادو، د خلکو د ډلې او اداراتو د موادو په اړه خپل تحقیق، انتخاب، پېرل او استعمال لپاره تر سره کوي، چې د هغوی د غوښتنو برابر وي ( Solomon et al, 2010). کنزیومر بیهویر د اغېزو او ادراک او د چاپېریالي پېښو متحرک متقابل عمل دی، چې له مخې یې انسانان د خپل ژوند د تبادلې اړخونه تنظیموي ( Bennett, 1989).

ټولنیزې رسنۍ د خلکو عادات، رویه او د ادراک قوه په هغه وخت کې د اغېزې لاندې راولي، کله چې مختلف ډول خلک د یو بل سره په اړیکه کې وي او معلومات شریکوي ( Williams & Cothrell, 2000; Hagel & Armstrong, 1997). لاروچ داسې وایي، چې افراد خوښوي، چې خپل نظرونه د نورو سره شریک، منځپانګه رامنځته او د مختلفو ټولنو سره اړیکه ونیسي، تر څو په ټولنیزه توګه د نورو سره اشنا شي او د دغه اشنایۍ څخه خوند اخلي.

د سوشل میډیا نیټورک سایټونه په نړیواله کچه د پرمختګ په حال کې دي، د مثال په ډول فیسبوک، چې د یو بیلیون څخه زیات فعال ګډونوالو لري، چې دغه ګډونوال یې د ۲۰۰۴م څخه د ۲۰۱۲م پورې پیدا کړي دي. د ټولنیزو او رسمي دوستانو نیټورک، چې د اړیکې د ټینګولو لپاره ترې نه ګټه اخیستل کیږي، د ټولنیز نیټورک په نوم یادیږي (Trusov et al., 2009).

په حقیقت کې ټولنیزو اړیکو د معلوماتو دا زمانه د معلوماتو د شریکولو له پلوه په انټرنیټ باندې ډېره پرمختللې کړې ده ( Akrimi & Khemakhem, 2012). د سوشل میډیا په شتون کې د مارکېټینګ اعلانات او پروموشن په لویه کچه بدلون موندلی دی (Hamna, Rohm, & Crittenden, 2011). ټولنیزو رسنیو د کینزیومر بیهویر په برخه کې هم ډېر بدلون راوستی دی، د اخیستلو څخه دمخه د

معلوماتو په لاس راوړلو توان او د پېرلو څخه وروسته تر د نظر وړاندې کولو توان هغه څه دي، چې د کنزیومر بیهیور په برخه کې یې بدلون راوستی دی. لکه څنګه، چې Kozinets ورته اشاره کړې ده، سوشل میډیا د معلوماتو د لاسته راوړلو په برخه کې د یو منبع په توګه پېژندل کېږي. دغه ټولې ټولنې د یو بل لپاره په حقیقي بڼه شتون لري او د یو بل په رویه ډېره اغېزه کوي، لکه د پېرېدلو رویه. د بروډې له نظره د ټولنیزو رسنیو په مرسته کمپنۍ غواړي، چې خپل مشتریان مصروف وساتي، د خلکو برداشت د خپل تولید په برخه کې وهڅوي، معلومات شریک کړي او د خپلو مشتریانو په اړه معلومات کړي. د ټولنیزو رسنیو وایرل هغه څه دي، چې نورې رسنۍ یې نه لري او د همدې خاصیت په درلودو سره یې لا قدرت زیات دی (Keller, 2009; Oliver, 1999). دوه ډوله ټولنیزي رسنۍ وجود لري؛ شرکتي جوړ شوي سوشل میډیا او د کاروونکي له خوا تولید شوې سوشل میډیا ( Godes & Mayzlin, 2009). شرکتي تولید شوې منځپانګه د کمپنۍ له لوري تولیدېږي او د word of mouth او electronic word of mouth باندې تمرکز کوي ( Balasubramanian & Mahajan, 2001; Chu & Kim, 2011).

له بله پلوه د اداري اقتصادي پرمختګ او ودې ته په کتو سره د کارکوونکو له خوا تولید شوې سوشل میډیا منځپانګه په ازاده بڼه تولید او لاسرسی ورته اسان دی (OECD, 2007). کمپنۍ کولای شي، چې د دغې منځپانګې څخه د مشتریانو د ټرینډ، تقاضا او علاقې معلوملو لپاره څېړنې وکړي ( Shenkan & Siche, 2007).

د Theory of Reasoned Action او value based adaption په څېړلو کې د سوشل میډیا په مورد کې د مشتریانو موجوده ارزښتونو، عادتونو او د پېرېدلو رویه څېړل کېږي ( Fishbein and Ajzen, 1975). د TRA له مخې د مشتریانو د پېرېدلو ارادې هغه میراثي عادات، عقاید او ورځني نورمونو څخه متاثره کېږي، چې د خپلو پخوانیو څخه ورته پاتې وي ( Fishbein and Ajzen, 1975). TRA یو داسې پراخه تیوري ده، چې یو خاص حالت د څېړلو ته نه محدودېږي او اساسي هدف یې د افرادو اخذ شوي ارزښتونو او رویې ارادو تر منځ اړیکه تشریح کول دي. سوشل میډیا کولای شي د مشتریانو برداشت د یو محصول په اړه تنظیم کړي (Alawan et al., 2017). په بله اصطلاح د مارکېټ خاوندان کولای شي، د مشتریانو سره د اړیکې نیولو لپاره د سوشل میډیا څخه استفاده وکړي.

خاصو مطالعاتو ښودلې ده، چې د مارکېټ خاوندان کولای شي د مشتريانو د پېرېدلو په رويه باندې د ټولنيزو رسنيو څخه استفاده وکړي.

**مواد او کړنلاره**

د دې څېړنې هدف دوه طرفه دی؛ اول د موجوده تجربوي څېړنو څخه د هغو فکتورونو څېړل کوم چې د مشتريانو د پېرېدلو رويه اغېزمنوي او دويم د هغو دلايلو څېړل، کوم چې د ټولنيزو رسنيو اغېزه د مشتريانو د پېرېدلو رويه اغېزمنوي. د استعمال شوې ميتودالوجۍ په اړه لاندې معلومات ورکړل شوي دي:

۳,۱ دغه څېړنه د هغو تجربوي څېړنو، چې په علمي ژورنالونو کې د ۲۰۱۰-۲۰۲۰م کال په دوران کې د ټولنيزو رسنيو اغېزه د مشتريانو د پېرېدلو رويه باندې يې اغېزه څېړلې ده، څېړل شوي دي. د ۲۰۱۰م کال د څېړنې د شروع وخت په توګه انتخاب شوي دي او د ۲۰۱۰-۲۰۲۰م کلونو دوره ځکه انتخاب شوې، چې د دغه دورې څخه وړاندې وخت کې د ټولنيزو رسنيو اغېزه د مشتريانو د پېرېدلو په رويه باندې په ادبي کتنه کې تشريح شوي دي. د ټولنيزو رسنيو او برقي خبرو په اړه څېړنه د هيننګ تيورو له خوا په کال ۲۰۰۴م کې د Journal of Interactive Marketing 18:38-52 او بله څېړنه د دولاکي له خوا په کال ۲۰۰۴م کې په international journal of research in marketing, 21(3), 24e263 کې خپاره شوي دي. د دغه برخې څېړنه به په تجربوي برخه کې توضيح شي. دغه څېړنه فقط د هغو فکتورونو، چې د مشتريانو پېرېدلو باندې سوشل ميډيا اغېزو ته لار برابروي، توضيح کېږي.

د Google scholar, Elsevier, Science Direct او Frances and Taylor ډيټابيس د څېړنو د اخيستلو لپاره ځکه انتخاب شوی، چې د ښه کيفيت څېړنې وڅېړل شي.

۳,۲. د مقالو انتخاب: د مقالو د انتخاب پروسه په لاندې توګه توضيح شوې ده.

۱,۱,۱. د انتخاب طرزالعمل

ټولنیزې رسنۍ د اړیکو په برخه کې د مختلفو طرزالعملونو لرونکي دي. دغه څېړنه د مشتریانو د خرڅلاو او حقیقي رویې باندې د ټولنیزو رسنیو اغېزه د مطالعې لاندې نیسي. د څېړنیزو مقالو د انتخاب لپاره لاندې طرزالعمل انتخاب شوی دی:

څېړنه باید د ۲۰۱۰-۲۰۲۰م کال په دوران کې لیکل شوې وي.

څېړنه باید د ټولنیزو رسنیو اغېزه د مشتریانو پېرلو، د پېرلو اراده او د پېرلو تصمیم په مورد کې مطالعه کړې وي.

**۲،۱،۱. د انتخاب پروسه**

په یوه داسې سیستماتیکه طریقه، چې په هغې کې مونږ د عنوان، سریزې او د Google scholar, Elsevier, Science Direct او Frances and Taylor ډېټابیس کې کلیدي کلمات سرچ کړل. کلیدي کلیمات عبارت وو له: social media along with buying behavior, consumer buying behavior, purchase behavior, purchase intention, consumer buying decision."

په همدغه سرچ کې مونږ ۱۰۳مقالې پیدا کړې، چې د ټولنیزو رسنیو اغېزه یې د مشتریانو د پېرلو رویې په اړه لیکل شوې وې. وروسته د کراس چیکنګ د دې لپاره ترسره شو، چې وکتل شي ایا ډېټا بیس هغه مقالې کومې، چې مونږ غواړو راکړې دي. فقط تجربوي څېړنې دي، چې مختلفې انګېزې، خنډونه او هغه فکتورونه، چې د پېرېدونکو رویې باندې د سوشل میډیا اغېزه معلوموي، څېړلي دي. د انتخاب په پروسه کې ۴۲ علمي مقالې حذف شوې او یو ځل بیا مو د هغو مقالو د پیدا کولو لپاره کراس چیکنګ ترسره کړ، چې د دغه موضوع اړوند نه وو. داسې کومه مقاله پیدا نه شوه او په اخر کې مو ٦١ علمي مقالې انتخاب او پروسې ته داخلې کړې.

د دغو څېړنو او د متحول خلاصه په اول جدول کې ځای پر ځای شوې ده. دا چې د انتخاب شویو څېړنو تعداد محدود دی، علت یې د هغو تجربوي څېړنو انتخاب دی، چې د ټولنیزو رسنیو اغېزه د پېرېدونکو د پېرلو رویې باندې څېړي. د تجربوي څېړنو د انتخاب یوازېنی علت دا دی، چې فقط د موضوع اړوند څېړنه په کې ترسره شوې وي. په همدې اساس دغه شان څېړنې د کنزیومر بیحیویر په اړه یو روښانه

تصویر په مختلفو ټولنو او فرهنګونو کې جوړوي. لومړیتوب هغو څېړنو ته ورکول شوی دی، چې په امریکا، اسیا، اروپا، افریقا او استرالیا کې ترسره شوي او وروسته موضوع په نړیوال شکل غوره کړي دي.

## ۱،۲. د تحلیل میتود

د ادبي کتنې د تحلیل لپاره د within-study and between the study method څخه ګټه اخیستل شوې ده. د (Kaushik and Rahman, 2014; salloum et al., 2011) له نظره، دواړه within او between طریقې د تحلیل لپاره اړینې دي. Elsevier, Science Direct او Frances and Taylor

ډیټابیس د دې لپاره انتخاب شوی دی، چې هغه مقالې لاس ته راوړو، چې مکمل متن یې شتون ولري. د دغو څېړنو د مکمل متن ټولې برخې وڅېړل شوې. د between study میتود څخه د دوو څېړنو تر منځ پرتلیزه څېړنه وشوه، تر څو مشابهتونه او تفاوتونه پیدا کړو.
جدول ۱: د څېړنو لیست: ټولنیزې رسنۍ د پېرېدونکو په اخیستلو، ارادې او تصمیم نیولو رویې باندې اغېزه کوي.

| *S. no* | *Year* | *Authors* | *Dependent Variables* | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | *Purchase/buying behavior* | *Purchase/ buying intention* | *Purchase/ buying decision* |
| 1 | 2010 | Prendergast et al. | | √ | |
| 2 | 2011 | Power and PhillipsWren | | | √ |
| 3 | 2011 | Schivinski | | √ | |
| 4 | 2013 | Kamal et al. | | √ | |
| 5 | 2013 | Vinerean et al. | √ | √ | |
| 6 | 2013 | Hutter et al. | | √ | |
| 7 | 2013 | Sandes and Urdan | √ | | |
| 8 | 2014 | Dhar and Jha | √ | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 9 | 2014 | Hajli | | √ | |
| 10 | 2014 | Rehman et al. | √ | | |
| 11 | 2014 | Richard and Guppy | | √ | |
| 12 | 2014 | Gul et al. | √ | | |
| 13 | 2014 | Park et al. | | √ | |
| 14 | 2015 | Gunawan and Huang | | √ | |
| 15 | 2015 | Soewandi | | √ | |
| 16 | 2015 | Xie and Lee | | | √ |
| 17 | 2015 | Dehghani and Tumer | | √ | |
| 18 | 2015 | Kim et al. | | √ | |
| 19 | 2016 | Dutta and Bhat | | √ | |
| 20 | 2016 | Zhu et al. | | √ | |
| 21 | 2016 | Ertemel and Ammoura | | | √ |
| 22 | 2016 | Khatib | | | √ |
| 23 | 2016 | Erkan and Evans | | √ | |
| 24 | 2016 | Tamam et al. | | √ | |
| 25 | 2017 | Wang | √ | | |
| 26 | 2017 | Prasad et al. | | | √ |
| 27 | 2017 | Permatasari and Kuswadi | | √ | |
| 28 | 2017 | Gautam and Sharma | | √ | |
| 29 | 2017 | Shang et al. | | √ | |
| 30 | 2018 | He and Qu | | √ | |
| 31 | 2018 | Duan and Dholakia | √ | | |
| 32 | 2018 | Morra et al. | | √ | |
| 33 | 2018 | Sharma and Bhatt | √ | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 34 | 2018 | Martín-Consuegra et al. | | √ | |
| 35 | 2018 | Bigne et al. | √ | | |
| 36 | 2019 | Almohaimmeed | | √ | |
| 37 | 2019 | POTURAK and SOFTIC | | √ | |
| 38 | 2019 | Hermanda et al. | | √ | |
| 39 | 2019 | Nurhandayani et al. | | √ | |
| 40 | 2019 | Ansari et al. | | | √ |
| 41 | 2019 | Ringim and Reni | √ | | |
| 42 | 2019 | Xhema | √ | | |
| 43 | 2019 | Yoong and Lian | | √ | |
| 44 | 2019 | Byrum | | | √ |
| 45 | 2019 | Galdeano et al. | | √ | |
| 46 | 2019 | Ceyhan | | √ | |
| 47 | 2020 | Palalic et al. | √ | | |
| 48 | 2020 | Donnellan et al. | √ | | |
| 49 | 2020 | Moslehpour et al. | | √ | |
| 50 | 2020 | Al Amin et al. | √ | | |
| 51 | 2020 | Mayrhofer et al. | | √ | |
| 52 | 2020 | Pop et al. | | √ | |
| 53 | 2020 | Febriyantoro | | √ | |
| 54 | 2020 | Lin et al. | | √ | |
| 55 | 2020 | Matin et al. | | √ | |
| 56 | 2020 | Saima and Khan | | √ | |
| 57 | 2020 | Zhao et al. | | √ | |
| 58 | 2020 | Copeland and Zhao | | √ | |
| 59 | 2020 | Hasan and Sohail | | | √ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 60 | 2020 | Riaz et al. | | | √ |
| 61 | 2021 | Park et al. | | √ | |

**پایله**

**د دغه ٦١ څېړنیزو مقالو مطالعې، چې د ټولنیزو رسنیو او د پېرېدونکو د پېرلو رویې په اړه لیکل شوي، وښودله چې بعضې یې نه شي کولای هغه فکتورونه، چې د ټولنیزو رسنیو اغېزه د پېرلو په رویه ده، معلومه کړي. مشخص مشکل د مستقل او وابسته متحولینو تعریف او تعینول وو، چې په دغه څېړنو کې شوي دي. لومړنی وابسته متحولین عبارت دي د رانیولو رویه، د ګټه اخیستونکي د پېرلو اراده، د ګټه اخیستونکي تصمیم نیول او پېرلو پروسه ده. ډېری د ټولنیزو رسنیو هغه فکتورونه، چې د ګټه اخیستونکو د رانېولو رویه، اراده او تصمیم نیولو اړوند دي، مستقل متحولین دي، چې د ګټه اخیستونکو د پېرلو رویه اغېزمنه وي، په ۲، ۳ او ۴ جدول کې لیست شوي دي. د دې جدولونو لومړی کالم یې د ټولنیزو رسنیو هغه ابعاد، چې د ګټه اخیستونکو د پېرلو رویه، اراده او تصمیم اغېزمنوي، ښایي. بل کالم یې د مستقلو او وابسته متحولینو تر منځ اړیکه ښایي. وروستي دوه کالمونه د هغو څېړنو تعداد دی، چې په اول جدول کې ذکر شوي او بحث پرې شوی دی. لیکوالانو دغه فکتورونه په نورو**

**برخو تقسیم کړي دي، لکه چلند، eWOM، د ټولنیزو رسنیو مارکېټینګ، ټولنیزې اړیکې، ادراکي خطر، ارزښتونه، مفیدیت، کیفیت، شرکتي تولید شوې منځپانګه، د ګټه اخیستونکو له لوري تولید شوې منځپانګه، د سرچینې اعتبار، د برنډ تصویر، د برنډ اګاهي او تفریحي. دا هغه فکتورونه دي، چې د ګټه اخیستونکو رویه د مختلفو اړخونو څخه متاثره کوي.**

**۴,۱. Electronic word of mouth/ WOM**

لکه څنګه چې په ۲،۳ او ۴،۷ جدول کې ښکارې، eWOM د ګټه اخیستونکو په اراده اغېزه لري (Erkan and Evan, 2016; Gautam and Sharma, 2017; Poturak and Softic, 2019; Tsai and Bui, 2020; Zhao et al., 2020; Park et al., 2021; Prendergast et al., 2010). یوې څېړنې وښودله، چې eWOM د مشتریانو د اخیستلو په رویه مثبته او منفي اغېزه کوي (Sandes and Urdan, 2013). بلې څېړنیزې مقالې داسې وښودله، چې eWOM د مشتریانو د پېرلو په اراده مثبته او منفي اغېزه لري ( Hutter et al., 2013). (2020) ,.Palalic et al وایي، چې eWOM د مشتریانو د پېرلو په رویه باندې زیاته اغېزه کوي. (2017) ,.Parasad et al توضیح ورکوي، چې eWOM د ګټه اخیستونکو په تصمیم مثبته اغېزه لري.

### ۴،۲. د ټولنیزو رسنیو مارکېټینګ

لکه څرنګه چې په ۲، ۳ او ۴، ۳ جدول کې ښکاري، ټولنیزو رسنیو مارکېټینګ د مشتریانو د پېرلو په ارادې خورا زیاته اغېزه لري (Amohaimeed, 2019; Moslehpour et al., 2020). Saima and Khan, 2020). (2013 .Vinerean et له نظره د ټولنیزو رسنیو مارکېټینګ د مشتریانو د پېرلو په رویه مثبته اغېزه کوي. بلې څېړنې وښودله، چې د ټولنیزو رسنیو مارکېټینګ د مشتریانو د پېرلو په رویه، د مشتریانو د پېرلو په اراده او د مشتریانو د پېرلو په تصمیم مثبته اغېزه لري.

### ۴،۳. چلند/ Attitude

چلند هغه متحول و، چې تر ټولو زیاته څېړنه په کې تر سره شوې ( جدول ۲، ۳)، ٦ څېړنو وښودله، چې چلند د ګټه اخیستونکو د پېرلو په اراده مهمه مثبته اغېزه لري ( Prendergast et al., 2010; Kamal et al., 2013; Gunawan and Huarng, 2015; Dutta and Bhat, 2016; Pop et al., 2020; Lin et al., 2020). ۲ څېړنو وښودله، چې د معلوماتو او برنډ پر وړاندې چلند په زیاته اندازه د ګټه اخیستونکو د پېرلو رویه تر اغېزې لاندې راولي ( Erkan and Evan, 2016; He and Qu, 2018). ۳ څېړنو وښودله، چې چلند د ګټه اخیستونکو د پېرلو رویه په مثبته توګه تر اغېزې لاندې راولي (Dhar and Jha, 2014; Bigne et al., 2018; Ringim and Reni, 2019). نو اوس پوهېږو، چې چلند د استعمال کوونکي د پېرلو رویه او د ګټه اخیستونکي د اخیستلو اراده په مثبته توګه د اغېزې لاندې راولي.

### ۴،۴. رسنیزې تفریح/ Media entertainment

لکه څرنګه چې په ۳ او ۴ جدول کې ښکاري، ۴ څېړنې ښايي، چې رسنيزې تفريح/ Media entertainment په خورا زياته کچه د ګټه اخيستونکو د پېرلو اراده د اغېزې لاندې راولي Gautam and Sharma, 2017; Moslehpour et al., 2020; Tsai and Bui, 2020; ) Saima and Khan, 2020). يوې بلې څېړنې وښودله، چې رسنيزې تفريح/ Media entertainment د ګټه اخيستونکي د تقاضا معلومولو سټېج د تصميم نيولو په پروسه کې تر اغېزې لاندې راولي ( Khatib, 2016).

۴,۵. ټولنيزې اړيکې، د ټولنيزو رسنيو استعمال او ټولنيز نيټورک

لکه څرنګه چې په ۲،۳ او ۴،۵ جدول کې معلومېږي، څېړنې ښايي چې د ګټه اخيستونکو د پېرلو تصميم، د ګټه اخيستونکو د پېرلو رويه او د ګټه اخيستونکو د پېرلو اراده د ټولنيزو اړيکو له پلوه مثبته اغېزمنېږي ( Gul et al.,2014; Gautam and Sharma, 2017; Yoong and Lian, 2019; Moslehpour et al., 2020; Hasan and Sohail, 2020). ( Khatib, 2016) وايي، چې د ټولنيزو رسنيو استعمال او اړيکې د ګټه اخيستونکو د پېرلو په تصميم مثبته اغېزه لري. دوه څېړنو وښودله، چې د ګټه اخيستونکو د پېرلو اراده د ټولنيزو رسنيو د استعمال په
واسطه په لوړه کچه د اغېزې لاندې راځي ( Copeland and Zhao, 2020; Kamal et al., 2013). بلې څېړنې وښودله، چې د ټولنيزو نيټورکونو څخه ګټه اخيستل د ګټه اخيستونکو د پېرلو په رويه په لوړه کچه اغېزه لري ( Xhema, 2019).

۴,۶. فيشن او ټرينډ طلب / trend or fashion and trend seeking

د ۲ او ۳ جدول له مخې دوه څېړنو وښودله، چې ټرينډ د ګټه اخيستونکو د پېرلو او ارادې رويه تر اغېزې لاندې راولي (Gul et Gautam and Sharma al., 2014; 2017). Matin et al (2020) وايي، چې فيشن او ټرينډ سيکينګ د ګټه اخيستونکو د پېرلو په اراده ښه اغېزه لري.

۴,۷. ادراکي ګټورتيا

